د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه ییز مطالعات

## فصلنامه مـرکز مطالعات منطقه‌یی افغانستان

د افغانستان بېطرفه بهرنی سیاست
(ځانګړې ګڼه)



۳-۴


- دوره: اول
- سال: ۱۴۰۳ هـ.ش
- ربع: ۱ - ۲
- شماره مسلسل: ۷۴ -۷۵
- سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
- کابل - افغانستان


پـه دې ګڼه کې:

- د ملي ګټو په چوکاټ کې د بېطرفه...
- ظرفیت ها و الزامات افغانستان برای...
- د افغانستان جیوپولټیک موقعیت او...
- د لومړی او دویمې نړیوالي جګړې پر مهال...
- او...

سیمه ییز مطالعات
شماره: ۷۴ -۷۵ ، سال ۱۴۰۳ هـ.ش

# REGIONAL STUDIES
## Quarterly Journal

Establishment: 2006
Academic Publication
Afghanistan Science Academy
Serial No: 74-75

Address:
Afghanistan Science Academy
Sherpoor Square, Kabul-Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه‌ییز مطالعات

(د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست په اړه ځانګړې ګڼه)
(لومړۍ برخه)

**مجلهٔ علمی- تحقیقی**

مطالعات سیاسی، اقتصادی و فرهنگی منطقه‌یی، معرفی، بررسی و تحلیل سازمان‌ها، کنفرانس‌ها و نهادهای منطقه‌یی

د تأسیس کال: ۱۳۸۵ ل

پرله پسې شمېره: ۷۴- ۷۵ (۱۴۰۳ ل)

**یاداشت:**

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبهٔ علمی، نمبر تیلفون و ایمیل آدرس نویسنده به ادارهٔ اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالهٔ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدهٔ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نگردیده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصه و حداقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، گویای اصلی پرسشی باشد، که مقاله در پی پاسخ‌دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان‌های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، اهمیت، مبرمیت، هدف، سوال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان و تسلسل منطقی موضوعات در یک روی صفحهٔ کاغذ A4 در برنامهٔ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵ صفحه معیاری بوده، با فونت سایز ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single ) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت‌تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را بادرنظرداشت لایحهٔ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل‌ها و اندیشه‌های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می‌تواند.
- مقالهٔ وارده دوباره مسترد نمی‌گردد.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر:** څېړندوی بشرمل زرغون

**مهتمم:** عبدالرحمن رسولي

**کتنپلاوي:**

څېړنوال دکتور رفیع‌الله نیازی

څېړنوال عبدالشکور سالنګی

څېړنوال عبدالصبور مبارز

څېړندوی عمران زکریا

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د شېرپور ځلور لارې، شهر نو، کابل.

**مطبعه:**

د اړیکو شمېرې:

+۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹۹۳-+۹۳۷٦٦۱۱۰۰۰۸

**د افغانستان د علومو اکاډمي برېښنلیک:** Info@asa.gov.af

**د مجلې برېښنلیک:** rsc@asa.gov.afg

**د کالنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایتونو کې: ۳۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ۲۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمي د څېړونکو او استاذانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ

| سرلیک | ل/ژ | مخ |
|---|---|---|
| ۱- د مرکز یادښت | دوکتور څېړنپوه عبدالظاهر شکیب | ۱ |
| ۲- د ملي ګټو په چوکاټ کې د بېطرفه... | څېړنوال عبدالصبور مبارز | ۳ |
| ۳- ظرفیت‌ها و الزامات افغانستان برای... | معاون سرمحقق عبدالشکور سالنگی | ۳۳ |
| ۴- د افغانستان جیوپولټیک موقعیت او... | څېړندوی عمران زکریا | ۴۹ |
| ۵- د بېطرفه بهرني سیاست تیورکي څېړنه | معاون سرمحقق ضیاالحق ضیا | ۷۳ |
| ٦- د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پرمهال... | څېړندوی جلاالدین نجیم | ۱۰۳ |
| ۷- په سیمه ییزو شخړو کې د افغانستان د... | څېړندوی احسان الله احسان | ۱۲۷ |
| ۸- د سړې جګړې پر مهال د افغانستان د... | څېړندوی عاشق الله اخلاص یار | ۱۵۱ |
| ۹- مقایسه استراتیژی بیطرفی و عدم تعهد | معاون سرمحقق راضیه غوث | ۱٦۷ |

# د مرکز یادښت

د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز د افغانستان د علومو اکاډمي په اډانه کې د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان د سیاسي، اقتصادي، کلتوري او تاریخي اړیکو او د دغه هېواد د بهرني سیاست اړوند مهمو مسئلو په برخو کې د هېواد د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره د یوه علمي ـ څېړنیز مرکز په توګه فعالیت کوي، د یاد مرکز څېړونکي په سیمه کې د افغانستان د جیوپولیټیک او جیواکانومیک موقعیت په پام کې نیولو د سیمې له هېوادونو سره د دې هېواد د اړیکو په اړه څېړنې تر سره کوي او پایلې یې د وړاندیزونو او حللارو په بڼه د علومو اکاډمي د مرکزي ښوونې له لارې د هېواد د بهرنیو چارو له دستګاه، لوړو زده کړو وزارت او د نورو اړوندو ارګانونو په واک کې ورکوي، همدغو مسایلو ته په کتو دا ځل د یاد مرکز علمي غړو د علومو اکاډمي د علامه احمدعلي کهزاد د غونډو په تالار کې د (**د افغانستان د ناپېیلي بهرني سیاست ګټې**) تر سرلیک لاندې علمي ـ څېړنیز سیمینار جوړ کړی و چې په ترڅ کې یې د افغانستان د اسلامي امارت د چارواکو د ویناو او پیغامونو تر څنګ د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز د غړو او د هېواد له لر او بر څخه څېړونکو او د پوهنتون استادانو علمي ـ څېړنیزې مقالې پکې ولوستې.

له دویمي نړیوالې جګړې وروسته د نړۍ د دوو سترو ځواکونو (شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو) ترمنځ سړه جګړه پیل شوه، په دې سره ډېرو هېوادونو د خپلو ګټو په نظر کې نیولو له دوی سره په دې برخه کې اتحادونو ته مخه کړه؛ خو داسې نور هېوادونه هم وو چې خپلې ګټې یې له دې هېوادونو سره په اتحادونو کې نه لیدې او هماغه و چې په خپلو بهرنیو سیاستونو کې یې ناپېلتوب غوره کړ، د ناپېیلتوب کلمه د سړې جګړې پر مهال د هغو هېوادونو له لوري مطرح شوه چې نه یې غوښتل په دې جګړه کې له لوېدیځ او ختیځ بلاک سره یوځای شي، دا هېوادونه د مصر د واکمن جمال عبدالناصر، د اندونیزیا د ولسمشر احمد سوکارنو، د یوګوسلاویا د مشر مارشال تیټو او د هند د لومړي وزیر جواهر لعل نهرو په نوښت په ۱۹۵۵ ز. کال کې د باندونګ په کنفرانس کې د دې غورځنګ پر رامنځته کولو بریالي شول، د دې غورځنګ لومړۍ رسمي غونډه د ۱۹۶۱ کال په ډسمبر کې د یوګسلاویا په پلازمېنه کې وشوه چې د افغان حکومت استازي هم برخه پکې اخیستې وه؛ نو له همدې امله افغانستان هم د دې غورځنګ له بنسټ اېښودونکو څخه ګڼل کېږي.

د افغانستان بهرنی سیاست په بېلابېلو تاریخي پړاوونو کې ډول ډول تعقیب شوی دی، د بېلګې په توګه له خپلواکۍ وړاندې د روسانو او انګرېزانو تر اغېز لاندې و او د دغو هېوادونو سیاستونو د افغانستان بهرني سیاست ته لوری ورکاوه، د لومړۍ نړیوالې جګړې پرمهال افغان واکمن امیر حبیب الله خان د بې طرفۍ سیاست غوره کړ، له خپلواکۍ وروسته غازي امان الله خان پر دې وتوانېد چې له روسانو او انګرېزانو سره په اړیکو کې توازن رامنځته او له فرصتونو ګټه پورته کړي، د دویمي نړیوالې جګړې پر مهال افغان حکومت وکولای شول چې د بېطرفۍ سیاست اعلان او ویې ساتي، د دې

جګړې تر پای ته رسېدو او له بریتانوي هند څخه د هند د خپلواکۍ وروسته د افغانستان په ګاونډ کې د پاکستان په نوم نوی هېواد رامنځته شو چې له هماغه مهاله راپه دېخوا له افغانستان سره سرحدي اختلافات لري، د محمدداود خان واک ته په رسېدو د افغان حکومت په بهرني سیاست کې د پښتونستان داعیه اساسي بحث و، هماغه چې د امریکا متحده ایالاتو د پاکستان له امله افغانستان ته شا کړه او افغانستان اړ شو چې شوروي اتحاد ته په نږدې کېدو او د ناپېیلتوب په غورځنګ کې د ګډېدو له لارې دا تشه جبران کړي، له داودخان وروسته د کمونېستانو په واک ته رسېدو د افغانستان بهرنی سیاست د شوروي اتحاد تر اغېز لاندې و.

دا چې افغانستان د درېو مهمو سیمو (مرکزي اسیا، منځنۍ ختیځ او جنوبي اسیا) ترمنځ پروت دی؛ نو د دغو سیمو هر سیال هېواد په افغانستان کې د نیابتي جګړې تګلاره خپله کړې او دلته یې د ناورینونو د رامنځته کولو هڅې کړې دي، د بېلګې په توګه د سړې جګړې پر مهال د شوروي اتحاد او متحده ایالاتو ترمنځ سیالۍ د یادولو وړ دي.

دا چې د اسلامي امارت په بیا واکمنۍ سره افغان مشرانو د افغانستان بهرنی سیاست متوازنه، بې طرفه او اقتصاد محوره اعلان کړی او په وار وار یې په ډاګه کړې چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې او د متقابل احترام پر اساس دوه اړخیزې اړیکې غواړي؛ نو له همدې امله دا سیمینار په پام کې نیول شوی و چې موخه یې د ناپېیلي بهرني سیاست د ګټو څېړل و، له بل پلوه پر دې موضوع د یوه علمي ـ څېړنیز سیمینار دایرول له دې اړخه هم مهم و چې افغانستان دا مهال په داسې دریځ کې دی چې بیارغونې ته اړتیا او له کوم هېواد سره د بل پر وړاندې یوځای کېدل نه غواړي؛ نو ویلای شو چې د دا ډول علمي ـ څېړنیزو سیمینارونو دایرول او د پوهانو د نظرونو او څېړنو وړاندې کول افغانستان ته دا فرصت په لاس ورکوي چې په نړۍ او سیمه کې د سیالو لوبغاړو له ټکرونو څخه ځان وژغوري.

په پای کې د دغه علمي ـ څېړنیز سیمینار د جوړېدو له امله د افغانستان د اسلامي امارت له مشرانو، د سیمینار د تدویر د کمیسیون او کمېټو له غړو او ټولو هغو کسانو مننه کوم چې د یاد سیمنار په اړه یې له هرې لارې مرسته او همکاري کړې ده.

**څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکیب**

**د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز رئیس**

څېړنوال عبدالصبور مبارز

# د ملي ګټو په چوکاټ کې د بېطرفه بهرني سیاست ارزونه

## د افغانستان په اړه ځانګړې مطالعه


### لنډیز

د ملي ګټو په تعریف کې اختلاف دی او ستر لامل یې د هېوادونو د ملي ګټو توپیرونه دي، ریالیستان ملي ګټې په قدرت تعریفوي او ځینې پوهان یې د ملت بنسټیزې اړتیاوې او غوښتنې ګڼي، بېطرفي د نورو هېوادونو ترمنځ په جګړو کې طرف نه نیول او په نظامي ایتلافونو کې نه ګډون ته ویل کېږي، بېطرفي بېلابېل ډولونه لري چې لنډمهاله او همېشنۍ بېطرفي یې مشهور دي، افغانستان اوس لیکلې ملي ګټې نه لري او نوی اساسي قانون هم نه دی رامنځته شوی چې په هغې کې د ملي ګټو بنسټیز موضوعات ځای پرځای شوي وي، په ۲۰۲۱ز. کې د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې اسلامي نظام رامنځته شوی او د دغه نظام په چوکاټ کې ملي ګټې پر اسلامي مصالحو تعریفېږي.

په دې مقاله کې لومړی د بېلابېلو سرچینو او اسلامي مصالحو له مطالعې وروسته د افغانستان لپاره ملي  ګټې لیکل شوي او بیا د همدغو ملي ګټو په چوکاټ کې د افغانستان لپاره بېطرفي څېړل شوې او اسلامي امارت ته د بېطرفۍ ځانګړی ډول وړاندیز شوی دی.


### سریزه

ملي ګټې عمومي ماهیت لري او په ټول ولس پورې اړه لري، د ملي ګټو د تشخیص او تعریف په اړه د سیاسي علومو او بهرني سیاست پوهانو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی، ځینې یې د ولس حیاتي اړتیاوې ګڼي، ځینې یې ټولنیزه سوکالي او ځینې یې بیا ملي واکمني د ملي ګټو پر عنوان تعریفوي. د ملي ګټو د تعریف په اړه د نظر د اختلاف لامل د هېوادونو د ګټو بېلوالی دی، یعنې هر هېواد د خپل جغرافیایي موقعیت، سیاسي، اقتصادي او نظامي قدرت ته په کتو د خپل ولس او هېواد لپاره ملي ګټې تعریفوي؛ نو یو واحد تعریف کېدای شي د ځینو هېوادونو د ملي ګټو له تعریف سره په ټکر کې شي. ملي ګټې باید په لیکلې بڼه موجودې وي تر څو د بهرنۍ پالیسۍ جوړوونکي له ګډوډۍ سره مخامخ نشي او د خپلسرۍ مخنیوی وشي، ځکه همدا ملي ګټې دي چې په رڼا کې یې د یوه هېواد بهرنۍ سیاست ترتیبېږي.

بېطرفي اوږده مخینه لري او د تاریخ په اوږدو کې په بېلابېلو بڼو راڅرګنده شوې ده. په پخواني یونان کې د میلوس په نوم یوه جزیره وه چې خلکو ته یې میلینس ویل کېدل، کله چې په ۴۱٦ قبل المیلاد کې د اتن او سپارت ترمنځ جګړه ونښته، نو د دغې جزیرې خلکو په جګړه کې بېطرفي اعلان کړه[1]، چې دا پېښه د بېطرفۍ پر اوږدې مخینې دلالت کوي، خو بېطرفي هغه مهال په اصولي ډول مطرح شوه کله چې د وستفالیا له تړون وروسته خپلواک دولتونه رامنځته شول او بیا وروسته په عملي ډول پر ۱۷۹۳ز. کال د اپریل پر ۲۲مه نېټه د امریکا متحده ایالاتو مشر جورج واشنګټن په اروپایي شخړو او په ځانګړي ډول د فرانسې او برتانیې ترمنځ جګړه کې د یوې اعلامیې په خپرولو سره بېطرفي اعلان کړه. د بېطرفۍ مفهوم هغه مهال لا پرمختګ وکړ کله چې په ۱۸۱۴ز. کال د ویانا کنګره دایره شوه او د دې کنګرې له لارې سویس ته دایمي بېطرفي ورکړل شوه. په ۱۸۹۹ز. کال او ۱۹۰۷ز. کال کې د جنګ پرمهال د بېطرفۍ په اړه د هېګ کنوانسیونونه (The Hague Conventions) رامنځته شول او د دې کنوانسیونونو له لارې بېطرفۍ حقوقي چوکاټ خپل کړ او د نړیوالو حقوقو برخه شوه.

په افغانستان کې هم د تاریخ په اوږدو کې بېلابېلو حکومتونو د افغانستان جیوپولټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت، حالاتو او شرایطو ته په کتو د دغه هېواد لپاره بهرنی سیاست ترتیب کړی دی، دغه هېواد په لومړۍ نړیواله جګړه کې چې امیرحبیب الله خان واکمن و او په دویمه نړیواله جګړه کې چې محمدظاهر پاچا و، بېطرفي منلې او اعلان کړې ده چې بیا د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال دغه بېطرفي نقض شوه او افغان حکومت له نظامي اړخه د شوروي اتحاد متحد شو، په تېر شل کلن جمهوریت کې هم افغانستان له ناټو بهر د امریکا متحده ایالاتو نظامي متحد و او ویلای شو چې په دغه دوره کې افغانستان بېطرفه نه و.

**د څېړنې مبرمیت**: په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت په راتګ سره افغان حکومت خپل بهرنی سیاست بېطرفه اعلان کړی؛ خو دا چې دغه بهرنی سیاست د بېطرفۍ کوم ډول دی؟ او اسلامي امارت ته کوم ډول بېطرفي پکار ده؟؛ نو اړتیا ده چې پر دغې موضوع څېړنه وشي.

**د څېړنې موخه**: د افغانستان لپاره د ملي ګټو یو چوکاټ ترتیبول او بیا د همدغه چوکاټ په رڼا کې د افغانستان لپاره د بېطرفۍ د داسې یو ډول مشخصول دي چې د یاد هېواد په ګټه وي.

**د څېړنې پوښتنه**: په یاده څېړنه کې یوه پوښتنه مطرح شوې چې د ملي ګټو په چوکاټ کې د افغانستان لپاره په اوسنیو شرایطو کې کوم ډول بېطرفي ګټوره ده؟

**د څېړنې فرضیه**: د څېړنې په فرضیه کې ویلای شو چې افغانستان د ملي ګټو په چوکاټ کې د دغه هېواد لپاره همېشنۍ بېطرفي ګټوره نه ده.

**د څېړنې مېتود**: په یاده څېړنه کې له تحلیلي – تشریحي مېتوده ګټه اخیستل شوې ده.

## د ملي ګټو پېژندنه

د ملي ګټو لپاره یو ځانګړی تعریف کول ستونزمن دی او لامل یې د هېوادونو د ګټو بېلوالی دی، هغه هېوادونه چې له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا دي؛ هغوی ملي ګټې د قدرت په لاسته راوړلو تعریفوي او هغه هېوادونه چې له اقتصادي پلوه کمزوري دي؛ هغوی بیا ملي ګټې له اقتصادي پلوه تعریفوي، بل لامل یې د ملي ګټو نه ثابتوالی دی؛ یعنې د هر هېواد ملي ګټې د وخت په تېرېدو کېدای شي بدلون ومومي، د بېلګې په ډول له ۲۰۲۲ز. نه مخکې د سویډن ملي ګټې په بېطرفۍ کې نغښتې وې؛ خو له دغه کال وروسته یې د ناټو غړیتوب ته غوښتنلیک وړاندې کړ چې ورسره عملاً یې بېطرفي پای ته ورسېده[۲].

او اوس یې ملي ګټې په دفاعي او نظامي ایتلاف کې نغښتې دي، یعنې د هر هېواد ملي ګټې د وخت په تېرېدو بدلون مومي؛ نو ځکه نه شو کولای چې د ملي ګټو لپاره یو مشخص تعریف وړاندې کړو؛ خو بیا هم هڅه کوو چې د ځینو پوهانو له نظره ملي ګټې تعریف کړو.

مورګېنتو (Hans Joachim Morgenthau) وایي: د ژوندي پاتې کېدو او یا د یو هېواد د لاسوهنو پر وړاندې د فزیکي، سیاسي او فرهنګي هویت ساتلو ته ملي ګټې وایي.[۳]

چارلېس لارچي(Charles Lerche) د ملي ګټو په تعریف کې وایي: ملي ګټې عمومي، اوږدمهاله او همېشنۍ موخې دي چې ملت، دولت او حکومت د هغې په خدمت کې وي او د لاسته راوړلو لپاره یې کاروي.

بروکېنګ امریکایي انسټیټوټ (The Brookings Institute) بیا ملي ګټې داسې تعریف کړي دي: ملي ګټې هغه څه دي چې ملت یې د خپل امنیت او هوساینې لپاره اړینې بولي.[٤]

د پاکستان د ملي دفاع پوهنتون ( National Defense University (NDU) Islamabad, Pakistan) وايي: ملي ګټې د ملت تر ټولو مهمې غوښتنې او اړتیاوې دي.[5]

قدرتمن نظروال(تیوریستان) او ریالیستان په ځانګړي ډول مورګېنتو د ملي ګټو او قدرت ترمنځ په توپیر قایل نه دي، دوی وايي چې په نړیوالو اړیکو کې دا دواړه (ملي ګټې او قدرت) د یوې سیکې دوه مخه دي، مورګېنتو ملي ګټې پر قدرت تعریفوي چې دولت یې د لاسته راوړلو په اړه باید فکر او عمل وکړي، همدارنګه دوی وايي چې ملي ګټې د قدرت له زیاتوالي څخه عبارت دي.[6]

له پورتنیو تعریفونو وروسته د یو جامع تعریف په توګه ویلای شو چې ملي ګټې له هغو مادي او معنوي ارزښتونو څخه عبارت دي چې د یو ملت وګړي د هغه په وړاندې د تعلق، تړاو، مالکیت او مسؤلیت احساس وکړي، د نورو له تصرفه د ساتنې په موخه عکس العمل ښیي او د هر ډول لګښتونو ترسره کولو ته حاضر وي.

**د ملي ګټو د لیکلو اهمیت**

په څرګند ډول د ملي ګټو لیکل او د هغې روښانه کول د یو هېواد لپاره له څو اړخونو اهمیت لري:

۱- د ملي ګټو لیکلی سند د داخلي او بهرنۍ پالیسۍ لیکوونکو او پلي کوونکو لپاره یو څرګند لارښود دی چې دوی له بې لارۍ ژغوري او د لومړیتوبونو په ټاکلو کې ورسره مرسته کوي.

۲- لیکلې ملي ګټې سیاسیون منظموي او هغوی له خپلسرۍ او مطلقې خپلواکۍ څخه راګرځوي، ځکه حکومتي چارواکي او سیاسیون مکلف دي چې لیکلې ملي ګټې تعقیب کړي او د همدغو ګټو په رڼا کې حکومتي نظام وچلوي.

۳- لیکلې ملي ګټې وګړو، مدني ټولنو او رسنیو لپاره څرګند معیارونه وضع کوي چې له یوې خوا دوی د ملي ګټو ضد عمل و نه کړي او له بلې خوا د بهرني سیاست پلي کوونکي او حکومتي چارواکي تر څارنې لاندې ونیسي چې هغوی هم د ملي ګټو خلاف عمل و نه کړي.

۴- همدارنګه لیکلې ملي ګټې بهرنیو هېوادونو ته د خپلو سرو کرښو روښانول او هغوی پوهول دي چې پر دغو سرو کرښو تېری و نه کړي.[7]

## د ملي ګټو ډولونه

ملي ګټې د بېلابېلو پوهانو له لوري په مختلفو ډولونو وېشل شوې دي چې په عمومي ډول کېدای شي ملي ګټې په درېو برخو کې رالنډې کړو:

**۱- حیاتي ملي ګټې** (core or vital national interest): د امریکایي لیکوال فرېډرېک هرټمن ( Frederick H. Hartmann ) له نظره حیاتي ملي ګټې هغه دي چې یو دولت له هغې څخه د دفاع یا لاسته راوړلو لپاره جنګ هم کوي، لاندې موارد په دې ګټو کې راځي:

**الف-** ځمکنۍ بشپړتیا او د هوایي، سمندري او ځمکني قلمرو ساتنه او دفاع.

**ب-** د ولس هوساینه.

**ج-** ایډیالوژیکي ګټې لکه د سرې جګړې پر مهال د شوروي اتحاد لپاره کمونیزم، د امریکا متحده ایالاتو لپاره لیبرال ډیموکراسي او یا اوس د اسلامي هېوادونو لپاره اسلامي شعایر او اسلامي ګټې.

**د-** سیاسي کلتور لکه د امریکا متحده ایالاتو او انګلستان لپاره د هغوی پارلماني او ریاستي رژیمونه او ډیموکراسي سیاسي کلتور دی یا د سعودي عربستان، متحده عربي امارت او ځینو نورو هېوادونو لپاره د هغوی سیاسي کلتور شاهي نظام دی.[۸]

**۲- دویمه درجه ملي ګټې** (Secondary national interests): دا هغه ملي ګټې دي چې دولت یې د لاسته راوړلو او دفاع هڅې کوي، خو جګړې ته په کې اړتیا نه وي او یا دولت نه غواړي چې د دې ډول ګټو لپاره جګړه وکړي، بلکې دا ډول ګټې د سولې او خبرو اترو له لارې لاسته راتلای شي. لاندې موارد په دې ګټو کې راځي:

**الف-** په بهرنیو هېوادونو کې د خپلو قانوني اتباعو له حقوقو څخه دفاع.

**ب-** د نړۍ له هېوادونو سره د ډیپلوماټیکو اړیکو رامنځته کول او یا د شته اړیکو ساتل.

**ج-** بهرنۍ سوداګري، د نړیوالو مرستو ترلاسه کول او نړیوال بازار ته لاسرسی؛

**د-** په نړیواله کچه د هېواد هویت او حیثیت ساتنه.[۹]

**۳- عمومي ملي ګټې** (general national interests): دا ګټې نړیوال نظام پورې تړلې دي او لاندې موارد په کې شامل دي:

**الف-** له ګاونډیو او نورو هېوادونو سره شخړې په سولیز ډول حلول.

**ب-** د نورو هېوادونو په داخلي چارو کې مداخله نه کول او نور هېوادونه هم نه پرېښودل چې ستاسې په داخلي چارو کې مداخله وکړي.
**ج-** په نړیواله سطحه د انساني قاچاق، جینوسایډ، د بشري حقوقو د نقض او مخدره موادو د قاچاق په مخنیوي کې همکاري کول.[۱۰]

## د بېطرفه بهرني سیاست پېژندنه

دلته اړینه ده چې لومړی بهرنی سیاست او بیا بېطرفي وپېژنو او وروسته له هغې د بېطرفه بهرني سیاست لپاره لنډ تعریف وړاندې کړو. بهرنی سیاست د بېلابېلو پوهانو له خوا په مختلف ډول تعریف شوی دی چې دلته موږ یو څو تعریفونه رانقلوو:

د جوسف فرنکېل (Joseph Frankel) په نظر، بهرنی سیاست د یو دولت پرېکړې او اعمال دي د بل دولت په مقابل کې.

د پاډیلفورډ او لېنکولن ( Padelford and Lincoln) له نظره، بهرنی سیاست د یو دولت معاملات او اړیکې له بهرني چاپیریال سره تنظیموي.

هېوج ګېبسنس (Huge Gibson's) له نظره، بهرنی سیاست یو منظم پلان دی چې د پوهې او تجربې پر بنسټ ترتیبېږي تر څو د هېواد اړیکې له نورې نړۍ سره تنظیم کړي.[۱۱]

لنډه دا چې بهرنی سیاست د یو دولت کړنلاره او پرېکړې دي د بل دولت په مقابل کې.

که د بېطرفی تعریف ته راشو؛ نو له لغوي اړخه بېطرفي (Neutrality) له لاتیني کلمې څخه اخیستل شوې ده او لاتیني ژبه کې دا له دوه کلمو ترکیب شوې ده، یو {Ne} دی چې معنی یې (Not یعنې نه) دی او بل {uter} دی چې معنی یې (Either یعنې یا) دی او چې دواړه سره یوځای کړې، نو ( Not Either یا Neither) ترې جوړېږي چې معنی یې ده: هېڅ یو هم نه.[۱۲]

کمبرېج ډیکشنرې بېطرفي داسې تعریف کړې ده: د جنګ پرمهال د هېڅ لوري طرف نه نیولو ته بېطرفي ویل کېږي.[۱۳]

د هېګ د ۱۹۰۷ز. کال کنوانسیون* له مخې بېطرفي دې ته ویل کېږي چې یو هېواد په نړیوالو وسله والو شخړو کې برخه وانخلي او د سولې پرمهال داسې کړنې ترسره نه کړي چې هغه د هېواد بېطرفي نقض کړي لکه په نظامي او دفاعي تړونونو کې برخه اخیستل.[١٤]

لنډه دا چې په نړیوالو شخړو او دفاعي تړونونو کې نه ګډون ته بېطرفي ویل کېږي.

## د بېطرفۍ (Neutrality) ډولونه

انګلیسي لیکوال ارچایي سېمپسن(ARCHIE W. SIMPSON) بېطرفي په درېو برخو وېشلې ده:

### ۱- لنډمهاله یا ځانګړې بېطرفي (Ad hoc or Temporary Neutrality)

دا بېطرفي یوازې هغه مهال اعلانېږي؛ کله چې دوه یا څو هېوادونه په خپلو کې جګړه پیل کړي، دا بېطرفي دایمي نه ده، یعنې مخکې له مخکې د راتلونکو ټولو جګړو په اړه نه اعلانېږي؛ بلکې کله چې دوه اړخیزه یا څو اړخیزه جګړه پیل شي؛ یوازې هماغه مهال یو هېواد پرېکړه کوي چې بېطرفه شي او په جګړه کې د هېڅ یو هېواد طرف و نه نیسي، د بېلګې په ډول په دویمه نړیواله جګړه کې د هسپانیې بېطرفي، یا په ۱۹۹۰- ۱۹۹۱ کلونو کې د فارس خلیج په جګړه کې د ایران بېطرفي او یا هم په دویمه نړیواله جګړه کې د افغانستان بېطرفي، یعنې افغانستان د نړیوالو حقوقو له مخې دایمي بېطرفي اعلان کړې نه وه؛ بلکې موقتي بېطرفي وه چې بیا وروسته په سره جګړه کې پای ته ورسېده.

دا ډول بېطرفه هېوادونه اړ نه دي چې په راتلونکو جګړو کې هم بېطرفه پاتې شي؛ بلکې کولای شي په راتلونکو جګړو کې طرف واقع شي. ریالیستان دا ډول بېطرفي مني او وایي چې دا د یو هېواد ملي ګټو او بهرني سیاست ته په کتو نیول کېږي او د قدرت د لاسته راوړلو په مخ کې خنډ نه پېښېږي.[١٥]

* د هېګ کنوانسیون چې په ۱۸۹۹ او ۱۹۰۷ز. کال کې رامنځته شوي دي، اساسي موخه یې د جنګ لپاره د اصولو او قواعدو رامنځته کول دي. ۱۹۰۷ز. کال کنوانسیون د جنګ لپاره قواعد رامنځته کړل، د بېطرفه دولت حقوق او مسؤلیتونه یې واضح کړل، د سوداګریزو کښتیو اصول یې رامنځته کړل، د نړیوالې محکمې د رامنځته کولو غوښتنه په کې وه او داسې نور د جنګ اړوند موضوعات په کې بحث شوي دي.

**۲- ډیژور یا حقوقي بېطرفي (de jure)**: دا ډول بېطرفي دوه بڼې لري:

**أ. تحمیلي بېطرفي** (Naturalization): هغه بېطرفي ده چې د یوې نړیوالې معاهدې پر بنسټ د دوو یا څو هېوادونو له خوا په تحمیلي ډول پر یو هېواد ومنل شي، د بېلګې په ډول د سړې جګړې پرمهال د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد له خوا اطریش (Austria) او فنلینډ بېطرفه هېوادونه اعلان شول.

**ب. دایمي یا حقوقي بېطرفي** (Permanent Neutrality): دا هغه بېطرفي ده چې په هغې کې یو دولت په افتخاري یا رضاکارانه ډول د نړیوالو حقوقو په چوکاټ کې دایمي بېطرفي اعلانوي او په راتلونکو ټولو جګړو کې ځان مخکې له مخکې بېطرفه کوي. د دې بېطرفۍ ښه بېلګه سویس دی چې په ۱۸۱۵ز. کې د ناپیلون له جګړو وروسته یې اعلان کړه. دا ډول بېطرفه هېوادونه مکلف دي چې د جنګ پرمهال د ۱۸۹۹ز. کال او ۱۹۰۷ز. کال د هېګ کنوانسیونونو (The Hague Conventions) ټول مواد رعایت کړي او د همدغه کنوانسیونونو پر بنسټ حقوق ترلاسه او مسؤلیتونه ترسره کړي.[۱۶]

**۳- ناپیلتوب (Non-Alignment)**

دا د بېطرفۍ یو ډول دی چې د سړې جګړې پر مهال رامنځته شوی او موخه یې د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ په سړه جګړه کې بېطرفي وه.[۱۷]

د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د سړې جګړې پر مهال دوه نظامي ایتلافونه، چې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ ناټو او د شوروي اتحاد په مشرۍ وارسا رامنځته شول. د نړۍ هېوادونه اړ وو چې له دې دوو اړخونو څخه یو وټاکي او د بل په مخالفت کې ودرېږي. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته ځینو افریقایي او اسیایي هېوادونو تازه خپلواکي ترلاسه کړې وه او د دې جوګه نه وو چې د لویو قدرتونو ترمنځ یو وټاکي او یوې بلې جګړې ته داخل شي. په همدغه شرایطو کې د هند لومړي وزیر جواهر لعل نهرو درېیمه لار وړاندې کړه او هغه د ناپیلتوب غورځنګ و. د دغه غورځنګ موخه دا وه هغه هېوادونه چې غواړي د دغو لویو قدرتونو ترمنځ بېطرفه واقع شي، نو هغوی دې ناپلیتوب غورځنګ غړیتوب واخلي او د یو لوري طرف دې هم نه نیسي. د ناپیلیتوب دغه

غورځنګ په رسمي ډول په ۱۹۵۵ز. کال د باندونګ په کنفرانس ( Bandung Conference) کې چې په اندونیزیا کې دایر شو، رامنځته شو.[۱۸]

د ناپیلیتوب بېطرفي توپیر له لنډمهاله بېطرفۍ سره دا دی چې ناپیلیتوب د لویو قدرتونو ترمنځ او په ځانګړي ډول د سړې جګړې پر مهال د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ په سیالۍ او جګړې کې بېطرفۍ ته ویل کېږي او لنډمهاله بېطرفي هغې ته ویل کېږي چې په نړۍ کې د هر هېواد له بل هېواد سره جنګ وي، کېدای شي په هغې کې بېطرفي اختیار شي او دا کوم زماني محدودې پورې هم تړلې نه ده.

د ناپیلیتوب بېطرفۍ توپیر له دایمي بېطرفۍ سره دا دی چې ناپیلیتوب سیاسي اړخ لري او په نړیوالو اړیکو پورې اړوند دی او دایمي بېطرفي حقوقي اړخ لري او په نړیوالو حقوقو پورې اړه لري.[۱۹] یعنې د دایمي بېطرفۍ لپاره حقوقي اصول او قواعد د ۱۹۰۷ز. کال د هېګ په کنوانسیون کې ټاکل شوي دي، خو د ناپیلیتوب لپاره کوم حقوقي اصول چې دولتونه د هغې په رعایت مکلف وي نه دي ټاکل شوي. همدارنګه ناپیلیتوب یوازې یوې مشخصې جګړې کې بېطرفۍ ته ویل کېږي سره له دې چې د دایمي بېطرفۍ په اختیارولو سره یو هېواد په اوسنیو او راتلونکو ټولو جنګونو کې بېطرفه واقع کېږي، د بېلګې په ډول هند د ناپیلیتوب غورځنګ له مؤسسینو څخه ګڼل کېږي او د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ سړه جګړه کې یې ځان بېطرفه اعلان کړ، خو د همدغې سړې جګړې په دوران کې یې بیا له پاکستان سره درې جګړې وکړې،[۲۰] نو معلومېږي چې هند په سړې جګړې کې یوازې د شوروي او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ ناپیلی و او په نورو جګړو کې خپله طرف واقع شوی دی، نو څکه ویلای شو چې ناپیلیتوب د بېطرفۍ یو ډول دی، خو له دایمي بېطرفۍ سره توپیر لري.

سویډنی لیوس مولر (Leos Müller) چې د سټاکهولم پوهنتون استاد دی په خپل کتاب (Neutrality in World History) کې هم د بېطرفۍ له پورتنیو دوو ډولونو څخه یادونه کړې چې یو ته په یوه جګړه کې د یو اړخیزې بېطرفۍ اعلان ( one-sided declaration of neutrality) نوم ورکوي او دا هماغه لنډمهاله بېطرفي ده. د دې ډول بېطرفۍ په اړه وايي: دا ډول بېطرفي لنډمهاله وي او په یو مشخص جنګ کې بېطرفي په دې معنی نه ده چې یو هېواد دې په راتلونکو جګړو کې هم بېطرفه وي، دې ډول بېطرفۍ

ته (occasional neutrality) یعنې ځینې وخت یا کله نا کله بېطرفي او ( short-term Neutrality) یعنې لنډمهاله بېطرفي هم ویل کېږي. دا ډول بېطرفي په اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې د انګلستان، سویډن او ډینمارک له خوا تطبیق شوې ده.

دویم ډول ته مولر هم دایمي بېطرفي ( permanent neutrality) وایي او په دې اړه وایي: دا ډول بېطرفي هغه ده چې کله یو هېواد خپل ځان په دایمي ډول بېطرفه اعلان کړي او په دې اړه ځان د نړیوالو حقوقو تابع کړي. دغه بېطرفي په نولسمه پېړۍ کې رامنځته شوې. د دغه ډول بېطرفۍ ښه بېلګه سویس دی چې د برتانیې، فرانسې،روسیې، پروس (جرمني) او اطریش له لوري د ۱۸۱۴ز. کال د ویانا په کنګره کې ومنل شوه او له همدغه کال څخه سویس دایمي بېطرفه اعلان شو.[۲۱]

ارچایي سېمپسن وایي: هر هېواد د خپل جغرافیایي موقعیت، سیاسي موخو او امنیتي اړتیاوو په نظر کې نیولو سره کولای شي د بېطرفۍ له بېلابېلو ډولونو څخه یو وټاکي.[۲۲]

لنډه دا چې بېطرفه بهرنۍ سیاست هغه ته ویل کېږي کله چې یو دولت پرېکړه وکړي چې د نورو دولتونو په مسلحو شخړو او نړیوالو نظامي او دفاعي تړونونو کې به برخه نه اخلي.

## د افغانستان ملي ګټې

هر هېواد خپل جیوپولټیک، جیواکانومیک او جیو ستراتیژیک موقعیت، دیني مصالحو، حالاتو او شرایطو ته په کتو ملي ګټې ترتیبوي، ځینې هېوادونه د خپلو ثابتو ملي ګټو یادونه په اساسي قانون کې کوي، لکه ایران[۲۳] او ځینې یې بیا د یو ځانګړي کمېسیون له لارې په ځانګړي سند کې لیکي لکه امریکا متحده ایالات چې د امریکا ملي ګټو کمېسیون (commission on America National interest) تر نوم لاندې د ملي ګټو لپاره یو کمېسیون جوړ کړی او بیا همدې کمېسیون د امریکا متحده ایالاتو لپاره په اتو مادو کې د ملي ګټو یو ځانګړی سند ترتیب کړی دی.[۲٤]

افغانستان تراوسه لیکلې ملي ګټې نه لري، نو اړتیا ده چې ځینې ثابتې ملي ګټې ولیکل شي او د هماغې په رڼا کې بهرنۍ سیاست ترتیب شي.

کله چې د افغانستان لپاره د ملي ګټو د لیکلو خبره کېږي، نو دا باید په یاد ولرو چې افغانستان د مسلمانانو هېواد دی او فعلاً په کې یو اسلامي نظام حاکم دی، نو ملي ګټې

هم باید د اسلامي شریعت په چوکاټ کې ترتیب او ولیکل شي. که اسلامي احکام وپلټل شي، نو د ملي ګټو په اړه دوه خبرې ډېرې مهمې دي:

**لومړی**: د نامسلمانو هېوادونو لپاره کېدای شي ملي ګټې یوازې مادي ګټې وي او بهرنی سیاست یې یوازې د مادي ګټو د لاسته راوړلو لپاره ترتیب شوی وي، خو په اسلامي شریعت کې ملي ګټې پر مادي ګټو سربېره معنوي ګټو ته هم شاملېږي.[۲۵]

**دویم**: په اسلامي شریعت کې ملي ګټې له اسلامي مصالحو سره معادل دي، نو اړتیا ده چې لومړی په اسلامي شریعت کې مصالح وپېژنو.

مصالحه له لغوي اړخه د مصلحت جمع او د مفسدۍ ضد کلمه ده، ابن منظور په لسان العرب کې لیکلي: (الصلاح: ضدالفساد)؛ یعنې مصلحت یا اصلاح د فساد ضد دی. په اصطلاح کې امام غزالي(رح) وایي: (المصلحة هی عبارة فی الاصل عن جلب منفعة او دفع مضرّة)؛ یعنې مصلحت د ګټې جلبول او د ضرر دفع کول دي.[۲۶]

امام غزالي د مصلحت له تعریف وروسته د مصلحت موخه د شریعت د مقاصدو حفاظت او ساتنه ښیي او د شریعت مقاصد په پنځه ډوله دي: دین، نفس، عقل، نسل او مال؛ یعنې د امام غزالي په نظر د دغو پنځو شیانو ساتنه د مصلحت موخه ده.[۲۷]

بله مهمه موضوع چې دلته یې یادونه وکړو هغه داده چې مصلحت هغه مهال مطرح کېږي کله چې د یوې موضوع په اړه د قران او احادیثو قطعي حکم موجود نه وي، که د یوې موضوع په اړه قطعي حکم موجود وي هلته د هغه حکم تطبیق فرض دی او مصلحت ته په کې کوم ځای نه پاتې کېږي، یعنې داسې نشي کېدای چې یو قراني حکم موږ په خپل اجتهاد د مصلحت خلاف وګڼو او ظاهري یو عمل مصلحت یا ملي ګټه وګڼو؛ ځکه الله تعالی فرمایي:

(...عَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئاً وَ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَ عَسَىٰ أَنْ تُحِبُّوا شَيْئاً وَ هُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَ اللَّهُ يَعْلَمُ وَ أَنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ)[۲۸]

یعنې ځینې شیان تاسې د ځان لپاره ښه نه ګڼئ، خو په هغې کې خیر وي او ځینې شیان تاسې د ځان لپاره ښه ګڼئ، خو په هغې کې شر وي؛ نو الله تعالی پوهېږي او تاسې نه پوهېږي.[۲۹]

یعنې هغه څه چې د الله تعالی پر وړاندې ښه دي؛ هماغه مصلحت او ملي ګټې دي او هغه څه چې د الله تعالی پر وړاندې بد دي؛ هغه مفسده او د ملي ګټو خلاف دي.

دلته یوه بله پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې مخکې مو وویل چې مصلحت د ګټې جلب او د مفسدی دفع کول دي؛ نو که د مصالحو ترمنځ خپلمنځي ټکر، یا د مفاسدو ترمنځ خپلمنځي ټکر او یا هم د مصالحو او مفاسدو ترمنځ ټکر رامنځته شي؛ نو کوم یوه ته به لومړیتوب ورکول کېږي؟ یعنې په یو وخت کې دوه شیان مصلحت وي او یا په یو وخت کې حکومت له دوو مفاسدو سره مخامخ وي او یا په یو وخت کې حکومت اړ وي چې یا مصلحت خپل کړي او یا دا چې مفسده دفع کړي او دا داسې حالت وي چې د دوو مصالحو، د دوو مفاسدو او یا هم د مصالح او مفاسدو جمع کول ممکن نه وي؛ یعنې په یو وخت کې دواړه کارونه نه شي کولای؛ بلکې اړ وي چې یو ترې وټاکي؛ نو کوم یوه ته باید لومړیتوب ورکړل شي؟

د دې پوښتنې په ځواب کې مجتهدینو ځینې قواعد ترتیب کړي دي چې دلته پرې بحث کوو:

## د دوو مصلحتونو ترمنځ د ټکر په صورت کې

که دوه مصلحتونه سره په ټکر کې وي او باید له دواړو یو انتخاب شي، نو په دې اړه لاندې قواعد موجود دي:

١. الأكثر مصلحة أولى بالتقديم على الأقل مصلحة.

هغه مصلحت باید انتخاب شي چې په هغې کې ډېره ګټه وي نسبت هغه مصلحت ته چې لږه ګټه ولري.

٢. تُقدَّم المصلحة المتيقنة على المصلحة المظنونة أو الموهومة.

هغه مصلحت باید انتخاب شي چې یقیني وي، نسبت هغه مصلحت ته چې هغه نایقیني یا وهمي وي.

٣. تُقدَّم المصلحة الكبيرة على المصلحة الصغيرة.

ستر مصلحت ته باید ترجیح ورکړل شي نسبت کوچني مصلحت ته.

٤. تُقدَّم مصلحة الجماعة على مصلحة الفرد.

عامه مصلحت یا ګټو ته ترجیح ورکړل شي نسبت فردي مصلحت یا ګټو ته.

٥. تُقدَّم مصلحة الكثرة على مصلحة القِلَّة.

د زیاتو خلکو مصلحت یا ګټو ته ترجیح ورکړل شي نسبت د کمو خلکو مصلحت یا ګټو ته.

٦. تُقدَّم المصلحة الدائمة على المصلحة العارضة أو المنقطعة.

دایمي مصلحت او ګټو ته ترجیح ورکړل شي نسبت موقتي مصلحت او ګټو ته.

٧. تُقدَّم المصلحة الجوهرية والأساسية على المصلحة الشكلية والهامشية.

بنسټیزو او مهمو ګټو ته ترجیح ورکړل شي نسبت ظاهري او لږو مهمو ګټو ته.

٨. تُقدَّم المصلحة المستقبلية القوية على المصلحة الآنية الضعيفة.

راتلونکې قوي مصلحت یا ګټو ته ترجیح ورکړل شي نسبت ژر لاسته راغلو ضعیفو ګټو ته.

## د مصلحت او مفسدې ترمنځ د ټکر په صورت کې

که یو مصلحت او د مفسدې دفع په ټکر کې راشي؛ یعنې په یو وخت کې باید یا مصلحت لاسته راوړل شي او یا هم مفسده دفع شي؛ نو کوم یو ته باید ترجیح ورکړل شي، په دې اړه هم لاندې قواعد د مطالعې وړ دي:

١. أن درء المفسدة مُقدَّم على جلب المصلحة.

د مفسدې یا زیان دفع کولو ته باید ترجیح ورکړل شي نسبت د ګټې لاسته راوړلو ته.

٢. أن المفسدة الصغيرة تُغتفر من أجل المصلحة الكبيرة.

کوچنی زیان د سترې ګټې د لاسته راوړلو لپاره بخښل کېږي، یعنې که ګټه ستره او زیان کوچنی وي، نو د ګټې لاسته راوړلو ته دې ترجیح ورکړل شي.

٣. تُغتفر المفسدة العارضة من أجل المصلحة الدائمة.

لنډ مهاله زیان د دایمي ګټې لپاره بخښل کېږي، یعنې دایمې ګټې ته ترجیح ورکول کېږي نسبت لنډمهاله زیان دفع ته.

٤. ولا تُترك مصلحة محققة من أجل مفسدة متوهمة.

یقیني ګټې ته ترجیح ورکول کېږي نسبت یو غیر یقیني یا وهمي زیان دفع ته.

## د دوو مفسدو ترمنځ د ټکر په صورت کې

که په یو وخت کې د دوو مفسدو یا زیانونو د دفع کولو خبره مطرح شي؛ نو کوم یو فساد یا زیان باید لومړی دفع شي، په دې اړه لاندې قواعد د مطالعې وړ دي:

١. الضرر يُزال بقدر الإمكان. زیان او ضرر باید د امکان تر کچې له منځه یوړل شي، یعنې هغه زیان باید لومړی دفع شي چې د هغې د دفع کولو امکان موجود وي.

۲. یُرتکب أخف الضررین وأهون الشرین. د دوو ضررونو او دوو بدیو ترمنځ چې هر یو کم وي د هغې ترسره کول په کار دي او د ستر ضرر لومړی دفع په کار ده.
۳. یُحتمل الضرر الأدنی لدفع الضرر الأعلی. کوچنی ضرر د ستر ضرر د له منځه وړلو لپاره د تحمل وړ دی. یعنې هغه ضرر باید لومړی دفع شي چې هغه ستر وي.
٤. یُحتمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام. خاص ضرر د عام ضرر د له منځه وړلو لپاره د تحمل وړ دی یعنې لومړی باید هغه ضرر دفع شي چې زیان یې عام وي.[۳۰]

د ګټو یا مصالحو له مطالعې وروسته ویلای شو د یو اسلامي هېواد په توګه د افغانستان ملي ګټې په لاندې ډول دي:

## ۱- د اسلامي نظام ساتنه

هر حکمي او حقیقي شخص چې اسلام ومني، نو د اسلامي احکامو تطبیق پرې لازمي دی، کله چې یو شخص اسلامي احکام تطبیقوي، نو هغه ته مسلمان او کله چې یو حکمي شخصیت یا حکومت اسلامي احکام تطبیقوي، نو هغه ته اسلامي حکومت یا اسلامي نظام ویل کېږي.

د اسلامي نظام تر ټولو مهمه دنده او یا هم ځانګړنه دا ده چې هغه اسلامي احکام تطبیقوي او که دا کار و نه کړي نو هغه ته اسلامي نظام نه ویل کېږي، ځکه په قران عظیم الشان کې الله تعالی فرمایي:

ولم یحکم بما أنزل الله فأولئک هم الکافرون[31].

ولم یحکم بما أنزل الله فأولئک هم الظالمون. [32]

ولم یحکم بما أنزل الله فأولئک هم الفاسقون.[۳۳]

ژباړه: او څوک چې له هغه څه پرته چې الله تعالی نازل کړي دي؛ په بل څه فیصله وکړي؛ نو هغوی / کافران دي / ظالمان دي / فاسقان دي.

د اهل سنت ځینې علماء د راوړل شویو درې آیتونو تفسیر داسې کوي:

د (حکم بغیر ما أنزل الله) مساله څو حالته لري، کله پرې حاکم یا قاضي یا هر فیصله کوونکی کفر ته وځي او کله ظلم او فسق ته. کفر ته پرې هله وځي، چې دغه کار حلال وګڼي، یا ووایي چې: د الله تعالی شریعت زموږ د زمانې لپاره مناسب نه دی، یا دا چې وضعي قوانین د الله تعالی له شریعت ښه دي، یا ورسره مساوي دي، نو دا د کفر حالت

دی، خو که د نورو دنيوي اسبابو لپاره دا کار وکړي او د الله تعالی د شريعت د تعظيم قايل وي؛ نو حاکم بيا د فسق او ظلم حالت کې قرار لري؛ البته که د اکراه حالت وي، نو بيا ګناهګاربږي هم نه؛ ځکه چې د اکراه (اجبار) په حالت کې الله تعالی د کفر کلمه ويل هم رخصت ګرځولی دی، په دې اړه وايي: (إلا من أكره وقلبه مطمئن بالإيمان).

يعنې که څوک د کفر د کلمې په ويلو مجبور شي او زړه يې په ايمان ډاډمن وي؛ نو هغه کافر نه دی.[٣٤]

بل ځای الله تعالی فرمايي:

(فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِيَ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا)[٣٥]

ژباړه: ای محمده! ستا په رب قسم چې دوی هېڅکله مؤمنان کېدای نه شي، تر هغې چې په خپلمنځي شخړو کې تا پرېکړه کوونکی و نه مني، بيا چې ته څه پرېکړه وکړې، پر هغې په خپلو زړونو کې هم څه تنګي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پايه يې ومني.

لنډه دا چې هر هغه نظام اسلامي دی چې هغه اسلامي احکام تطبيقوي.[٣٦]

يعنې د اسلامي احکامو تطبيق د فرد او حکومت دواړو دنده ده؛ خو ځينې اسلامي احکام له حکومت پرته په فردي ډول نه شي تطبيقېدلای لکه د حدودو، قصاص او ديت اړوند احکامو چې دا د اسلامي نظام تر ټولو مهمه وجيبه ده؛ نو د حدودو تطبيق واجب دی او دا چې دا واجب عمل پرته له اسلامي نظامه نه شي ترسره کېدای؛ نو د اسلامي نظام راوستل يا ساتل هم واجب دي؛ ځکه فقهي قاعده ده چې: (ما لايتم الواجب الا به فهو واجب)؛ يعنې که يو واجب عمل د يوې وسيلې پورې تړلی وي؛ نو هغه وسيله هم واجب ګرځي.[٣٧]

نو د افغانستان لپاره لومړنۍ ملي ګټه يا مصلحت دا دی چې د اسلامي احکامو د تطبيق لپاره بايد د اسلامي نظام ساتنه او حفاظت وشي.

### ٢- د مسلمانانو ترمنځ د يووالي لپاره هڅې

له اسلامي هېوادونو سره نږدې اړيکې لرل او د هغوی خپلمنځي يووالي ته کار کول له يوې خوا اسلامي حکم دی او له بلې خوا د يو اسلامي هېواد په توګه بايد د افغانستان د ملي ګټو برخه هم وي.

په دې اړه الله تعالی فرمايي: (وَ إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُم أُمَّةً وَاحِدَةً وَ أَنَا رَبُّكُم فَاتَّقُونِ)[۳۸]

ژباړه: او دا ستاسې امت، يو امت دی او زه ستاسې رب يم، نو له همدا ما څخه ووېرېږئ.

بل ځای په حجرات سورت کې الله تعالی حکم کوي چې:

(اِنَّمَا المُومِنُونَ اِخوَةٌ فَأَصلِحوُا بَينَ اَخَوَيكُم وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُم تُرحَمُونَ)[۳۹]

ژباړه: مؤمنان خو يو له بل سره ورونه وي، نو د خپلو ورونو ترمنځ اړيکې سمې کړئ او له الله تعالی څخه ووېرېږئ هيله ده چې پر تاسې به رحم وکړای شي.

بل ځای الله تعالی فرمايي:

(وَاعتَصِمُوا بِحَبلِ اللهِ جَميعاً وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذكُرُوا نِعمَةَ اللهِ عَلَيكُم اِذ كُنتُم اَعداء فَاَلَّفَ بَينَ قُلُوبِكُم فَاَصبَحتُم بِنعمَتِهِ اِخوَانا)[۴۰]

ژباړه: ټول يوځای شئ، د الله تعالی رسۍ کلکه ونيسئ او تيت او پرک کېږئ مه. د الله تعالی هغه پېرزوينه در ياده کړئ چې پر تاسې يې کړې ده، تاسې يو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسې په زړونو کې مينه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورېينه تاسې سره ورونه شوي ياست.

همدارنګه د مسلمانانو ترمنځ د يووالي په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم هم ډېر تاکيد کړی دی، په دې اړه دلته يو څو احاديث رانقلوو:

عنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِى اللَّه عَنْهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم، قَالَ: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لا يَظْلِمُهُ، وَلا يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِی حَاجَه أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِی حَاجَتِه، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَهِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَه[41].

ژباړه: له عبدالله بن عمر(رض) څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: مسلمان د مسلمان ورور دی، پر هغه به ظلم نه کوي او نه به يې هم ظالم ته سپاري، که يو څا د مسلمان ورور حاجت پوره کړ؛ الله تعالی به د هغه حاجت پوره کړي، هر څا چې د مسلمان ورور ستونزه حل کړه؛ الله تعالی به يې د قيامت په ورځ د هغه ستونزه حل کړي او چا چې پر مسلمان ورور پرده واچوله؛ الله تعالی به د قيامت پر ورځ په هغه پرده واچوي.

په بل حديث شريف کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: من فارق الجماعة شبراً فميتته جاهلية.[۴۲]

که یو څوک د مسلمانانو له جماعت څخه جلا شو او په دې حال کې ورته مرګ راشي، نو دا د جاهلیت په مرګ مړ شو.[٤٣]

عن النعمان بن بشير رضي الله عنه مرفوعاً: مَثَلُ المُؤْمِنِينَ في تَوَادِّهِمْ وتَرَاحُمِهِمْ وتَعَاطُفِهِمْ، مَثَلُ الجَسَدِ إذا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى له سَائِرُ الجَسَدِ بالسَّهَرِ والحُمَّى.[44]

ژباړه: د مؤمن مثال د بل مؤمن لپاره په دوستۍ، ترحم او زړه سوي کې لکه د یوه بدن په شان دی، که په بدن کې یوه غړي ته څه تکلیف ورسیږي، نو ټول بدن ورسره په بې خوبۍ او تبې ناکراره وي[45].

د مسلمانانو ترمنځ د یووالي رامنځته کولو موضوع دوه اړخه لري، یو بهرنی اړخ دی، یعنې افغانستان باید له اسلامي هېوادونو سره د یووالي رامنځته کولو لپاره هڅې وکړي او بل یې داخلي اړخ دی، یعنې د خپلو وګړو ترمنځ یووالی ساتل او په حکومتي کچه د هغوی ترمنځ د مساوات رعایت کول هم د ملي ګټو غوښتنه ده، ځکه په نړۍ کې اکثره دولتونه څو ملیتي دي او په داسې دولتونو کې د قومونو ترمنځ اختلافات موجود وي، نو د یو هېواد لپاره دا ډېره مهمه ده چې د خپلو وګړو ترمنځ دا اختلافات حل کړي او هغوی یووالي ته راوبولي او دا هغه مهال کېږي کله چې حکومتي سیاست دا وي چې ټولو وګړو ته په مساوي نظر وکتل شي او هغوی ته خپل اساسي حقوق په مساوي ډول ورکړل شي او د دغه ملي ګټې د لاسته راوړلو لپاره باید لاندې ستراتیژیانې ترتیب شي:

**أ**. ټول ولس لپاره یو ګډ لرلید ترتیبول او هغوی هماغه لرلید ته رابلل. د ولس ترمنځ شته مشترکات پیاوړي کول او دغه مشترکات د قوت په توګه داسې استعمالول چې هغوی ګډه روحیه واخلي او ترمنځ یې پیوستون رامنځته شي.

**ب**. په هېواد کې د محرومیتونو له منځه وړل، د هر وګړي حق هغه ته ورپېژندل او د هغې د غوښتلو جرأت په کې پیداکول او دا کار هغه مهال شونی دی کله چې ښه حکومتولي او د قانون واکمني موجوده وي.

**ج**. ټول ولس په دین سره راټولول او هغوی په دې پوه کول چې په قوم، ژبه او رنګ سره راټولېدل حرام دي او الله جل جلاله په کلکه له دې څخه منعه کړې ده.

**د.** کار اهل کار ته سپارل، د تعلیمي او تحصیلي اسانتیاوو رامنځته کول، صحي خدمات په وخت چمتو کول، عامه خدمات لکه اوبه، برېښنا، سړکونه او نور په ښه ډول وګړو ته رسول د وګړو د یووالي لامل ګرځي.

نو مسلمانان باید له یوې خوا په داخل د هېواد کې خپلمنځي اړیکې او یووالي ته کار وکړي او اسلامي حکومت د خپلو وګړو ترمنځ پیوستون او یووالی رامنځته کړي او له بلې خوا په نړیواله کچه باید اسلامي حکومتونه هم خپلمنځي اړیکې ورغوي او سره متحد شي تر څو د ظالم په مقابل کې یو بلاک شي او پر یو قوت بدل شي، نو افغانستان هم د یو اسلامي حکومت په توګه باید اسلامي اتحاد ته کار کول خپله ملي ګټه وګڼي او د اسلامي هېوادونو په اړه خپل بهرنی سیاست د اسلامي ورورولۍ په چوکاټ کې ترتیب کړي.

## ۳- د ظالم مخنیوی او له مظلوم څخه دفاع

دا یو قراني حکم دی چې مسلمانان باید د ظالم په مقابل کې له مظلوم څخه دفاع وکړي او دا کار په لوړه کچه د اسلامي حکومتونو مسؤلیت دی، په قران عظیم الشان کې د جهاد د اجازې بنسټ ظلم یاد شوی دی، الله تعالی فرمایي:

(أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ.) [٤٦]

ژباړه: هغه کسانو ته چې جنګ پر هغوی تحمیل شوی د جهاد اجازه ورکړل شوه، ځکه هغوی مظلومان دي او الله (تعالی) په یقیني ډول د هغوی د ملاتړ وس لري.

همدارنګه بل ځای الله تعالی فرمایي: (وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا.)[٤٧]

ژباړه: اخر څه دلیل دی چې تاسې د الله په لار کې د هغو بېوسو نرینه، ښځو او کوچنیانو په خاطر نه جنګېږئ چې کمزوري کړای شوي دي، تر فشار لاندې نیول شوي او فریادونه کوي چې وای زموږ ربه! موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي یې ظالمان دي؛ وباسه او له خپل لوري نه زموږ ته کوم سرپرست او مرستندویه پیداکړه.

بل ځای الله تعالی فرمایي: (الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ.)[٤٨]

ژباړه: دا هغه کسان دي چې له خپلو کورونو څخه په ناحقه ویستل شوي، یوازې په دې جرم چې هغوی وایي: زموږ رب الله دی، که الله تعالی خلک یو د بل په وسیله دفع نه کړي، نو خانقاوې، کلیساوې، عبادتخانې او جوماتونه چې په هغو کې د الله نوم ډېر زیات اخیستل کېږي، ټول به ونړول شي. الله به هرومرو له هغو کسانو سره مرسته وکړي چې هغه له دوی سره مرسته وکړي. الله ډېر زورور او برلاسی دی.

له پورتنیو ایاتونو په ډاګه معلومېږي چې لومړی خپله مظلومانو ته د دې اجازه ده چې د ظالم پرخلاف ودرېږي او جهاد وکړي او دا یې حق دی او دویم دا چې ځینې وخت د مظلومانو زور نه رسېږي چې د ظالم په مقابل کې مقاومت او جهاد وکړي، نو په داسې حالت کې پر نورو مسلمانانو فرض دي چې د هغوی دفاع وکړي ځکه الله تعالی په پورتنې ایت کې په ښکاره ډول وایي چې الله تعالی ځینې د هغوی په ځینو نورو دفعه کوي.[۴۹]

نو پورتنیو اسلامي احکامو ته په کتلو ویلای شو چې اسلامي امارت د یو اسلامي نظام په توګه باید په لومړي قدم کې د هغو مهاجرو افغانانو چې له هېواد څخه بهر وسېږي او پر هغوی ظلم کېږي د هغوی پوښتنه او له ظالم څخه د هغوی دفاع وکړي لکه اوس چې په پاکستان کې د افغان مهاجرو په خلاف کوم ظلم روان دی او په دویم قدم کې د نړۍ په هر ځای کې چې پر یو مسلمان ظلم کېږي باید اسلامي امارت له هغوی دفاع وکړي، که په لاس د دفاع وس نه لري لږ تر لږه باید د یوې اعلامیې او غږ په اوچتولو سره له هغوی دفاع وکړي او دا باید زموږ د ملي ګټو یوه برخه وي.

پر پورتنیو ملي ګټو یا مصلحتونو سربېره دلته زه په دې مقاله کې د شاهد حسین راجه له لیکلي کتاب (National Interest: Concept and Components)[۵۰]

او د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ.ل. اساسي قانون[۵۱] په ځانګړي ډول له پنځمې او اتمې مادې څخه په اقتباس د افغانستان لپاره ځینې نورې ملي ګټې هم لیکم او بیا د همدغو ملي ګټو په چوکاټ کې د افغانستان لپاره بېطرفي ارزوم.

### ۴- ځمکنۍ بشپړتیا او حاکمیت

په ملي ګټو کې بله مهمه موضوع له بهرني تجاوز او داخلي تخریب څخه د افغانستان د خاورې ساتنه او له دغې خاورې څخه دفاع ده. بله موضوع خپلواکي او حاکمیت دی په دې معنی چې حکومت باید خپلې ټولې پرېکړې په خپلواک ډول پرته له

دې چې کوم بهرنی فشار یا بهرنی امر موجود وي ترسره کړي. د دې ملي ګټې د لاسته راوړلو لپاره باید لاندې ستراتیژیانې ترتیب شي:

**الف**- د هر ډول بهرني تجاوز په مقابل کې جنګ او قربانۍ ته تیاربدل او په خپل ولس کې په دې اړه عامه پوهاوی ترسره کول چې، که د هېواد یوه لوېشت خاوره هم تر اشغال لاندې راشي، نو ټول ولس باید قربانۍ ته اماده شي؛

**ب**- داسې مجهز او پر اسلامي روحیه پوخ روزل چې په معاصرو وسلو سنبال وي او له خپلې خاورې څخه د دفاع لپاره هر وخت چمتو وي؛

**ج**- د وسلو په برخه کې داسې اینجینران روزل او یا هم د روزنې لپاره یې یو بهرني هېواد ته لېږل تر څو په داخل د هېواد کې وسلې تولید او د جنګ پرمهال د نورو هېوادونو وسلو ته محتاج نشي.

**د**- له لویو قدرتونو سره داسې اړیکې ساتل تر څو د بهرني یرغل پرمهال په نړیواله کچه د هېواد ډیپلوماتیک لاسنیوی وکړي.

## ۵- د ولس هوساینه او د فقر له منځه وړل

بله ملي ګټه د ولس هوساینه ده او دا کار د ولس د ژوند د کیفیت لوړول او د هغوی د اړتیاو پوره کول دي؛ ځکه ولس د یو نظام د ملا تیر دی او د ولس له ملاتړ پرته یو نظام پاېښت نشي موندلی، خو که ولس په خېټه موړ نه وي او هغوی په خپل فقر کې اخته وي، نو د نظام ملاتړ هغوی ته ارزښت نه لري او کېدای شي د حکومت په ځینو مهمو پریکړو کې ولس مخالفت وښیي چې دا کار د نظام پاېښت له ستونزو سره مخامخ کوي. د دې ملي ګټې د لاسته راوړلو لپاره باید لاندې ستراتیژیانې ترتیب شي:

**أ**. د همېشني اقتصادي پرمختګ لپاره کار کول او لاسته راغلی عاید په عادلانه ډول د هېواد پر ټولو سیمو وېشل.

**ب**. نړیوالو بازارنو ته لاسرسی پیداکول تر څو له یوې خوا نړیواله ټکنالوژي هېواد ته را انتقال شي او له بلې خوا په داخل د هېواد کې اضافه تولیدي مواد نورو هېوادونو ته صادر شي.

**ج**. بهرنۍ مستقیمه پانګه راجلبول چې بشري او طبیعي سرچینې ورسره وده او پرمختګ وکړي، همدارنګه د ملي اقتصاد عصري کول او اقتصادي ټکنالوژي قوي کول.

**د**. د نړیوالو مؤسساتو او دولتونو اقتصادي مرستې ترلاسه کول چې د هېواد اقتصادي بنسټونه پرې غښتلي شي او د ځینو سرچینو د کمښت تشه پرې ډکه شي.

هغه دولتونه چې د خپلو وګړو اساسي اړتیاوې نه شي پوره کولی؛ هغوی خپل مشروعیت له لاسه ورکوي او دا کار د نظام د له منځه تللو لامل ګرځي. تاریخ شاهد دی چې په نړۍ کې اکثره هېوادونو د اقتصادي ستونزو له امله سقوط کړی بنه بېلګه یې پخوانی شوروي اتحاد دی چې له اقتصادي پلوه کمزوری شوی و او د خپلو وګړو بنسټیزې اړتیاوې یې نه شوی پوره کولای.

## ٦- د امنیت او ثبات رامنځته کول

هر ملت سولې او ثبات ته اړتیا لري، که یو ولس په خښته موړ وي او د ژوند کیفیت یې هم لوړ وي، خو امنیت ونلري هغه ولس هېڅکله سوکالۍ ته نشي رسېدای، نو د دې ملي ګټې د لاسته راوړلو لپاره باید لاندې ستراتیژیانې ترتیب شي:

**أ**. له ټولو ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو رغول، پیاوړي کول او ورسره سرحدي شخړې د سولې او مذاکراتو له لارې حلول.

**ب**. د نورو هېوادونو په داخلي چارو کې نه لاسوهنه او د متقابل احترام پیاوړي کول.

**ج**. په داخل د هېواد کې د باغیانو مخنیوی او د بغاوت د لاملونو له منځه وړل.

**د**. د نورو هېوادونو جنګي ډلو ته په خپل هېواد کې ځای نه ورکول تر څو هېواد مو د جنګي ډلو پر پټنځای بدل نشي.

**هـ**. د سولې او ثبات راوستلو په موخه په سیمه ییزه کچه هڅې کول او یا هم له رامنځته شویو بنسټونو سره په سیمه ییزه کچه همکاري کول.

**و**. د لویو قدرتونو ترمنځ په اړیکو کې توازن ساتل تر څو هېواد مو د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر او ناامن نشي.

**د پورتنیو ملي ګټو په چوکاټ کې د افغانستان لپاره د بېطرفه بهرني سیاست ارزونه**

په نړیوالو اړیکو کې د ریالیزم او د دغه تیورۍ نوې بڼه نیوریالیزم د دایمي بېطرفۍ مخالف دي. ریالیزم د نړیوالو اړیکو بنسټ قدرت ګڼي او پر همدغه بنسټ وايي چې یو قدرتمند هېواد کوچني او کمزوري هېوادونه تر خپلې ولکې لاندې راولي او کله چې قدرتمند هېواد د کمزوري هېواد د نیولو پرېکړه وکړي، نو بیا یې بېطرفۍ او نابېطرفۍ ته نه ګوري.[٥٢]

متیسن، بفر هېواد داسې تعریفوي چې دا یو کوچنی خپلواک هېواد وي او د دوو سترو سیالو قدرتونو یا بلاکونو ترمنځ پروت وي. د نولسمې پېړۍ د سترې لوبې پر مهال افغانستان د تزاري روسیې او برتانوي هند لپاره له جیوستراتیژیک اړخه ډېر مهم و. برتانوي هند هڅه کوله د افغانستان له لارې مرکزي اسیا ته ځان ورسوي؛ ورته مهال، روسیې هم غوښتل چې د افغانستان له جغرافیې په ګټې اخیستنې د هند سمندر ته ځان ورسوي، خو روسیه په خپله هڅه کې ناکامه شوه.[٦]

د دې څېړنې موخه دا ده چې تېر تاریخ او د افغانستان جیوپولیټیک موقعیت ته په کتو، په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان لپاره د بهرني سیاست ګټور ډول مشخص کړي. همدې موضوع ته په پاملرنې د څېړنې پوښتنه دا ده چې ایا په یوویشتمه پېړۍ کې بېطرفه بهرنی سیاست د افغانستان په ګټه دی او که په زیان؟ د مقالې په اوږدو کې د څېړنې له تشریحي-تحلیلي او همدارنګه انتقادي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. د ۲۰۲۱ ز.کال د اګست پر ۱۵مه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره د افغانستان او سیمې جیوپولیټیک بدلون موندلی او افغانستان د سیمه ییزتوب لوري ته روان دی، چې اسلامي امارت خپل بهرنی سیاست بېطرفه، متوازن او اقتصاد محوره اعلان کړی. نو موضوع ته په پاملرنې فرضیه داسې راولاړېږي چې دایمي بېطرفي د افغانستان په ګټه نه ده.

## جیوپولیټیک

نن ورځ جیوپولیټیک د انساني ټولنې او خلکو د ژوندانه مهمه برخه جوړوي. جغرافیه ده چې د ملتونه د چلند د ډول په ټاکلو کې مهم رول لوبوي. ارسطو، مونټېسکو، امانوېل کانټ جي ډبلیو ایف هېګل او هومبولټ د جیوپولیټیک په اړه ځانګړي تعریفونه لري. پروفیسور ساول کوهېن وایي چې له یوې خوا جیوپولیټیک د جغرافیایي ترتیباتو او لیدونو او له بلې خوا د سیاسي بهیرونو ترمنځ د تعامل تحلیل دی، دواړه جغرافیایي ترتیبات او سیاسي پروسې متحرکې دي او یو بل اغېزمنوي، د تاریخ په اوږدو کې د دولت فزیکي واقعیت د دولت جوړونې او ستراتیژۍ لپاره بنسټ دی، دا حقیقت باید په پام کې ونیسو چې د دولت جغرافیایي حالت یو "نه بدلېدونکی

برخلیک" دی، دلته د "نه بدلېدونکي برخلیک" اصطلاح د جیوپولیټیک اصلي ماده ده چې نن ورځ د نړیوال سیاست اصلي څېره ده.[۷]

همدارنګه جرمني جغرافیه پوه فرېډرېک رټزل Frederick Ratzel په باور، دولتونه خپل حقیقي ځواک او هغه نفوذ چې په بین المللي کچه یې عملي کوي، له هغې ځمکې څخه ترلاسه کوي چې په واک کې لري. د جیوپولیټیک اصطلاح د ۱۸۹۰ یمې لسیزې په وروستیو کې د سویډني لیکوال روډولف شیلیین Rudolf Kjellen له خوا رامنځته شوه. د شیلیین په وینا، جیوپولیټیک د یو هېواد پر بهرني سیاست د جغرافیوي فکټورونو اغېزه ده، چې د هېوادونو موقعیت، د سیمو ترمنځ واټن، د هېوادونو خاوره، اقلیم او طبیعي سرچینې پکې مهم رول لوبوي.[۸]

په نننی بین المللي سیستم کې د جیوپولیټیک اصطلاح ډېره کارول کېږي. په دې برخه کې د هالفورډ مکېنډر، الفرډ تیر ماهان، نېکولاس سپایکمن او د جېمز برنهم نظریې د پام وړ اهمیت لري. دوی تاریخي پېښې په ښه ډول اوبدلي او بیا یې د راتلونکو پرمختګونو په اړه د پام وړ وړاندوینې کړې دي. د بېلګې په توګه، مکېنډر د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۰ ز.کال او بیا په ۱۹۴۳ ز.کال کې د شمالي اتلانتیک ایتلاف د رامنځته کېدو وړاندوینه وکړه، چې په ۱۹۴۹ ز.کال کې رامنځته شو. د سړې جګړې په پای ته رسېدو سره د نوي نړیوال نظم د رامنځته کېدو هیلې راپورته شوې او وړاندوینه وشوه چې جیواکونومیک به د جیوپولیټیک ځایناستی شي او دا په بین المللي سیاست کې پیاوړی ځواک دی. خو پېښو ډېر ژر دا ثابته کړه چې جغرافیې اوس هم خپل اهمیت ساتلی چې ملتونه د قدرت او قلمرو لپاره مبارزه کوي. په بل عبارت فرانسېس سېمپا جیوپولیټیک داسې تعریفوي چې جیوپولیټیک په یوه ځانګړې جغرافیه کې د دولتونو ترمنځ کړه وړه دي. په دې کې د هېواد مساحت، جغرافیوي موقعیت، نفوس، اقتصاد، ټېکنالوجي، نظامي قدرت او د حکومت جوړښت ځانګړی رول لوبوي. جغرافیه که څه هم ثابته ده، خو کېدای شي اغېزې یې د وخت په تېرېدو سره بدلون ومومي، پاتې نور فکټورونه په طبیعي شکل بدلون مومي.[۹]

## د افغانستان جیوپولیټیک

امیر شېرعلي خان (۱۸٦۳ – ۱۸٦٦ او ۱۸٦۸ – ۱۸۷۹ ز.کلونو کې واکمن و) او امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰ – ۱۹۰۱ ز.کلونو کې واکمن و) د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې دوه هغه مهمې څېرې دي چې د مرکزي حکومت په ساتلو او همدارنگه د افغانستان د پولو په ټاکلو کې سره له دې چې ځینو پرېکړو یې د هېواد لپاره زیانونه هم اړولي دي، ځانگړی شهرت لري.[10]

په ۱۸۵٦ ز.کال کې د فارس پر وړاندې د برتانیې جگړې، فارس اړ کړ چې هرات افغان واکمنانو ته ورکړي، له همدې امله امیر دوست محمد خان (۱۸۲٦ – ۱۸۳۹ او ۱۸۴۳ – ۱۸٦۳ ز.کلونو کې واکمن و) د لندن پر وړاندې د دوستۍ پالیسي غوره کړه، چې مسکو گومان کاوه کابل د برتانیې تر نفوذ لاندې راغلی دی. ورته مهال، روسیې بخارا تر خپل حاکمیت لاندې راوسته او د ۱۸۷۳ ز.کال تړون له مخې د امو سیند یې د شمالي پولې په توگه رامنځته کړ؛ همدارنگه خېوه یې هم په مرکزي اسیا پورې وتړله.[11]

د افغانستان پولې د انگرېزانو او روسانو له خوا ټاکل شوي، چې د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې دراني پاچاهي یې تر فشار لاندې راوسته او د افغانستان جغرافیې ته یې اوسنۍ بڼه ورکړه. دا برتانیه او روسیه وه چې په ۱۸۷۳ ز.کال کې هوکړه وکړه او امو سیند یې د افغانستان لپاره شمالي پوله وټاکله. په ۱۸۹۱ ز.کال کې برتانوي تورنجنرال سي اېس مکلېن د افغانستان او فارس ترمنځ پوله په نښه کړه او دوه کلونه وروسته په ۱۸۹۳ ز.کال کې د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر سر مارټیمر ډیورنډ د ډیورنډ فرضي کرښه پر امیر عبدالرحمن خان وتپله. د افغانستان او چین ترمنځ پوله هم د سترې لوبې د یوې برخې په توگه د برتانوي امپراتورۍ او د وخت تزاري روسیې د هوکړې له مخې په ۱۸۹۵ – ۹٦ ز.کال کې رامنځته شوې.[12]

لیکوال ماکسیمېلیان لیکي چې د ډیورنډ کرښه نور څه نه وو، بلکې دا یوازې د افغان او هند سیاسي نظمونو ترمنځ د سیاسي حاکمیت تشخیص و.[13]

په شمال ختيځ کې د واخان کوريډور چې افغانستان له چين سره نښلوي، د برتانويانو له خوا رامنځته او موخه يې دا وه چې د روسيې او برتانوي هند ترمنځ مستقيمه اړيکه رامنځته نه شي.[١٤]

د لومړي ځل لپاره په ۱۹٦۴ ز.کال کې د افغانانو او چينايانو ترمنځ د پولې پر سر نښې کېښودل شوې. دا چې د افغانستان شمالي پوله هم له کومې ځارنې پرته ټاکل شوې وه، له امله يې څو ځله شخړې رامنځته شوې، تر دې چې په ۱۹۴٦ ز.کال کې د دوه اړخيزې هوکړې له مخې تلوېګ (د سيند منځنی کانال) د شوروي اتحاد او افغانستان ترمنځ رسمي پوله وټاکل شوه.[١٥]

په ۱۹۹۱ ز.کال کې د شوروي اتحاد له نسکورېدو سره سم په مرکزي اسيا کې پنځه مسلمان جمهوريتونه رامنځته شول، چې د بېلابېلو سيمه ييزو سازمانونو له لارې د روسيې تر سياسي، اقتصادي، امنيتي او کلتوري نفوذ لاندې دي. د ملتونو له تاريخ جوتېږي چې تاريخ او جغرافيه په ګډه د يوه هېواد بهرنۍ او امنيتي پاليسي ټاکي. روسانو له تاريخي پلوه د جنوبي سيمو امنيت د خپل ملي امنيت لپاره اړين بللی چې د شوروي اتحاد پر مهال د دغه اتحاد جنوبي پوله له افغانستان سره تړلې وه. د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته افغانستان ځانګړی اهميت غوره کړی. په دې معنا چې د سترې لوبې پر مهال افغانستان د بفر رول لوبوه، په داسې حال کې چې له سړې جګړې وروسته افغانستان د اسيا څلورلارې په توګه د مرکزي اسيا، جنوبي اسيا، جنوب ختيځې اسيا او منځنې ختيځ د نښلوونکي رول لوبوي. دا چې مرکزي اسيا په وچې پورې راايساره ده، افغانستان له خپلې خاورې په ګټې اخيستنې کولای شي مرکزي اسيا د پاکستان او همدارنګه ايران له لارې سمندر سره ونښلوي، چې د دواړو لارو پرانېستو او پراختيا ته اړتيا ده. د نن ورځې جيوپوليټيک د نويو لارو د پرانېستو غوښتنه کوي. که مرکزي اسيا واقعي خپلواکي غواړي، په دې کې د افغانستان رول خورا مهم دی. که څه هم روسيه په مرکزي اسيا کې ګټې لري، خو نړۍ نه غواړي چې روسيه د مرکزي اسيا زېرمو ته لاسرسی ومومي. په دې لړ کې افغانستان کولای شي له مرکزي اسيا څخه جنوبي اسيا ته د

انرژۍ د انتقال په موخه د ټرانزیټ زمینه برابره کړي، چې له مخې یې مرکزي اسیا کولای شي پر روسیې خپله اقتصادي تکیه راکمه کړي.[١٦]

دايمي بېطرفي هغه مهال عملي کېږي چې ستر قدرتونه په یوه هېواد کې د فعالې ښکېلتیا وړتیا او ګټې له لاسه ورکړي. افغانستان د افغان-انګلیس درېیمې جګړې او د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال بېطرفي تجربه کړې ده. په شلمه پېړۍ کې د لویې برتانیې او شوروي اتحاد په کمزوري کېدو سره په مرکزي اسیا کې ستره لوبه پای ته ورسېده؛ همدارنګه د سوریې په کمزوري کېدو سره لبنان هم خپله بېطرفي خوندي کړه.[١٧]

له دې متن څخه جوتېږي چې بفر دولتونه په لوی لاس د بېطرفۍ غوره کولو ته اړ کېږي. ورته مهال، په هند کې د اېس وي اېم کالج د سیاسي علومو ډېپارټمنټ استاد منوج کمار مېشرا په باور، کله چې د سیمې یا نړۍ ښکېلاک د افغانستان بېطرفي تر پښو لاندې کړې، د افغانستان په ګډون ښکېلې غاړې هم زیانمنې شوې دي.[١٨]

افغانستان د ځانګړي ستراتیژیک موقعیت په لرلو د سترو قدرتونو لېوالتیا ځانته رااړولې او د هغوی تر تاړاکونو لاندې هم راغلی دی. د یادونې وړ ده، د اوږدې مودې راهیسې په هېواد کې مېشت قومونه له بهرنیو نفوذي کړیو سره اړیکې لري، چې له امله یې په کور دننه بېلابېل د نفوذ زونونه رامنځته شوي او همدارنګه په هېواد کې د بهرنیو جیوپولیټیکو سیالیو ترخنګ د واک پر سر د قومونو ترمنځ سیالۍ هغه څه دي چې په افغانستان کې جګړه اوږده کړې او د حللارې لپاره د قومونو ترمنځ پر ډیالوګ او باور جوړونې ټینګار کېږي.[١٩]

د افغانستان پولو ته نږدې د مهمو قدرتونو شتون په افغانستان کې د بهرنۍ پالیسۍ غوراوي محدود کړي دي. په تېرو وختونو کې د سترو قدرتونو د پالیسۍ یوه هڅه دا وه چې افغانستان له عصریتوب لرې وساتي، چې په هېواد کې بهرنۍ پانګونه راکمه شي. دویم، افغانستان یې د بشپړې بېطرفۍ غوره کولو ته اړ کاوه. درېیم، افغانستان یې دې ته هڅوه چې په بهرني سیاست کې یو ځواک د بل ځواک پر وړاندې په بل ځای کې وکاروي، دا به په کور دننه د مخامخ جګړې

مخنیوی وکړي. څلورم، د سترو قدرتونو یوه هڅه دا هم وه چې د هېواد په بېلابېلو قومونو کې داسې یو مذهبي ځواک رامنځته کړي چې بهرني قدرتونه په شا وتمبوي. د بهرني سیاست یادې ستراتیژۍ د افغان واکمنانو د واکمنۍ په بېلابېلو دورو کې تطبیق شوې دي.[۲۰]

افغانستان له ستراتیژیک اړخه د ګاونډیو، سیمې او نړۍ لپاره مهم دی، چې کولای شي د سیمه ییز اتصال لپاره زمینه برابره کړي او له مرکزي اسیا څخه هند ته د تګ لپاره تر ټولو ارزانه لاره ده. همدارنګه په لوېدیځ کې کولای شي له منځنې ختیځ سره د نښلېدو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي.[۲۱]

افغانستان د شلمې پېړۍ له نویمې لسیزې راهیسې مرکزي اسیا څخه جنوبي اسیا ته د ټرانزیټ په پار په یوه مهم ټرانزیټي هېواد بدلېدونکی دی؛ خو په تېر کې د ناامنیو او سیمه ییزو جیوپولیټیکو سیالیو له امله د سیمه ییزو پروژو تطبیق له ځنډ او ځنډ سره مخامخ شوې دي، د بېلګې په توګه روسیه هڅه کوي د مرکزي اسیا انرژي د روسیې له لارې ختیځې اروپا ته انتقال کړي، دا چې روسیه د ټاپي پروژې غړی هېواد نه دی او نه غواړي د انرژۍ په برخه کې پر روسیې د مرکزي اسیا تکیه راکمه شي، د یادې پروژې له تطبیق سره لېوالتیا نه لري. همدارنګه ایران هم د جیوپولیټیکو سیالیو له مخې ورته اندېښنې لري، که د انرژۍ د انتقال په موخه افغانستان په یوه ټرانزیټي هېواد بدل شي؛ نو په سیمه کې به د ایران نقش راکم شي. افغانستان د مرکزي اسیا په ګاونډیتوب کې د مرکزي اسیا د طبیعي زېرمو د پلور لپاره دروازه ده. همدارنګه واخان کوریډور کولای شي چې ستر اقتصادي فرصتونه رامنځته کړي. ورته مهال افغانستان پراخې طبیعي زېرمې لري او کولای شي چې په کور دننه او بهر د صنعتي فابریکو لپاره خام مواد برابر کړي؛ خو دا چې په وچه کې راایسار دی او د هندوکش او پامیر غرونو له امله سخته جغرافیه لري، تګ راتګ یې ستونزمن کړی دی.[۲۲]

## د افغانستان اسلامي امارت او بېطرفه بهرنۍ سیاست

کله چې په ۲۰۰۱ ز.کال کې اسلامي امارت د امریکا متحده ایالاتو د پوځي برید پر مهال له منځه لاړ، طالبانو د یوې ډلې په توګه له بېلابېلو سازمانونو او هېوادونو سره اړیکې ټینګې کړې او همدارنګه ځینو هېوادونو له طالبانو سره په اړیکو ټینګولو کې خپلې ګټې تعریف کړې، له همدې امله طالبانو د بهرنیو اړیکو په جوړولو کې د پام وړ تجربه ترلاسه کړه. د اسلامي امارت بهرنۍ سیاست پر بېطرفۍ او نه لاسوهنې ولاړ دی او تېرو تجربو ته په کتو یې دغه تګلاره غوره کړې، دا ځکه چې د سیمې او نړۍ شرایط پېچلي دي. اسلامي امارت په سیمه کې د ترکمنستان له بېطرفۍ هم تر یوه بریده اغېزمن شوی، چې د یاد هېواد بېطرفي په نړیواله کچه پېژندل شوې. د اسلامي امارت لپاره د تېرو څلور لسیزو تاوتریخوالی د سترو ځواکونو له سیالۍ څخه د لرې پاتې کېدو اهمیت په ګوته کوي. له متحده ایالاتو سره د دوحې تړون هدف یوازې دا نه و چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي، بلکې د دې لپاره چې د رسمیت پېژندنې ترڅنګ د متحده ایالاتو اقتصادي ملاتړ هم ترلاسه کړي. که څه هم اسلامي امارت په بهرني سیاست کې بېطرفي اعلان کړې، خو په تطبیق کې به له ستونزو سره لاس او ګرېوان شي. د متحده ایالاتو له ماتې وروسته ډېر شمېر پوځي تجهیزات په افغانستان کې پاتې دي، د بېطرفه بهرني سیاست اعلانول د سیمې او نړۍ هېوادونو ته دا ډاډ ورکوي چې افغانستان له پوځي اړخه د هېڅ هېواد لپاره ګواښ نه دی.[۲۳]

دا چې په افغانستان کې جګړه پای ته رسېدلې او د جیوپولیټیکو سیالیو مخه نیول شوې، خو شونې ده په افغانستان کې جیواکونومیکي سیالۍ دوام ومومي، ځکه اسلامي امارت بېطرفه، متوازن او اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست لري، د بهرنیو پانګوالو پر مخ دروازې خلاصې دي؛ ګاونډي، د سیمې او نړۍ شرکتونه کولای شي د افغانستان په کانونو او بېخبناوو کې پانګونه وکړي، چې له امله به یې د افغانستان په پراخو طبیعي سرچینو کې بهرنۍ سیالي رامنځته شي، نو اړتیا ده چې اسلامي امارت جیواکونومیکو سیالیو ته جدي پاملرنه وکړي، په بهرنیو پانګونو کې توازن په پام کې ونیسي او د هر ډول ناسالمو سیالیو مخه ډب کړي.

## د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست ګټې او زیانونه

افغانستان خورا مهم جغرافیایي موقعیت لري چې د سیمه ییزو مهمو قدرتونو لکه چین او ایران سره ګډې پولې لري. په افغانستان کې د هر سیمه ییز یا نړیوال ځواک مداخله د پورته هېوادونو او همدارنګه د هند او روسیې اندېښنې راپاروي، نو د افغانستان جغرافیه په بهرني سیاست کې له هر ډول تصمیم نیونې سره مستقیم تړاو لري، چې کولای شي د افغانستان لپاره ګټورې یا زیانمنې پایلې ولري.

یو شمېر هېوادونه چې موخه یې سیمه ییز اقتصادي پرمختګ دی، په سیمه کې د ثبات د ټینګښت له لارې هڅه کوي له یوه لوري خپلې سیمه ییزې پروژې تطبیق کړي او له بل لوري په افغانستان کې د امنیت او ثبات د ټینګښت له لارې سیمه ییز ثبات او اقتصادي پرمختګ تجربه کړي. له همدې امله په افغانستان کې د چین یو له مهمو هدفونو د اوږدمهاله ثبات ټینګښت دی او پوځي مداخله هېڅله هم د ستونزو حللاره نه ګڼي.[٢٤]

افغانستان له اقتصادي پلوه کمزوری دی چې په ګاونډ کې د سیمې او نړۍ په کچه راپورته کېدونکي قدرتونه لري او یاد قدرتونه له متحده ایالاتو سره سیمه ییزې سیالۍ لري. د افغانستان جغرافیایي موقعیت او اوسنیو شرایطو ته په کتو، نه شو کولای چې د سیمې یا نړۍ د یوه قدرت پر ضد له بل مخالف قدرت سره ایتلاف وکړو، ځکه په سیاسي، اقتصادي او همدارنګه نظامي برخو کې ډېرې ستونزې لرو. د افغانستان په بهرني سیاست کې او د عامو افغانانو ترمنځ د بېطرفۍ مفهوم یوه متناقضه اصطلاح ده. د ځینو لپاره بېطرفي د تېرو شاهي نظامونو یوه بېلګه ده چې افغانستان پکې سوله او ثبات تجربه کړی؛ د ځینو نورو لپاره بېطرفي بیا یوه بې اغېزې اصطلاح ده، چې له امله یې افغانستان د ستراتیژیک جیوپولیټیک موقعیت له مخې سیاسي ثبات او اقتصادي پرمختګ نه دی تجربه کړی.[٢٥]

د افغانستان جیوپولیټیک ته په کتو، د نړۍ هر ښکېلاک چې غوښتل ځان هدف ته ورسوي، اړ و د افغانستان له خاورې تېر شي؛ د افغانستان تېرو واکمنانو هڅه کړې چې په جګړه کې له ښکېلتیا ډډه وکړي او بېطرفه پاتې شي، خو ولس بیا

هم د خپل جیوپولیټیک موقعیت له امله قرباني شوی. افغانستان له اقتصادي پلوه وروسته پاتې دی او په تېرو څلور لسیزو کې د بهرني سیاست اداره د سیمې او نړۍ له پېچلو سیاستونو سره اشنا نه وه، اوس اړتیا لیدل کېږي چې د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو له جیوپولیټیکو سیالیو د خوندیتوب په موخه بېطرفي غوره کړي. دا چې د تاریخ په اوږدو کې بېطرفه بهرنی سیاست د افغانستان په ګټه و او که په زیان او همدارنګه په اوسنیو شرایطو کې د بېطرفه بهرني سیاست غوره کول د افغانستان په ګټه دي او که په زیان، په لاندې ډول یې تر څېړنې لاندې نیسو.

## د بېطرفه بهرني سیاست ګټې

کله چې په ۱۸۳٦ ز.کال کې برتانوي هند، پېښور تر واک لاندې راوست، د فارس واکمن یې په څواب کې هرات تر خپل واک لاندې راوست، چې د افغانستان پر وړاندې جیوپولیټیکه سیالي په ډاګه کوي. برتانوي هند په ۱۸۳۸ ز.کال کې پر افغانستان یرغل وکړ او په ۱۸۴۲ ز.کال کې یې ماتې وخوړه. په ۱۸۷۸ ز.کال کې بیاځلي پر افغانستان برید وکړ او دا ځل یې په کابل کې خپل دایمي سفارت پرانیست او د افغانستان د خاورې ځینې برخې یې د برتانوي هند په قلمرو پورې وتړلې. په ۱۸۹۳ ز.کال کې د ډیورنډ فرضي کرښه د برتانیې له لوري په افغانستان وتپل شوه او د افغانستان یوه برخه یې جلا او په برتانوي هند پورې وتړله.[26]

دا چې افغانستان د برتانوي هند او تزاري روسیې په ستره لوبه کې رانښکېل و، د امیر عبدالرحمن خان لپاره د بېلابېلو قومونو د یوځای کېدو په پرتله خپلواکۍ لومړیتوب درلود. د دغو دوو هدفونو د خوندیتوب ترڅنګ امیر هڅه کوله د اقتصادي پرمختګ په موخه بهرنۍ پانګونه راجلب کړي. همداراز نوموړي په هېواد کې د رېل پټلۍ جوړولو مخه نیوله، ځکه باور دا و چې که یادې پټلۍ جوړې شي، نو بهرني ځواکونه به له هغو څخه په ګټې اخیستنې پر افغانستان یرغل وکړي او افغان پوځ به ونشي کولای مخه یې ونیسي.[27]

کله چې شوروي د مرکزي اسیا مسلمانان وځپل، نو یو شمېر تاجک او ازبک وګړي له مرکزي اسیا څخه افغانستان ته کډوال شول. دغه مهال په بخارا، خېوه او ټوله مرکزي اسیا کې د مرکزي اسیا له مسلمانانو د ملاتړ په موخه د بسمچي

غورځنګ رامنځته او په افغانستان کې امیر امان الله خان له یاد غورځنګ ملاتړ پیل او هڅه یې وکړه چې له افغانستان سره د مرکزي اسیا جمهوریتونو ګډ کنفدراسیون رامنځته کړي.[۲۸]

برتانوي امپراتورۍ هم خپلې سترې لوبې ته دوام ورکړ، په پایله کې شوروي اتحاد د بسمچي غورځنګ له ځپلو لاس پر سر شو او ژمنه یې وکړه چې د برتانوي هند په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې به قومي ستونزې نه راپورته کوي. لکه څرنګه مو چې د مقالې په اوږدو کې د بهرني سیاست څلورو ستراتیژیو ته اشاره وشوه، د سترې لوبې په ترڅ کې امان الله خان خپل یو ګاونډی د بل ګاونډي پر ضد وکاروه او خپله خاوره یې د سترو ځواکونو له مستقیمې لاسوهنې وژغورله. دغه کړنه د افغانستان بېطرفي ډاډمنوي او همدارنګه د سیالو قدرتونو د بهرنیو پالیسیو پېچلتیا هم په ډاګه کوي. په پایله کې پان اسلامیزم او د برتانوي هند شمال لوېدیځ سرحدي ولایت دواړه د افغانستان په اړه د دوو سترو قدرتونو د بهرنیو پالیسیو بنسټیز لمسوونکي عوامل وو. هندی لیکوال منوج کومار پر دې باور دی چې د نادرشاه په واک ته رسېدو کې برتانیې پټ لاس درلود او نادرشاه هم لکه د امان الله خان په څېر هڅه وکړه ستر قدرتونه یو له بل سره ښکېل وساتي، تر دې چې د افغانستان بېطرفي خوندي کړي. د وخت په تېرېدو، نادرشاه د مرکزي اسیا د بسمچي غورځنګ له ملاتړ لاس واخیست او ورته مهال شوروي هم په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې له قومي بېلتونپالنې لاس پر سر شو.[۲۹]

ستر قدرتونه تل کمزوري هېوادونه له اقتصادي اړخه یرغمل کوي. د مقالې لیکوال جوزیف اېس. روسېک په ۱۹۵۷ ز.کال کې په خپله مقاله "د افغانستان جیوپولیټیک" کې لیکي: د افغانستان لرغونی سلطنت چې د یونان، مغول، فارس او برتانوي یرغلونو ژوندی راوتلی، اوس کرملین ورته په کمین کې ناست دی. د ۱۹۵۵ ز.کال د ډسمبر پر ۱۸مه، افغان حکومت د شوروي اتحاد سل مېلیونه ۱۰۰۰۰۰۰۰۰ ډالره پور ومانه، چې د تېر مالي کال د ټول دولت د عوایدو نږدې پنځه برابره دی، د افغانستان وروسته پاتې اقتصاد به څرنګه د پور د بېرته ورکولو

وړتیا ولري. د امریکا حکومت بیا په دې هڅه کې دی چې په دغه هېواد کې د روسيې لېوالتیا کمزورې کړي. څو کلونه وړاندې یوه امریکايي شرکت د کندهار لویه لار جوړه کړه او یوه بل یې بیا د هېواد په جنوبي برخه کې د هلمند پر سیند د خټو لوی بند جوړ کړ. واشنګټن له افغانستان سره د تخنیکي مرستو په پروګرام کې هم همکاري کړې چې په کال کې دوه لکه ډالر لګښت پرې راځي. ځینې لوېدیځوال پر دې باور وو چې هر څومره امریکا د لومړي وزیر محمد داوود خان په حکومت کې ځان ځای کړي، هغومره د ښه بدلون امکان کم دی. امریکایانو اندېښنه درلوده چې که افغانستان د شوروي تر ولکې لاندې راشي، دغه هېواد به د خپلو ګاونډیانو، پاکستان او ایران لپاره چې د بغداد تړون غړي دي، دوامداره ګواښ رامنځته کړي، همدا د شوروي ستراتیژۍ اصلي هدف دی.[۳۰]

ښکاره ده چې امریکا او شوروي یادې مرستې خپلو سیاسي او امنيتي هدفونو ته د رسېدو په خاطر کولې. دا چې د افغانستان اقتصادي کمزورۍ تل د بهرنیو ناوړه نفوذ او یرغل ته زمینه برابره کړې، نو که غواړو د بهرنیو له لاسوهنو مو خلاصی موندلی وي، د خلاصون یوازینۍ لار اقتصادي پرمختګ او د بهرني سیاست مسلکي توب دی.

بې‌طرفي په خورا ابتدايي بڼه، په دې معنا ده چې د منځوې لارې غوره کول او په فعاله شخړه او یا هم د دولتونو ترمنځ په نافعاله سیالۍ کې د مستقیم یا نامستقیم اقدام یا ونډې له لارې طرف نه نیول، په تاریخي ډول افغان واکمنانو د بې‌طرفۍ پلوي کوله چې افغانستان د لوی ځواک له سیالۍ لرې وساتي. دغه ډول پالیسۍ کورنۍ ثبات تأمین کړی و او په افغانستان کې یې د بهرنیو سیالیو مخه نیولې وه، د افغانستان بهرني سیاست په اړه یوه خبره ډېره مشهوره ده چې: "کله نړۍ په جګړه کې وه؛ موږ په سوله کې وو" دې حقیقت ته اشاره کوي چې افغانستان د دوو نړیوالو جګړو په اوږدو کې د ثبات تر ټولو اوږده دوره لرله او هېواد د اقتصادي پراختیا، ارتباطاتو او سوداګرۍ په برخه کې ګټه وکړه. د یوه بې‌طرفه افغانستان د دفاع تر ټولو پیاوړی دلیل تل د افغانستان په خاوره کې د سترو قدرتونو د ناسالمو سیاستونو مخنیوی دی. کله چې افغانستان لویو قدرتونو ته نږدې شوی، نو د خپل ځان او نورو لپاره ګواښ جوړ شوی دی. ډېر افغان کارپوهان

استدلال کوي چې په تېر کې له برتانوي راج، شوروي اتحاد او په دې وروستیو کې له متحده ایالاتو سره د هېواد اتحاد، تل غمجنې پایلې لرلې دي؛ هېواد هغه مهال سوله ییز پاتې شوی چې د سیاسي بفر او اقتصادي دهلېز په توګه یې رول لوبولی. د افغان لیکوال تمیم عاصي د لیکنې پر بنسټ، د افغانستان لپاره د بېطرفه بهرني سیاست د غوره کولو لږ تر لږه څلور دلیلونه شته:

۱. افغانستان له کمزورو دولتي بنسټونو سره مل یو کمزوری هېواد دی چې د بهرنیو لاسوهنو او یرغلونو پر وړاندې ډېر زیان منونکی دی. بېطرفه دریځ کولای شي چې د داخلي اقتصاد په بیارغونه کې مرسته وکړي.

۲. په افغانستان کې نه یوازې دا چې د متمرکز او غیر متمرکز دولت په اړه بنسټیزه همغږي نشته، بلکې په اړه یې متضاد چلندونه شته؛ دا ډول چاپېریال د بهرنیو لاسوهنو لپاره مناسب دی چې هېواد بې ثباته کړي.

۳. بېطرفي کولای شي د افغانستان ګاونډیانو او سیمه ییزو قدرتونو د ډاډ لپاره لار هواره کړي، چې د افغانستان خاوره به د نورو پر ضد نه کارول کېږي، دا به د هیواد رغنده رول لوبولو ته اجازه ورکړي.

۴. بېطرفه افغانستان کولای شي چې د سیمه ییزې سوداګرۍ، د انرژۍ همکارۍ او همدارنګه د طبیعي زېرمو د پراختیا مرکز په توګه رول ولوبوي.

بېطرفه افغانستان کولای شي چې د ځمکنۍ بشپړتیا او د حاکمیت پر ساتنې سربیره د ځان دفاع او داخلي امنیتي ننګونو د حل لپاره یو کوچنی امنیتي ځواک هم ولري.[31]

په شلمه پېړۍ کې شوروي اتحاد او د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې متحده ایالاتو پر افغانستان پوځي یرغلونه وکړل او د افغانستان لپاره یې ناخوالې رامنځته کړې. په نولسمه او شلمه پېړۍ کې افغانستان بېطرفه بهرنی سیاست درلود او د هغه مهال له شرایطو سره برابر و او افغانستان تر یوه بریده اقتصادي پرمختګ هم تجربه کړ، چې ښکاره د افغانستان لپاره د بېطرفه بهرني سیاست ګټې په ډاګه

کوي؛ خو یوې موضوع ته باید پاملرنه وشي چې له اسلامي نړۍ او د نړۍ له نورو هېوادونو سره په تعامل کې لنډمهال (مؤقته) بېطرفي کولای شي د افغانستان لپاره ګټورې پایلې راوړي.

## د بېطرفه بهرني سیاست زیانونه

افغانستان په لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه کې خپله بېطرفي خوندي کړه، خو د سړې جګړې په اوږدو کې د متحده ایالاتو او شوروي اتحاد په لومه کې ښکېل شو، بېلابېلې ستراتیژۍ یې په کار واچولې چې بېطرفي وساتي، نو د ناپېیلتوب غورځنګ غړی شو. جیوستراتېژیک موقعیت ته په کتو، سترو قدرتونو تل هڅه کړې چې افغانستان د سیالو قدرتونو له نفوذ لرې وساتي، خو چې کله دغه موازنه منځه تللې، افغانستان او یرغلیز ښکېلاک دواړو ته زیانونه اوښتي.[۳۲]

دویمې نړیوالې جګړې افغانستان ته فرصت ورکړ چې د برتانوي هند شمال لوېدیځ سرحدي ولایت بېرته له خپلې خاورې سره یوځای کړي. پلازمېنې برلین له افغان دولت سره ژمنه وکړه چې که افغان حکومت په شمال-لوېدیځ هند کې ناارامي راپورته کړي، په بدل کې به یې د اتلسمې پېړۍ د دراني پاچاهۍ له قلمرو څخه بېله شوې سیمه شمال لوېدیځ سرحدي ولایت (اوسنی پښتونخواه) بېرته له افغانستان سره یوځای کړي. افغانانو په دې اړه د وخت غوښتنه وکړه چې په اړه یې پرېکړه وکړي. دغه مهال شوروي اتحاد د جرمني په ضد له جګړې سره یوځای شوی و. برتانیې او شوروي په ګډه ایران تر اشغال لاندې راوست. د افغانانو لپاره دا یوه مهمه موضوع وه چې په اړه یې انتظار کاوه. لندن او مسکو غوښتنه وکړه چې له ډیپلوماتیکو غړو پرته د محور غړو هېوادونو ټول پرسونل له افغانستان څخه ووځي. په ۱۹۵۳ ز.کال کې لومړي وزیر سردار محمد داود خان هڅه وکړه د متحده ایالاتو پوځي تجهیزات ترلاسه کړي، خو ویې نشو کړای، نو شوروي اتحاد ته یې مخه کړه، چې له امله یې د کابل-واشنګټن ترمنځ ترخې پایلې رامنځته شوې.[۳۳]

که څه هم په اروپا کې جګړه روانه وه او افغانستان سوله او ثبات تجربه کاوه، د بېطرفه بهرني سیاست له امله د وخت حاکم نظام ونشو کړای د شمال لوېدیځ سرحدي

ولایت په اړه د جرمني وړاندیز ومني، شونې وه د لوی افغانستان تاریخي غوښتنه چې اوسنۍ پښتونخواه د افغانستان له خاورې سره یوځای کړي، ترلاسه کړې وای.

د پوځي تجهیزاتو د ملاتړ په موخه ورته پېښنه د لومړۍ نړیوالې جګړې په اوږدو کې هم پېښه شوه. په ۱۹۱۵ ز.کال کې، د ترکیې-جرمني پوځي ماموریت په کابل کې امیر حبیب الله خان سره وکتل، د هوکړه لیک یوه مسوده یې لاسلیک کړه او ژمنه یې وکړه چې افغان دولت سره به د وسلو او پیسو د ورکړې په برخه کې مرسته کوي، خو شرط دا و چې افغان دولت به د برتانوي هند په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې پوځي مداخله کوي. همدارنګه، د لومړۍ نړیوالې جګړې په اوږدو کې د افغانستان د بېطرفۍ له امله د هند حکومت د امیر حبیب الله خان غوښتنه چې د پاریس د سولې په کنفرانس کې ګډون وکړي، رد کړه.[٣٤]

افغان واکمنانو ته د برتانوي هند د شمال لوېدیځ سرحدي ولایت د بېرته ترلاسه کولو لپاره ځینې فرصتونه برابر شوي، خو د وخت افغان دولتونو پر خپلې بېطرفۍ ټینګار کړی او یاده ستراتیژي تر یوه بریده اغېزمنه نه ده واقع شوې. په ځینو تاریخي پېښو کې دایمي بېطرفۍ د افغانستان لپاره ګټه نه، بلکې زیان اړولی او اړتیا ده چې په هره پېښه کې د سیمې او نړۍ شرایط او همدارنګه د پېښو ځانګړی والی په پام کې ونیول شي او لنډمهاله بېطرفي غوره شي.

افغانستان د دې لپاره چې خپله بېطرفي وساتي، د ۱۹۳۱ ز.کال د جون پر ۲۴ مه یې له شوروي اتحاد سره د "بېطرفۍ او دوه اړخیز نه تېري تړون" لاسلیک کړ، چې په ۱۹۵۵ ز.کال کې یو ځل بیا تمدید شو. د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال د ځواک موازنه د شوروي اتحاد په ملاتړ مخې ته لاړه او لامل یې دا و چې افغان حکومت له متحده ایالاتو د پوځي مرستې غوښتنه وکړه او متحده ایالاتو مثبت ځواب ورنکړ؛ همدارنګه متحده ایالاتو په سیمه کې د افغانستان په پرتله پاکستان ته اهمیت ورکړ، له همدې امله کابل یې مسکو ته نږدې کړ. د محمد داود خان له لوري د پښتونستان موضوع، پر افغانستان د پاکستان سوداګریز بندیز او ورته مهال افغانستان سره د شوروي مرستې، هغه عوامل وو چې د شوروي اتحاد

او افغانستان اړیکې یې نږدې کړې. په ۱۹۵۰مو ز.کلونو کې، افغانستان سره د متحده ایالاتو مرستې د ۱۵۰ مېلیون ډالرو او شوروي اتحاد مرستې د ۲۵۰ مېلیون ډالرو په شاخوا کې وې، چې ښکاره په کابل کې د مسکو نفوذ په ډاګه کوي. که څه هم وروسته متحده ایالاتو هڅه وکړه چې افغانستان سره په خپلو اړیکو کې نه توازن بېرته جبران کړي، خو دا هغه وخت و چې شوروي په افغانستان کې د پام وړ نفوذ کړی و او په کور دننه د محمد داود خان د پالیسۍ بدلون هم د دې لامل شو چې کودتا پرې وشوه او له دې لارې شوروي اتحاد خپل نفوذ خوندي وساته. د لیکوال وېلیام اېچ. اورهالټ په باور هغه عمده لامل چې شوروي پر افغانستان پوځي یرغل وکړ، هغه په ۱۹۷۰ یمه لسیزه کې په سیمه کې د شوروي اتحاد په ګټه د سیمه ییز ځواک بېلانس بدلون و. د شوروي پوهانو له نظره، په ویتنام کې له ماتې سره سم متحده ایالاتو خپله پوځي اراده وبایلله او په سیمه کې د خپلو ځواکونو د ملاتړ په موخه یې لوجستیکي وړتیاوې هم راټیټې شوې. بل لور ته د شوروي اتحاد لوجستیکې شبکې پراخې شوې او د دې وړتیا یې وموندله چې له انګولا او اېتوپیا څخه تر یمن او افغانستان پورې د خپلو عملیاتو ملاتړ وکړي. په ټوله کې، په متحده ایالاتو کې د جېمي کارټر اداري هڅه چې په شخړو کې له ښکېلتیا ځان وژغوري او همدارنګه په هنګري او چکوسلواکیا کې د شوروي اتحاد د کړنو پر وړاندې د متحده ایالاتو دوه زړه توب، هغه عوامل وو چې مسکو په خپل بهرني سیاست کې پراختیا غوښتنه لاپسې چټکه کړه.[۳۵]

ډېری پالیسي جوړوونکي او تاریخپوهان استدلال کوي چې د کلونو بېطرفۍ هیواد ته هېڅ اقتصادي او مالي لاسته راوړنې نه دي راوړي. دوی ادعا کوي چې د سولې او ثبات لپاره د ځواک پر ځای بېطرفي په افغانستان کې د دوه پرلپسې انقلابونو اصلي محرک و، د پاچاهۍ او لومړي جمهوریت د نسکورېدو لامل شو، چې دا د خلکو تر منځ د پراخې بې وزلۍ له امله و. د بېطرفۍ مخالفان دا استدلال هم کوي چې دا د اتلسمې پیړۍ لپاره غوره پالیسي وه، په کوم کې چې د تزاري روسیې او برتانوي هند ترمنځ ستره لوبه روانه وه. له هغه وخت راهیسې په افغانستان او شاوخوا سیمه کې جیو پولیټیکل منظرې او ټیکنالوژۍ د پام وړ بدلون موندلی، نو د

ليکوال په باور داسې انګېرل کېږي چې بېطرفي نور د افغانستان لپاره د تطبيق وړ مفهوم نه دی او د هېواد په زيان ده؛ په دې اړه لاندې دلايل راوړي:

۱. جيوپوليټيکل واقعيتونه ته په کتو، که افغانستان بېطرفي خپله کړي، نو ستر قدرتونه ورڅخه مخ اړوي، چې د بهرنۍ پانګونې او اقتصادي پرمختګ مخه نيسي، نو اړتيا ده چې افغانستان په نړيوال نظم کې فعال رول ولوبوي او د انرژۍ د پله او د سوداګرۍ د مرکز په توګه د همکارۍ پر مرکز بدل شي.
۲. په کور دننه سياستونه او د همغږۍ نشتوالی د افغانستان بېطرفي ناشونې کوي.
۳. افغانستان به د اوږدې مودې لپاره مسلکي اردو او امنيتي ځواکونو جوړولو او دوام لپاره تخنيکي-پوځي ملاتړ ته اړتيا ولري، چې له ځان دفاع وکړي، بېطرفي د پوځي مرستو دا ډول اړتياوې نشي پوره کولای.
۴. د افغانستان په ګاونډ کې ګڼ شمېر شته قدرتونه يو پر بل بې باوره دي چې د پياوړو نړيوالو او سيمه ييزو تضمينونو په نشتوالي کې د افغانستان د بېطرفۍ دوامنول ستونزمنوي.

د يوې ښې طرحې شوې بهرنۍ پاليسۍ نشتوالی، په نړيوال سيستم کې دا دليلونه د يو بېطرفه دولت په توګه د افغانستان د بهرنۍ او امنيتي پاليسۍ د تنظيمولو ننګونې په ګوته کوي.[۳۶]

ګاونډي هېوادونه په وچې پورې د رااېسارو هېوادونو له مجبوريت څخه ناوړه ګټه پورته کوي. د تاريخي، اقتصادي او جيوپوليټيکو فکټورونو د ارزونو پر بنسټ، هند او پاکستان د خپلو ګاونډيانو هر يو نيپال او افغانستان له مجبوريت څخه چې په وچې پورې رااېسار دي، له مجبوريت څخه يې ګټه اخلي. که له سياسي او اقتصادي پلوه دغه حالت افغانستان او نيپال زيانمنوي، خو له ستراتيژيک اړخه همدغه هېوادونه بيا د هند او پاکستان لپاره له امنيتي اړخه مهم او د اندېښنې وړ هم دي. جيوپوليټيک موقعيت ته په پاملرنې، افغانستان او نيپال په خپل وار فرصتونه هم لري چې کولای شي پر پاکستان او هند خپله تکيه راکمه کړي. دوی

کولای شي چې په خپلو بهرنیو اړیکو کې د پاکستان او هند په ګډون د سیمه ییزو سیالانو پر وړاندې توازن رامنځته او سیاسي او اقتصادي ګټې ترلاسه کړي.[۳۷] دا په دې معنا، افغانستان او نیپال کولای شي چې د خپلو جیوپولیټیکو موقعیتونو څخه په ګټې اخیستنې او همدارنګه خپلو ملي ګټو ته په کتو، سیمه ییز سیالان یو د بل پر وړاندې وکاروي او په ترڅ کې خپلې ګټې تعقیب کړي.

## پایله

په تېر کې سترو قدرتونو د افغانستان بېطرفۍ ته درناوی نه دی کړی. د هېواد جیوپولیټیک موقعیت او کمزوري اقتصاد ته په کتو افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د ښکېلاک تر تاړاک لاندې راغلی چې واکمن نظامونه باید د ګاونډیو او د سیمې د هېوادونو ګټې او حساسیتونه په پام کې ونیسي او بهرنۍ سیاست پیاوړی مدیریت کړي. افغانستان ځانګړی ستراتیژیک موقعیت لري چې په بهرنیو اړیکو کې د توازن په پام کې نیولو سره کولای شي سیمه ییز اتصال رامنځته کړي.

په افغانستان کې د اسلامي امارت بیاځلي واک ته رسېدو سره بهرنۍ سیاست بېطرفه، متوازن او اقتصاد محوره اعلان شوی، چې تر دې دمه یې تدوین شوې بڼه نه ده چمتو شوې او د هېواد د امنیت او ثبات په ټینګښت کې ګټور ثابت شوی دی. د یوویشتمې پېړۍ په اوسنیو مهمو شرایطو کې چې د افغانستان په شاوخوا کې د سیمې او نړۍ ستر قدرتونه شته، اړتیا ده افغانستان نیمه بېطرفي غوره کړي؛ له یوه لوري به په نړیوالو چارو کې فعال ښکېل پاتې شي او له بل لوري به د ځانګړي ستراتیژیک موقعیت په لرلو سره د نړیوالو له پاملرنې ونه غورځي، خو د دې لپاره اړتیا ده چې د افغانستان د ډیپلوماسۍ اداره لاپسې فعاله شي او د نړۍ پېچلي شرایط درک کړي.

افغانستان د سیمې لپاره جیوپولیټیک اهمیت لري، چې د یوویشتمې پېړۍ په پیل سره د جیوپولیټیک ترڅنګ جیواکونومیک اهمیت یې هم لوړ شوی دی. افغانستان د اوبو پراخې سرچینې لري چې له ایران سره وړاندې له وخته د اوبو د مدیریت پر سر تړون لري، د دې ترڅنګ کولای شي د امو او کونړ سیندونو اوبه هم مدیریت کړي. ورته مهال، افغانستان د اسیا څلورلارې په توګه کولای شي د انرژۍ د انتقال او سیمه ییز ټرانزیټ په موخه د بېلابېلو سیمه ییزو پروژو تطبیق ته زمینه برابره کړي، لکه د تاپي او کاسا زر پروژې، د پنځو ملتونو رېل پټلۍ، واخان کوریډور او همدارنګه د چین- افغانستان رېل.

که څه هم افغانستان پیاوړی جیوپولیټیک موقعیت لري؛ خو دایمي بېطرفي د افغانستان په ګټه نه ده، ځکه هېواد د نړیوالو له پاملرنې غورځي او اقتصاد یې نور هم کمزوری کېږي. د لنډمهالې (موقتې) بېطرفۍ له لارې افغان حکومت کولای شي ځمکنۍ بشپړتیا ډاډمنه او د توازن په پام کې نیولو سره په سالم ډول د سیمه ییزو او نړیوالو سیالو قدرتونو پاملرنه ځانته راواړوي او له دې لارې بهرنۍ پانګونه راجلب کړي، خو تر هر څه دمخه بهرنۍ سیاست باید پیاوړی شي او په اړونده اداره کې داسې کسان باید وګومارل شي چې د سیمې او نړۍ له پېچلو شرایطو سره بلد وي او په سختو شرایطو کې د بېړنیو پرېکړو د نیولو وړتیا ولري. په پای کې، د افغانستان جیوپولیټیک موقعیت ته په پاملرنې د موقتې بېطرفۍ ګټې د زیانونو په پرتله ډېرې دي.

## وړاندیزونه

افغانستان څو ځله د خپل مهم جغرافیوي موقعیت له امله د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو تر تاړاک لاندې راغلی او همدارنګه د اوږدې مودې لپاره د قدرتونو د لاسوهنو ښکار شوی دی، نو پورته موضوع ته په کتو یو شمېر وړاندیزونه وړاندې کوو.

١. د بېطرفۍ د خوندیتابه لپاره اقتصادي پرمختګ ته اړتیا ده، ځکه پیاوړي اقتصاد لرونکي هېوادونه په اسانۍ د بهرنیو تر یرغل لاندې نه راځي، نو د افغانستان اسلامي امارت دې کورني اقتصادي پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

٢. افغان حکومت دې په خپل بهرني سیاست کې لنډمهاله (موقته) بېطرفي او متوازنې اړیکې غوره او دوام ورکړي، د سیمې او نړۍ له سترو قدرتونو سره دې په نظامي تړونونو کې برخه نه اخلي.

٣. په افغانستان کې اوس هم د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو سیالۍ شته، چې تر یوه بریده د اسلامي امارت د بېطرفه او متوازن بهرني سیاست له لوري مدیریت شوي، خو بیا هم اندېښنې شته چې کېدای شي افغانستان یو ځل بیا د سترو قدرتونو په لومه کې ښکېل شي. نو وړاندیز کېږي چې د افغانستان د بهرني سیاست اداره دې د سیمې او نړۍ له پېچلو سیاستونو سره اشنا شي او کورنی اقتصادي پرمختګ تجربه کړي، ترڅو د ښکېلاک له هر ډول لومې په امان کې شو.

## اخځلیکونه

[1] Ziaulhaq Amiri and Sharifullah Habibyar. “A Descriptive Look at the Factors Influencing the Geopolitics of Afghanistan”, *Journal for Research in Applied Sciences and Biotechnology*, Vol. 2, Issue 2, 2023, pp. 177-178. https://doi.org/10.55544/jrasb.2.2.26

[2] B.D. Hopkins. “*The Making of Modern Afghanistan*,” Palgrave Macmillan, 2008, p. 35.

[3] Keith McLachlan. “Afghanistan: The geopolitics of a buffer state”, *Geopolitics and International Boundaries*, Vol. 2, No. 1, 1997, p. 85. http://dx.doi.org/10.1080/13629379708407579

[4] Michael Greenfield Partem. “The Buffer System in International Relations”, *Journal of Conflict Resolution*, Vol. 27, No. 1, 1983, p. 14. https://doi.org/10.1177/0022002783027001001

[5] McLachlan. “Afghanistan: The geopolitics of a buffer state”, pp. 86-94.

[6] Partem. “The Buffer System in International Relations”, p. 4-12.

[7] James Biser Whisker and Kevin R. Spiker. “*Theories of Geopolitics*”, Nova Science Publishers, New York, USA, 2022, pp. 1-2.

[8] Whisker and Spiker. “*Theories of Geopolitics*”, pp. 3-4.

[9] Francis P. Sempa. “*Geopolitics: From the Cold War to the 21st Century*,” Transaction Publisher, USA, 2002, pp. 5-6.

[10] M. Hassan Kakar. *“A Political and Diplomatic History of Afghanistan 1863-1901”*, Brill, Leiden-Boston, 2006, p. 1.

[11] Manoj Kumar Mishra. “Afghan Neutrality”, *World Affairs: The Journal of International Issues*, Vol. 19, No. 3, 2015, pp. 85-86. https://www.jstor.org/stable/10.2307/48505456

[12] Luis Dupree. *Afghanistan*, Princeton University Press, 1980, pp. 422-427.

[13] Maximilian Drephal. “Afghanistan and the Coloniality of Diplomacy: The British Legation in Kabul, 1922-1948”, *Springer*, 2019, p. 51.

[14] Neville Maxwell. "How the Sino-Russian boundary conflict was finally settled", *Critical Asian Studies*, Vol. 39, No. 2, 2007, p. 236. http://dx.doi.org/10.1080/14672710701340079

[15] Dupree. *Afghanistan*, pp. 427-429.

[16] Ijaz Khan, "Afghanistan: A geopolitical study", *Central Asia Survey*, Vol. 17, No. 2, 1998, pp. 495-499. http://dx.doi.org/10.1080/02634939808401049

[17] Partem. "The Buffer System in International Relations", p. 20.

[18] Mishra. "Afghan Neutrality", p. 84.

[19] Mirwais Balkhi. Afghanistan's Necessary Shift in Ethnic Narratives: From Dominance to Dialogue, *Wilson Center*, March 21, 2023. https://www.wilsoncenter.org/blog-post/afghanistans-necessary-shift-ethnic-narratives-dominance-dialogue

[20] Mishra. "Afghan Neutrality", p. 87.

[21] Martin McMauley. *Afghanistan and Central Asia: A Modern History*, Pearson Education Limited, London 2002, p. 4.

[22] Sajad Ali Sakandari. "Contemporary Afghan Geopolitics and the Main Geopolitical Advantages of Afghanistan's Geography", *International Research Journal of Human Resource and Social Sciences*, Vol. 7, Issue 08, August 2020, pp. 30-43. https://www.academia.edu/44123993/Contemporary_Afghan_Geopolitics_and_the_Main_Geopolitical_Advantages_of_Afghanistans_Geography

[23] Kristian Berg Harpviken, The Foreign Policy of the Afghan Taliban, *Peace Research Institute Oslo (PRIO)*, Policy Brief 02 2021, p. 4.

[24] Van Der Kley, China's Foreign Policy in Afghanistan, *Lowy Institute for International Policy*, 2014, p. 13. https://www.lowyinstitute.org/sites/default/files/chinas-foreign-policy-in-afghanistan_0.pdf

[25] Tamim Asey. Rebooting neutrality in Afghan foreign policy – A framework for global and regional engagement on Afghanistan post-US and NATO withdrawal, *Atlantic Council*, April 29, 2021.

https://www.atlanticcouncil.org/blogs/southasiasource/rebooting-neutrality-in-afghan-foreign-policy/

[26] McMauley, *Afghanistan and Central Asia: A Modern History*, pp. 5-6.

[27] M. Hassan Kakar, *Afghanistan: A Study in International Political Development 1880-1896*, Kabul, 1971, pp. 83-159.

[28] McMauley, *Afghanistan and Central Asia: A Modern History*, pp. 7-8.

[29] Mishra. "Afghan Neutrality", p. 90.

[30] Joseph S. Roucek. "The Geopolitics of Afghanistan", *The Social Studies*, Vol. XLVIII, No. 4, 1957, pp. 128-129. http://dx.doi.org/10.1080/00220973.1940.11018086

[31] Asey. Rebooting neutrality in Afghan foreign policy – A framework for global and regional engagement on Afghanistan post-US and NATO withdrawal.

[32] Mishra. "Afghan Neutrality", p. 100.

[33] McMauley. *Afghanistan and Central Asia: A Modern History*, pp. 10-13.

[34] Drephal. "Afghanistan and the Coloniality of Diplomacy: The British Legation in Kabul, 1922-1948", pp. 48-53.

[35] William H. Overholt. "The Geopolitics of the Afghan War", *Asian Affairs: An American Review*, Vol. 7, No. 4, 1980, pp. 207-211. http://dx.doi.org/10.1080/00927678.1980.10553885

[36] Asey. Rebooting neutrality in Afghan foreign policy – A framework for global and regional engagement on Afghanistan post-US and NATO withdrawal.

[37] Stuti Bhatnagar and Zahid Shahab Ahmed. "Geopolitics of Landlocked States in South Asia: A Comparative Analysis of Afghanistan and Nepal", *Australian Journal of International Affairs*, 2020, pp. 15-16. https://doi.org/10.1080/10357718.2020.1793896

معاون سرمحقق ضياالحق ضيا

# د بېطرفه بهرني سياست تيوريکي څېړنه

## د افغانستان اسلامي امارت په اړه ځانګړې مطالعه

### لنډيز

په دې مقاله کې د رياليزم نظريې پر اساس د بې طرفه بهرني سياست تيوريکي څېړنه ترسره شوې؛ خو د دې ترڅنګ هڅه شوې چې د ليبراليزم د نوي مکتب انسټيټوشنليزم د پلويانو نظريات هم راوړل شي، ياده تيوريکي څېړنه د بې طرفه بهرني سياست ګټې، زيانونه او په دې اړه مثبت او منفي باورونه را په ګوته کوي، رياليزم د قدرت موازنې، د زور له لارې د ملي ګټو تعقيب او د دولتونو ځان غوښتنې ته په پام بې طرفۍ ته چې د دولتونو د بهرني سياست د پرېکړچيانو پر وړاندې محدوديتونه رامنځته کوي؛ پام نه کوي او په بدبينانه سترګو ورته ګوري، خو د ليبراليزم د نظريې پلويان دا ډول پاليسي مني او په ځانګړې توګه د کوچنيو او کمزورو دولتونو له خوا يې غوره کول منطقي او پر ځای عمل بولي.

د مقالې دويمه برخه د افغانستان د اسلامي امارت بهرني سياست ته ځانګړې شوې، په دې برخه کې د افغانستان د بې طرفه بهرني سياست تاريخ ته لنډه کتنه شوې، د اسلامي امارت د چارواکو دريځونه روښانه شوي او په پای کې د غوره بهرني سياست ټاکلو پر شونتياوو بحث شوی او دا واضح شوې چې د سيمه ييزو او نړيوالو ګواښونو د مخنيوي په موخه بايد لږ ايډياليست او ډېر واقعبينه واوسو او بين المللي اصولو ته په پام سره د نظامي او اقتصادي ځواکمنتيا په موخه بهرنی سياست خپل او د دايمي بې طرفي پرځای، د اړتيا پرمهال د ځانګړو پېښو په اړه موردي او لنډ مهاله بې طرفي خپله کړو.

### کليدي ټکي

بې طرفي، بهرنی سياست، رياليزم، انسټيټوشنليزم، افغانستان.

### سريزه

په بهرني سياست کې د بې طرفۍ په اړه د بين المللي اړيکو د نظريو ترمنځ د بحثونو پراخېدل د دې لامل شوي چې په دې اړه بېلابېل نظرونه وړاندې شي،

ریالیزم په یوه دولت محوره، نادوستانه او ځان غوښتونکي بین المللي چاپېریال کې بې طرفي له پامه غورځوي او د قدرت موازنې او د ملي ګټو تعقیب ته لومړیتوب ورکوي؛ د دولت حاکمیت ته د داسې ستر اهمیت په سترګه ګوري چې د نظامي ورتیاو ترڅنګ یې باید په ټولو شونو وسیلو ساتنه وشي، له همدې امله دوی بې طرفي (چې د بهرني سیاست د پرېکړه کوونکو پر وړاندې محدودیتونه رامنځته کوي) نه مني. په مقابل کې یې د لیبرالیزم په تېره بیا د انستیټیوشنلیزم مکتب پلویان په دې نظر دي چې د بین المللي اړیکو نورمونه او د هېوادونو کورني خوځښتونه په ځانګړې توګه کوچني او کمزوري هېوادونه د بې طرفي پر لوري بیايي؛ دوی بې طرفي ته د بین المللي دریځ په توګه ارزښت ورکوي او د یوه هېواد او نړیوالې سولې لپاره یې د تائید وړ بولي.

د سړې جګړې پرمهال، د ګڼ شمېر هېوادونو له خوا بې طرفي د سیاسي پالیسیو په توګه غوره شوه، خو له سړې جګړې وروسته یې ارزښت له لاسه ورکړ، هماغه و چې دایمي بې طرفو هېوادونو هم په بېلابېلو بڼو په خپلو بهرنیو سیاستونو کې له پامه وغورځوله. په همدې لړ کې افغانستان هم د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پرمهال بې طرفي اعلان کړې وه او د سړې جګړې پرمهال یې د ناپییلو هېوادونو د غورځنګ له لارې تعقیبوله، خو په ۱۹۷۹ز.کال کې یې د شوروي اتحاد په یرغل سره دا ډول سیاست پرېښود او له سیاسي او نظامي پلوه له ختیځ بلاک سره یوځای شو. که څه هم د شوروي اتحاد د یرغل پرمهال او له هغه وروسته په کور دننه او بهر د افغانستان د بې طرفۍ په اړه یو شمېر نوښتونه وشول، خو په پرلپسې توګه ناکام او کومې پایلې ته ونه رسېدل.

کله چې په ۲۰۲۱ز.کال د اګست پر ۱۵ نېټه اسلامي امارت بیاځلې واک ته ورسېد، د هېواد لوړ پوړو چارواکو یو ځل بیا د متوازن بهرني سیاست ترڅنګ د بې طرفه

بهرني سياست د پلي کولو په اړه څرګندونې وکړي، نو له یوې خوا د بې طرفۍ په اړه تيوريکي څېړنه او له بلې خوا د همدې څېړنې په چوکاټ کې په اوسنيو شخړه ييزو او له بې باوريو ډکو سيمه ييزو او نړيوالو شرايطو کې د افغانستان د بې طرفۍ او په ټوله کې د بهرني سياست په اړه څېړنه ترسره کول، اهميت لرونکې موضوع بلل کېږي.

د دې څېړنې ميتود تشريحي ـ تحليلي دی او د لاندې پوښتنو د ځواب هڅه په کې شوې ده: د بين المللي اړيکو د اصلي جريان د تيوريانو له ډلې څخه د رياليزم نظريې پلويان د بې طرفه بهرني سياست په اړه څه دريځ لري؟ ايا د بين المللي اړيکو د اصلي جريان تيورياني (ليبراليزم او رياليزم) د بې طرفه بهرني سياست په اړه روښانه توضيح وړاندې کولای شي؟ ايا د افغانستان اسلامي امارت د بې طرفه بهرني سياست په پلي کولو سره، د سيمه ييزو او نړيوالو ګوابښونو مخه نيولای او د هېواد ملي ګټې خوندي کولای شي؟

داسې فرض کولای شو چې رياليزم بې طرفۍ ته په ښه سترګه نه ګوري او پر ځای يې د قدرت موازنه او د زور له لارې د ملي ګټو تعقيب ته ډېر پام کوي. ويلای شو چې د ملي ګټو د ترلاسه کولو او د بې طرفي د توضيح په اړه د رياليزم او ليبراليزم نظريې نيمګړې دي او نشي کولای په يواځې توګه د بې طرفه بهرني سياست په اړه غوره توضيح وړاندې کړي. همدارنګه ويلای شو چې اسلامي امارت يواځې د بې طرفه بهرني سياست په خپلولو سره د بهرنيو ګوابښونو مخه نشي نيولای، بلکې کولای شي د هېواد د ځواکمنتيا، د ملي ګټو د تعقيب او د ګوابښونو د مخنيوي په موخه د پياوړو شريکانو د پيدا کولو ترڅنګ، د دايمي بې طرفۍ پرځای، په ځانګړو مواردو کې لنډ مهاله بې طرفي خپله کړي.

## لومړی. د بېطرفۍ پېژندنه

بېطرفي ( Neutrality) له لاتيني (Neuter) کلمې څخه اخيستل شوې ده چې د هيڅ يو(Nither) په معنا ده. اکسفورډ ډيکشنري بې طرفي داسې تعريفوي:

«بې طرفي د دوو جنګي ډلو ترمنځ د منځني موقعيت داسې غوره کولو ته وايي چې د دښمنۍ پرمهال غير فعال پاتې کېږي يا د جګړې په څېر عملياتو له ساحې څخه بهر او معاف وي»[1].

د نړيوال قانون د سيستم په اړه د لومړي کتاب ليکوال هوګو ګروټيس له نظره:« هغه ملتونه چې له دښمنۍ څخه بهر وي بې طرفه بلل کېږي »[2].

د بين المللي حقوقو له نظره هغه دولتونه بې طرفه بلل کېږي چې د نورو هېوادونو ترمنځ په جګړه کې د ګډون نه کولو دريځ لري[3].

دا يواځې له جګړې څخه ځان ساتل نه دي، بلکې يوه داسې اړيکه ده چې د بې طرفه دولت له خوا پکې په جګړې کې د ښکېلو دولتونو پر وړاندې او همدارنګه د ښکېلو دولتونو له خوا د بې طرف دولت پر وړاندې حقوق او مکلفيتونه راځي.

د وخت په تېرېدو سره د بې طرفۍ په ادبياتو کې د بين المللي حقوقو په کلاسيکې معنا ډېر بدلونونه راغلي دي او د بې طرفۍ د نظريې نوي شکلونه په بېلابېلو چوکاټونو کې راڅرګند شوي دي چې يو له دغو مهمو ډولونو څخه يې دايمي بې طرفي ده چې کله ناکله د بنسټيزې بې طرفۍ په نوم هم يادېږي، ښه بېلګه يې د سويس بې طرفي ده چې په ډېرو قانوني جوړښتونو کې په رسميت پېژندل شوې ده. په اسيا کې هم دوه هېوادونه لاوس او کامبوديا په بين المللي توګه په رسميت پېژندل شوې بې طرفۍ لري[4].

په دې ډول بې طرفي کې د يوه دولت سياسي خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتيا په دايمي توګه د سترو ځواکونو په ډله ييزې هوکړې سره تضمين کېږي، په دې شرط چې بې طرفه هېواد، له خپلې دفاع پرته د نورو هېوادونو پر ضد وسلې ته لاس نه کړي او داسې ګامونه وانه خلي چې بې طرفي يې له ګواښ سره مخامخ کوي. پر دايمي بې طرفۍ سربېره، د بې طرفۍ بل مهم ډول نظامي بې طرفي يا لنډ مهاله

بې طرفي ده، دا د بې طرفۍ يو کلاسيک شکل دی چې د جګړو پرمهال اعلانېږي او تر همغې جګړې پورې دوام کوي او بيا پای ته رسېږي.[٥].

دا ډول بې طرفي يواځې په يوې ځانګړې جګړې کې وي او د يادې جګړې له پای ته رسېدو سره سم، پای ته رسېږي. بې طرفي د سياسي مفکورې په توګه د نړۍ په ځينو کلتورونو کې لږ تر لږه د دوه نيم زره کلونو په بهير کې وده کړې ده. توسيديد له ميلاد ۴۳۱ کاله مخکې د آتن او سپارت ترمنځ له جګړې څخه د بهر پاتې کېدلو لپاره، د ميليانانو ناکامې هڅې بيان کړې دي. هند هم د سياسي بې طرفۍ په اړه يو داسې مفهوم لري چې کولای شو ۳۰۰ کاله مخکې له ميلاده يې په کاوتيليا کې پيدا کړو. په هر حال، د بې طرفۍ په اړه ډېری څېړنې اروپايي دي او د بې طرفۍ قانون چې له نولسمې پېړۍ راپدېخوا د يوه نړيوال نورم په توګه منل شوی دی، اروپايي نوښت دی[٦].

د بې طرفۍ د ودې تاريخي شاليد ته په کتلو سره، د بې طرفۍ قانون په دريو کنوانسيونونو پاريس(١٨٥٦)، لاهه (١٩٠٧) او لندن (١٩٠٩) کې ليکل شوی دی. دا قانون د بې طرفو دولتونو لپاره د نورو هېوادونو ترمنځ د جګړو پرمهال درې بنسټيزې ژمنې وړاندې کوي: ځان ساتل(Abstention)، بې غرضي(Impartiality) او مخنيوی(Prevention). پر دې اساس، بې طرفه هېوادونه بايد په مستقيمه او غير مستقيمه توګه په جګړه که له ښکېلو اړخونو څخه نظامي ملاتړ ونکړي او د وسلو او نظامي ټېکنالوژيو په ورکولو کې بې پرې چلند خپل کړي[٧].

سرې جګړې هم داسې يو چوکاټ رامنځته کړ چې په هغه کې د ځينو هېوادونو بې طرفي د شته حالاتو د ساتلو لپاره ګټوره تمامېده. د بېلګې په توګه، ددې لپاره چې اتريش يو بې طرفه دولت و، نو د اټومي انرژۍ بين المللي آژانس

دفتر په وین کې جوړ شو او ملګرو ملتونو هم خپل اروپايي دفتر د سويس هېواد بې طرفه سیاست ته په کتلو سره په همدې هېواد کې پرانېست.(۸)

خو له سړې جګړې وروسته تر ډېره پورې بې طرفي له پامه وغورځېده چې په اروپايي اتحاديه کې د اتريش، فنلانډ او سوېډن غړيتوب يې ښه بېلګه وه، له دې سره بې طرفي په اروپا کې لږترلږه يو اضافي مفهوم شو او تر ډېره پورې داسې ښکارېدل چې خپل ارزښت يې له لاسه ورکړی. دغو بدلونونو ته په کتلو سره، رياليستان پر دې باور شول چې له سړې جګړې وروسته بې طرفي د پام وړ کمزورې شوې او يو بې اهميته مفهوم ګرځېدلی دی. په ځانګړې توګه پر اوکراين د روسيې له يرغل سره سم د رياليستانو دا باور لا په ډېرېدو شو او په اروپا کې دايمي بې طرفو هېوادونو لکه فنلانډ په ناټو سازمان کې د غړيتوب په اخيستلو سره دا باور لا پراخ کړ.

که څه هم چې بې طرفي په اروپا کې کمزورې شوې، خو د نړۍ په نورو برخو کې اوس هم داسې هېوادونه شته چې بې طرفه بهرنی سیاست تعقيبوي او په نړيوالو اړيکو کې يې په پام کې نيسي، يو له دغه ډول هېوادونو څخه افغانستان دی، د افغانستان اسلامي امارت واک ته له بيا رسېدلو سره سم، د خپل بهرني سیاست يو له بنسټيزو اصولو څخه بې طرفي اعلان کړې، نو پر همدې اساس به په لاندې توګه لومړی د بې طرفۍ رياليستيکه تيوريکي څېړنه ترسره شي او بيا به د افغانستان د بې طرفۍ په اړه بحث او شننه ترسره شي.

## دويم. د بې طرفه بهرني سیاست تيوريکي څېړنه

د بين المللي اړيکو او سياسي علومو د تيوريانو له ډلې څخه د رياليزم د نظريې پلويانو د بې طرفه بهرني سیاست په اړه ډېر نظريات وړاندې کړي دي، دوی په ځينو مواردو کې بې طرفي رد کړې، په ځينو کې يې له خپلو اساسي اصولو سره

په ټکر کې بللې او په ځينو ځانګړو حالاتو کې يې د لنډ مهال لپاره د کوچنيو دولتونو لپاره منطقي بللې ده.

مشهور رياليست توماس هابز طبيعي حالت له تاوتريخوالي ډک او د جګړې په توګه تعريفوي چې په هغه کې ژوند بې رحمه، لنډ او د جګړې په حال کې وي. د نوموړي له نظره د هر دولت بنسټيزې موخې خپلې ګټې دي، په کومو کې يې چې ملي ګټې په لومړي کتار کې راځي چې پر اساس يې بايد د هر دولت بهرنی سياست د خپلو ګټو د لاسته راوړلو او ساتنې لپاره په نړيوالو چارو متمرکز شي. دا ډول نظريه د رياليزم په نوم يادېږي، په دې نظريه کې سم او ناسم اخلاق د طبيعت په انارشيک او ځان غوښتونکي حالت کې نه وي موجود[۹].

د رياليستانو دغه ډول نظريات د يوه دولت د بهرني سياست غوراوي محدود وي چې يو له دې ډول غوراويو څخه بې طرفي ده چې رياليستان نه يواځې داچې لږ پام ورته کوي، بلکې کله نا کله يې په اړه هيڅ توضيح هم نه وړاندې کوي. د کلاسيکو سخت دريځو رياليستانو لکه ماکياولي، هابز او هاينريش فون تريتشکه له نظره د دولت حاکميت يواځې د قدرت په زياتوالي او ملي ګټو سره تعريفېږي. هيڅ دولت بايد داسې ونکړي چې د اوږدمهال لپاره بې طرفۍ ته ورته دريځ د پام وړ او لنډمهاله ګټو په نشتون کې په پام کې ونيسي. نرم رياليستان لکه اې. ايچ. کار او هانس مورګنتا هم قدرت ته د بين المللي حقوقو د غوره برخې په سترګه ګوري. دوی هغه څه چې بې طرفۍ يې د دولت پر حاکميت تحميلوي، نه مني. که څه هم چې مورګنتا د بې طرفۍ موضوع څېړلې؛ خو بېطرفي د وړو هېوادونو لپاره د ځواک د توازن له لاسته راوړلو پرته ډېر څه نه بولي. آن هډلي بول چې د جګړې د پراختيا د مخنيوي لپاره د دولتي ټولنې شتون او بې طرفي د يوې ګډې وسيلې په توګه مني، په بشپړ ډول د بې طرفۍ په توضيح کې ناکام شوی دی. بول استدلال کوي

چې د هر رژیم لومړنۍ موخه، د دولت ـ ملت د نظام ساتل او د دولتونو پایښت دی، خو د بې طرفۍ له لارې نه په څرګنده او نه په ضمني توګه دا موخې ترلاسه کېدلای شي او نه هم د تاوتریخوالي مخه پرې نیول کېدلای شي(۱۰).

نوي ریالیستان هم، د بې طرفۍ د توضیح په اړه ورته نظر لري. د کنت والتز له نظره د بین المللي نښتو په اړه د دولتونو یواځېنۍ غوراوی، د توازن رامنځته کول او د ځواک موازنه ده. پر دې اساس، درېیم مهم غوراوي ته(بې طرفۍ) پام نه کوي. والتز ادعا کوي چې زور نه یواځې د بین المللي سیاست وروستی ضریب دی، بلکې لومړنی او ثابت هم دی. د والتز له نظره په بین المللي ډګر کې حاکمیت نېغ په نېغه په ځواک پورې تړاو لري. پر دې اساس، نوموړی استدلال کوي چې بې طرفۍ ته ورته هیڅ نورمي سیستم نه شته. د رابرټ ګیلپین د هژمونیک عروج او زوال تیوري هم د بې طرفۍ او نورو نورمي بنسټونو اغېز ته ځای نه پرېږدي.(۱۱)

نو پر همدې اساس ویلای شو چې ریالیستان له یوې خوا بې طرفي نه مني او له بلې خوا یې د اغېزو په اړه قانع کوونکې توضیح هم نه شي وړاندې کولای او د خپلو نظریو له محدودې دایرې او اساسي فرضیو سره د بین المللي پېښو د شننې او څېړنې په برخه کې له ستونزو سره مخامخ دي.

ریالیستان پر دې باور دي چې د بهرني سیاست په پرېکړو کې دې، بې طرفۍ ته ورته نورمونو پرځای ملي ګټې او د قدرت توازن په نظر کې ونیول شي، هماغه و چې په ۱۹۴۰لسیزه کې د هانس مورګنتا په څېر څېړونکو او د جورج کنان په څېر دیپلوماتانو امریکایانو ته ګواښ کړی و چې له دې وروسته خپل بهرنی سیاست د ریالیزم پر اساس جوړ کړي. لکه څرنګه چې مورګنتا په ۱۹۴۸ز.کال کې توضیح کړې وه:«دولت حق نه لري چې له آزادیو څخه د سرغړونې په اړه د اخلاقو په پام کې نیولو سره، د بریالیو سیاسي ګامونو مخه ونیسي».(۱۲)

يا د جان ميرشايمر په وينا: «دولتونه په ځان غوښتونکې نړۍ کې ژوند کوي، په داسې يوه نړۍ کې چې د پاينښت غوره لار پکې قدرت دی، آن که دا کار د بې رحمانه سياستونو په پلي کولو سره هم اړين وي. دا د خوښې وړ دريځ نه دی، خو که پاينښت د يوه هېواد اصلي موخه وي، نو له دې بله ښه لار نشته».[۱۳]

د بېلگې په توگه، په ۱۹۴۰ز.کال کې د بريتانيې لومړي وزير وينستون چرچيل د فرانسې د سمندري ځواکونو پر کشتيو د دې لپاره د حملې امر وکړ چې د هټلر لاس ته ونه لوېږي، همدغه و چې پخپله يې د بريتانيې ۱۳۰۰ فرانسوي متحدان ووژل. همدارنگه نوموړي په المان کې د غيرنظامي موخو د بمبارولو امر هم ورکړ، خو په داسې حال کې چې ډېرو څارونکو هغه مهال (چې د بريتانيې پاينښت له گواښ سره مخامخ وو) دا پريکړه د منلو وړ بلله، خو په درسدن کې يې د ۱۹۴۵ز.کال په فبروري کې بمبارونه وغندل، ځکه چې د بريتانيې بريا له مخکې څرگنده وه. چرچيل کولای شول د جگړې د پيل په ورځو کې د مهمو اخلاقي قواعدو د تر پښو لاندې کولو لپاره د پاينښت د اړتيا دليل راوړي، خو هغه مهال يې اشتباه وکړه چې د پاينښت لپاره کوم گواښ نه و او دې کار ته يې ادامه ورکړه[۱۴].

پر همدې اساس موږ ادعا کولای شو چې د رياليستانو لپاره د دولت حاکميت او له دې حاکميته ساتنه ستر اهميت لري او بايد په ټولو شونو وسيلو سره يې ساتنه وشي؛ خو د بې طرفي غوره کول چې د بهرني سياست د پرېکړه نيونکو پر وړاندې بېلابېل محدوديتونه رامنځته کوي؛ د منلو وړ نه بولي، په هر حال؛ رياليستان په ځينو مواردو کې بې طرفي د تاييد وړ هم بولي، په ځانگړې توگه د کوچنيو او کمزورو دولتونو لپاره.[۱]

[۱]. د دې ډول هېوادونو د تعريف لپاره د سنجش له بېلابېلو معيارونو څخه يادونه کولای شو لکه جغرافيا، نفوس، اقتصاد او نظامي لگښت. پر دې اساس موږ ويلای شو چې واړه دولتونه هغه دولتونه دي چې لږ

د دغه ډول هېوادونو لپاره چې د سرچینو او پراخوالي له اړخه کوچني وي، بې طرفي یوه مشروع او وړ دریځ دی. همدارنګه کله ناکله هویت هم د کوچنیو هېوادونو له خوا د بې طرفه بهرني سیاست په غوره کولو کې رول ترسره کولای شي چې ښه بېلګه یې د سویس وسلواله بې طرفي ده چې د دې هېواد د ملي امنیت هویت یې رامنځته کړی دی[١٥].

هویت ته ورته جغرافیا هم په دې کې مهم رول ترسره کولای شي، د سړې جګړې پرمهال د یو شمېر وړو هېوادونو جغرافیایي موقعیت د بې طرفۍ ستر لامل و. فنلانډ د شوروي اتحاد ګاونډی و، خو یو دموکراتیک او پر پانګونې ولاړ اقتصادي نظام یې درلوده، نو ځکه یې په ۱۹۴۸ز.کال د شوروي اتحاد د خوښې د لاسته راوړلو لپاره بې طرفي اعلان کړه. پر همدې اساس، ریالیستان هم د سترو دولتونو ترمنځ په بین المللي نښتو کې د یوه ملت د حاکمیت د تضمین لپاره وسلواله(یا لنډمهاله) بې طرفي اړینه ګڼي او د بهرني سیاست د یوه غوراوی په توګه یې یوائې د وسلوالو نښتو پر مهال ګټوره بولي، خو دوی باور لري چې بې طرفه دولتونه باید د جګړو له پای ته رسېدو وروسته، دا سیاسي دریځ پرېږدي[١٦].

که څه هم د لاهې د ۱۸۹۹ او ۱۹۰۷ز.کال کنوانسیونونو د بې طرفه هېوادونو لپاره حقوقي چوکاټ رامنځته کړی دی چې د بې طرفه دولتونو حقوق او دندې، د بې طرفه دولتونو د وګړو حالت او د بې طرفه دولتونو پر وړاندې په جګړه کې د ښکېلو خواو د چلند څرنګوالی په کې راځي؛ خو دا حقوق او دندې د ریالیستانو له اصولو سره په ټکر کې دي، د دوی له نظره دا د دولت پر حاکمیت تحمیلي چوکاټونه دي او

ځواک ولري. ډیویډ ویټال په دې اړه وړاندیز کوي چې: «پرمختللي او صنعتي هېوادونه له ۱۰ تر ۱۵میلیونه نفوس او ناپرمختللي او غیر صنعتي هېوادونه له ۲۰ تر ۳۰ میلیونه نفوس سره په کوچنیو هېوادونو کې راتللی شي»[١٧].

دولتونه بايد خپلو ملي ګټو ته په کتلو سره پاليسۍ غوره کړي نه د بين المللي نورمونو او اصولو پر اساس.(۱۸).

د رياليستانو پر بدبينانه نظر سربېره، څرګنده خبره ده چې د دولتونو له خوا د بې طرفۍ د کنوانسيونونو او حقوقي چوکاټونو په پام کې نيولو سره جګړې کمېږي او د ځواک موازنه دوام پيدا کوي، خو که چېرې له دغو کنوانسيونونو څخه سرغړونه وشي، جګړې بې طرفه هېوادونه هم په ځان کې رانغاړي او د ځواک موازنه له منځه وړي، خو د جګړې يا بل هر عامل له لارې د ځواک د موازنې په بيرته راتګ سره، هېوادونه کولای شي بيا بې طرفۍ ته مخه کړي.

که څه هم د قدرت موازنه او بې طرفي دواړه بين المللي ثبات ته د رسېدو لارې دي، خو په بنسټيزه توګه له يو او بل سره توپير لري. بې طرفي د هغو قوانينو او نورمونو د ټولګې د رامنځته کولو له لارې د ثبات د لاسته راوړلو هڅه ده چې نظامي ځواک د تعامل له کړۍ باسي. د بې طرفۍ اصلي تمرکز له نښتو څخه د درېيمو اړخونو په بهر ساتلو او د قدرت پرځای قوانينو او هوکړو ته په لومړيتوب ورکولو وي، خو د قدرت موازنه چې رياليستان د جګړو د مخنيوي لپاره پرې ټينګار کوي داسې لار ده چې قدرت د هغه لپاره په لومړۍ درجه کې او قوانين او تړونونه په دويمه درجه کې ځای لري.

## د بې طرفه بهرني سياست په اړه د انسټيټوشنليزم او رياليزم تقابل

لکه څرنګه چې په پورته بحث کې څرګنده شوه، رياليزم په يوه دولت محوره، غيردوستانه او ځان غوښتونکي چاپېريال کې د قدرت موازنې او د ملي ګټو تعقيب ته لومړيتوب ورکوي او بې طرفي له پامه غورځوي، يواځې د کوچنيو دولتونو د ګټو د منطقي محاسبې په توګه بې طرفه بهرنی سياست د لنډ مهال لپاره د توضيح وړ بولي، خو د ليبراليزم د نظريې پلويان پر دې باور دي چې د نړيوالو اړيکو د نورمونو

او د هېوادونو د کورنیو شرایطو له امله په ځانګړي توګه کوچني او کمزوري هېوادونه بې طرفه بهرنۍ سیاست غوره کوي[۱۹].

ریالیزم، قدرت ته د بین المللي اړیکو د بنسټیزې برخې په سترګه ګوري، خو د لیبرالیزم نوی مکتب انسټیټوشنلیزم.[۲۰]

نورمونو، ادابو او رسومو ته د نړیوال سیاست د لومړیو بنسټونو په سترګه ګوري، ریالیزم له بین المللي نښتو سره د مخامخېدو پرمهال موازنه جوړول د دولتونو لپاره یواځېنی غوراوی بولي، د حاکمیت د ساتلو په موخه پر زور تکیه کوي، د بین المللي ادارو او نورمونو اغېزو ته پام نه کوي او بې طرفۍ ته ورته دریځونه د نورمونو په توګه نه مني، په مقابل کې یې د انسټیټوشنلیزم نظریې پلویان پر دې باور دي چې بې طرفي په داسې توګه د دولت د حاکمیت بیانونکې ده چې په جګړو کې له زوره د ګټې اخیستنې د راکمولو په موخه د ځواک، قلمرو او سرچینو بهر ساتلو ته پام کوي او دا کار یې له تاریخي پلوه له تړونونو او قوانینو څخه په ګټې اخیستنې سره ترسره کړی هم دی[۲۱].

په حقیقت کې د دولتونو ترمنځ په اړیکو کې د ځواک او د قواوو د موازنې له اهمیت څخه انکار نه شي کېدلای. د رژیمونو د شتون او د ځواک د توازن ساتلو لپاره زور تر ډېره پورې یو اړین عامل دی او کولای شي د شخړو په مخنیوي کې د نورمونو او بین المللي ادارو اغېز له منځه یوسي، خو تاریخ دا هم راښیي چې بې طرفي ته ورته بنسټونه هم کولای شي بین المللي ثبات په داسې توګه ډاډمن کړي چې ریالیزم او له زور څخه ګټه اخیستل یې په یواځې توګه نشي کولای، نو پر همدې اساس ویلای شو چې د بین المللي ژوند او نړیوالو اړیکو د توضیح په برخه کې د ریالیزم او لیبرالیزم دواړو نظریو کارول د یو او بل بشپړوونکې کېدای شي او له

همدي لارې کولای شو چې د بېلابېلو بين المللي مسايلو په اړه د هېواد د بهرني سياست دريځ په غوره توګه وټاکو.

## دریېیم. د افغانستان د اسلامي امارت په اړه ځانګړې مطالعه

### أ. د افغانستان بې طرفه بهرني سياست ته لنډه کتنه

بې طرفه بهرنی سیاست ډېر مهال د افغانستان د بهرنۍ او امنيتي پاليسۍ يو بنسټ ګڼل شوی او د دې هېواد په تاریخ او جغرافيا پورې اړه لري. د افغانستان جغرافيايي موقعيت د وخت په تېرېدلو سره هم د نفوذ د ساحې په توګه او هم د ټکر، حايلې سيمې، اقتصادي زون او جيوپوليټکل فشارونو په توګه کارول شوی او د افغانانو هويت او برخليک يې ټاکلی دی. که څه هم دا ډول جغرافيايي هويت او موقعيت د سترې شتمنۍ حيثيت لري، خو تر نن ورځې پورې د پر ځان بسيا اقتصاد او فعال دولت نه لرلو له امله په بين المللي اړيکو او ټولنيز پرمختګ کې د لوړ اغېز په توګه کار نه دی ترې اخيستل شوی او له نورو څخه اغېزمن شوی دی.

د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې، افغانستان د بريتانوي هند او تزاري روسيې ترمنځ يو حايل دولت و او د بهرنيو اړيکو او پاليسيو د غوره کولو واک يې نه درلود، خو په ۱۹۱۹ز.کال د بشپړې خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته، د خپلې بهرنۍ پاليسۍ په جوړولو کې د افغانستان نړدې ټولو واکمنانو په رسمي ډول له بې طرفه بهرني سياست څخه ملاتړ کړی دی. د افغانستان د بې طرفۍ لومړۍ بېلګه د لومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال وه او په دويمه نړيواله جګړه کې يې هم برخه اخيستل رد کړل. د ۱۹۳۹ز.کال د سپتمبر پر ٦ مه، پاچا محمد ظاهر شاه د لومړي وزير محمد هاشم خان په مشوره اعلان وکړ چې افغانستان به بې طرفه پاتې شي او له کوم جنګي ايتلاف سره به يوځای نه شي. افغانستان له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د ايډيالوژيکو جګړو پرمهال هم بې طرفه پاتې شو او د ختيځ او لوېديځ

ترمنځ یې د متوازنو اړیکو ساتلو هڅه وکړه او وروسته د ناپېیلتوب له غورځنګ سره یوځای شو. د بې طرفۍ دا دوره د ارامۍ د دورې په نوم یادېږي چې له ۱۹۲۹څخه یې تر ۱۹۷۸ز.کال پورې یې دوام لاره. په دې اړه د نظرونو یووالی نشته لکه څرنګه چې نصیر احمد اندېشه په خپله لیکنه کې وایي: «د دې معلومول سخت دي چې ایا دا دوره په رښتیا د بې طرفۍ پایله وه یا د کورني او نړیوال ثبات د چاپېریال لاسته راوړنه وه»[۲۲].

بلاخره د ۱۹۷۸ز.کال کمونیستي کودتا او ورپسې د شوروي یرغل دا بې طرفه سیاست او رامنځته شوی توازن ګډوډ کړ او افغانستان یې د ختیځ او لوېدیځ د فعالې دښمنۍ په مرکز بدل کړ چې له امله یې د تاوتریخوالي او شخړو یوه اوږده دوره پیل شوه.

که څه هم، د شوروي اتحاد له یرغل وروسته او بیا د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د ناټو تر نظامي یرغل پورې د افغانستان د بې طرفۍ په اړه د بېلابېلو لوریو له خوا هڅې وشوې، خو دا ټولې هڅې بې پایلې پاتې شوې. د شوروي اتحاد له یرغل وروسته، په سیمه کې د امنیت راوستلو او د قدرت د توازن لپاره د افغانستان د بې طرفي په اړه یو شمېر وړاندیزونه وشول چې په دې لړ کې له لومړنیو نوښتونو څخه د ۱۹۷۹ز.کال د امریکا په ملاتړ او د بریتانیې په مشرۍ د افغانستان د بې پرې کولو نوښت و. دا نوښت د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر لارډ کارنګټن له خوا وشو. په دې نوښت کې دا په پام کې نیول شوي وو چې د بې طرفۍ یو تړون به وکولای شي د شوروي اتحاد پوځي یرغل پای ته ورسوي او له افغانستان څخه به د شوروي ځواکونو وتلو ته لار هواره کړي، خو د شوروي اتحاد مشرتابه او د کابل شوروي پلوه رژیم دواړو په چټکۍ سره دا نوښت رد کړ او دا یې د لوېدیځ له خوا د انقلاب د ناکامولو او د خپل نفوذ د بیا رامنځته کولو یوه دسیسه بلله. بله هڅه په

۱۹۸۸ز.کال له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د پوځ له وتلو وروسته وشوه. دا ځل دا نوښت په مسکو کې پیل شو، خو په رسمي ډول یې وړاندیز د کابل د رژیم له خوا وشو. ولسمشر نجیب الله د ملګرو ملتونو له سرمنشي وغوښتل چې د افغانستان د دایمي بې طرفۍ د بیا راژوندي کولو، تائیدولو او د سولې او پخلاینې د پروګرام د ملاتړ لپاره یو نړیوال کنفرانس جوړ کړي. د ۱۹۸۹ز.کال د مې په میاشت کې د افغانستان علومو اکاډمۍ ته لارښوونه وشوه چې د نانظامي دایمي بې طرفۍ د پالیسۍ د پلي کولو شونتیاوې مطالعه کړي. یو کال وروسته، د ۱۹۹۰ز.کال په مې میاشت کې اساسي قانون تعدیل شو او د اساسي قانون یو څپرکی په بشپړه توګه بهرنۍ پالیسۍ ته ځانګړی شو؛ خو دغه نوښت هم د پام وړ سیمه ییز او نړیوال ملاتړ ترلاسه نه کړ[۲۳].

په حقیقت کې لوېدیځو پلازمېنو او افغان مجاهدینو د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته د کابل رژیم د نسکورېدو وړاندوینه کړې وه او له بلې خوا هغه مهال چې شوروي اتحاد د ړنګېدو په درشل کې و، نو د داسې یو مهم وړاندیز د ملاتړ لپاره کابل او مسکو د پام وړ سیاسي نفوذ نه لاره. د دواړو نوښتونو ناکامي دا را په ګوته کوي چې تر هغه مهاله چې د جګړې هر اړخ په دې باور وي چې د جګړې په ډګر کې بریا د لاسته راوړلو وړ ده، د شخړې یا سیاسي ناورین د حل د بنسټ په توګه د بې طرفي منل ناشوني کېږي.

د بې طرفۍ په اړه د پورته نوښتونو له ناکامېدو یوه لسیزه وروسته، پر افغانستان د امریکا متحده ایالاتو د نظامي یرغل پرمهال، یوازینی هېواد چې کله ناکله یې د افغانستان د بې طرفۍ په اړه خبرې کولې، روسیه وه. یاد هېواد پر دې ټینګار کاوه چې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د ماموریت له پای ته رسېدو

وروسته دې افغانستان يو بې طرفه دولت شي. د يوه بې طرفه افغانستان په اړه د روسيې پاليسي هم بې پايلې پاتې شوه.[۲۴].

د افغانستان د مسلې د حل په توګه د بې طرفۍ په اړه بحثونه پخپله د امريکايي چارواکو له خوا هم راپورته کېدل، په ۲۰۰۹ز.کال کې د امريکا د بهرنيو چارو پخواني مرستيال وزير کارل انډرفورت او سفير جيمز ډوبنز (چې وروسته د افغانستان او پاکستان لپاره د اوباما ځانګړی استازی هم شو) پر دې ټينګار کاوه چې له افغانستان څخه د وتلو په ستراتيژۍ کې دې يوه څو اړخيزه هوکړه هم راشي. ډوبينز د افغانستان پر دايمي بې طرفۍ ټينګار کاوه، خو په کابل کې د يو شمېر مخالفتونو له امله، دا نوښت يو ځل بيا داسې وړانديز پاتې شو چې بازار يې نه لاره. له دوی وروسته، په ۲۰۱۳ز.کال د جورج ميسن پوهنتون پروفيسور اډري کورت کرونين هم د افغانستان د بې طرفۍ غوښتنه کړې وه: «د يرغلګرو د شړلو دود... او هغه پياوړې جغرافيا چې نيول يې ستونزمن کار دی، افغانستان د بې طرفۍ لپاره طبيعي نوماند جوړوي».[۲۵]

دا وړانديز هم د نورو نوښتونو په څېر بې پايلې پاتې شو او افغانستان ونشو کولای چې ځان بې طرفه اعلان کړي.

### ب. د بې طرفه بهرني سياست په اړه د اسلامي امارت دريځ

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرني سياست په اړه تر دې مهاله ليکلی او تصويب شوی حقوقي چوکاټ نشته، نو پر همدې اساس يې د بهرني سياست او دريځونو شننه او څېړنه يو څه ستونزمنه ده، خو بيا هم د اسلامي امارت د لوړو پوړو چارواکو له ويناوو څخه د بهرني سياست دريځونه څرګند شوي دي چې يو له دغو دريځونو څخه بې طرفي ده. د افغانستان د بهرنيو چارو سرپرست وزير امير خان

متقي د وينا له مخې:«د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سياست مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی».[٢٦]

ورته څرګندوني د افغانستان د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد هم کړې دي، نوموړي په دې اړه ويلي دي:«اسلامي امارت له هېوادونو سره د اړيکو په جوړولو کې له نويو سياستونو سره په تعامل، د بې طرفه پاليسيو او سياستونو په ساتلو او اقتصاد محوره اړيکو په رامنځته کولو کې ټولې هڅې کړې دي».[٢٧]

نو پر همدې اساس ويلای شو چې د اسلامي امارت بهرنی سياست په عمومي ډول پر دريو ستراتيژيو ولاړ دی: بې طرفه، اقتصاد محوره او متوازن بهرنی سياست. د اسلامي امارت د لوړ پوړو چارواکو له خوا په بهرني سياست کې پر بې طرفۍ سربېره ډېر تمرکز پر متوازن بهرني سياست هم شوی دی، د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال شيرمحمد عباس ستانکزي په دې اړه ويلي وو: «په وروستيو سلو کلونو کې د افغانستان د بهرني سياست په مطالعې سره دې ته متوجه کېږو چې په افغانستان کې حکومتونو يا له شرق سره تمايل لاره يا داچې د غرب لوري ته يې تمايل پيدا کړی و او دا په دې معنا ده چې په بهرني سياست کې توازن نه وو. د متوازن بهرني سياست په مطرح کېدو سره، يعنې له ټولو هېوادونو سره ښې او دوستانه اړيکو لرل او دا اړيکې بايد د هېواد له ملي ګټو سره سمې وي. له هغو لويو سيمه ييزو او نړيوالو ځواکونو سره چې په خپل منځ کې سيالي لري بايد اړيکې موجودې وي او په دې اړه توازن په نظر کې ولرو ترڅو په هېواد کې د دوی ترمنځ د نيابتي جګړو او سياليو د ميدان جوړېدو مخه ونيسي».[٢٨]

همدارنګه رحمت الحق فضيل، د بهرنيو چارو وزارت مالي او اداري مرستيال په يوه مرکه کې ويلي وو: «هېوادونه د دې لپاره چې وکولای شي پرمختګ وکړي، بايد د نورو هېوادونو ترمنځ په سياليو کې ګډون ونه کړي. متوازن بهرنی سياست د دښمن جوړولو مانع کېږي، اقتصادي او امنيتي توسعه او نورې ګټې لري».[٢٩]

که څه هم له متوازن بهرني سیاست څخه یو تعریف نه دی وړاندې شوی، خو کاکا تاجیک محمدي یې په خپله مقاله کې ځانګړتیاوې په دې ډول په ګوته کوي: «د هېوادونو ترمنځ له سیالیو څخه لرېوالی، د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه، له ګاونډیانو سره ښې اړیکې، په بین المللي تعاملاتو کې مثبت او فعال سیاست، د هېواد ګټو ته په کتو سره له بېلابېلو سیمه ییزو او بین المللي لوبغاړو سره اړیکې، د بین المللي سولې او امنیت د لاسته راوړلو لپاره له بین المللي سازمانونو او ادارو سره همکاري او له سیمه ییزو اقتصادي ظرفیتونو ګټه اخیستنه»(۳۰).

داسې معلومېږي چې پر توپیرونو سربېره متوازن بهرنی سیاست له بې طرفي سره یو شمېر ګډې ځانګړتیاوې هم لري لکه له ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې، د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه، په نظامي ایتلافونو کې نه ګډون.

په هر حال، کله چې د افغانستان د بې طرفه بهرني سیاست ادعا کوو، نو د بې طرفۍ د اصولو له مخې د دې سیاست د تعقیب لپاره باید د لویو ځواکونو ترمنځ په شخړو کې ښکېل نشو، د لویو ځواکونو له ډلې له کوم ځواک سره یو ځای نشو، د ناټو په څېر د نظامي ائتلافونو برخه نشو، د نورو هېوادونو یا ملتونو ترمنځ په وسلوالو نښتو کې ګډون ونکړو او له ټولو هېوادونو او سیالو ډلو سره اړیکې ټینګې کړو. مخکې له دې چې د اسلامي امارت د بې طرفه بهرني سیاست او راتلونکي په اړه خپل بحث او شننه ترسره کړو، اړینه لېدل کېږي چې د افغانستان د بې طرفه بهرني سیاست د پلویانو او مخالفانو د نظرونو یو جاج واخلو.

افغانان له تېرو څلورو لسیزو څخه د بې طرفي په اړه بېلابېل نظرونه وړاندې کوي، یو شمېر یې پر دې باور دي چې د بې طرفه سیاستونو له امله و چې له یوې خوا مو له خپل جیوپولیټکل او جیواکانومیک موقعیت څخه ګټه وا نه خیسته او له بلې خوا د خپل نظامي ځواک په پیاوړتیا او د یوه پیاوړي شریک په پیداکولو کې

پاتې راغلو، په مقابل کې یې یو شمېر نور باور لري چې له ۱۹۲۹ز.کال څخه تر ۱۹۷۸ز.کال پورې د افغانستان د ارامۍ او سولې د اوږدې دورې ستر لامل د بې طرفي غوره کول و. د نصیر احمد اندېشه له نظره:«د بې طرفه بهرني سیاست پلویان باور لري چې د ثبات او سولې دوره (۱۹۲۹-۱۹۷۸) په عمومي ډول د بې طرفه پالیسۍ پایله وه، نو بې طرفي ته بیرته ور ستنېدل به هېواد د عادي حالت او ثبات څښتن کړي، سوله او ارامي به ورسره راشي او په افغانستان کې به د سترو ځواکونو د سیاستونو مخه ونیول شي»[۳۱].

د بې طرفۍ پلویان استدلال کوي چې له سترو ځواکونو سره د افغانستان نږدې کېدل د افغانستان لپاره ګواښ ګرځېدلی او په زیان یې تمام شوی دی، دوی په دې نظر دي چې له بریتانوي هند سره د افغانانو نږدېوالي تل غمجنې پایلې لرلې دي، همدارنګه له شوروي اتحاد او په دا وروستیو کې له متحده ایالاتو سره د افغانانو نږدېوالي ورته پایلې لرلې. د بې طرفۍ پلویان پر دې باور دي چې بې طرفي کولای شي د سیمه ییزو ځواکونو او افغان ګاونډیانو ترمنځ دا ډاډ رامنځته کړي چې د افغانستان خاوره به د یو او بل پر ضد نه کاروي. د دوی له نظره بې طرفه افغانستان کولای شي د سیمه ییزې سوداګرۍ، د انرژۍ د لېږد او د طبیعي زېرمو د پراختیا د مرکز په توګه کار ورکړي او د ځمکنۍ بشپړتیا او حاکمیت پر ساتنې سربیره د ځان د دفاع او د کورنیو امنیتي ننګونو د حل لپاره یو کوچنی امنیتي ځواک ولري او له دې سره به د سترو سیمه ییزو ځواکونو امنیت او ستراتیژیکې اندېښنې راکمې شي.

له بلې خوا د افغانستان د بې طرفه بهرني سیاست په اړه ستر مخالفتونه هم شته، د دې ډلې پلویان باور لري چې د همدې بې طرفۍ له امله افغانستان لږ پرمختګ کړی، د بهرنیو شخړو قرباني شوی او د اوږدو کلونو بې طرفۍ هېواد ته د پام وړ اقتصادي او مالي

لاسته راوړنې نه دي لرلې. دوی استدلال کوي چې د سولې او ثبات ساتلو لپاره د ځواک پر ځای، بې طرفي ته ارزښت ورکولو په افغانستان کې د دوو پرله پسې انقلابونو اصلي لامل (د پاچاهۍ او لومړي جمهوريت) و چې د خلکو د پراخې بې وزلۍ او ناخوښۍ لامل شو او افغانان يې د وير پر تغر کېنول. دوی باور لري چې بې طرفي د اتلسمې پيړۍ لپاره (چې د روسيې تزاري رژيم او بريتانوي راج ترمنځ "ستره لوبه" روانه وه) غوره پاليسي وه، خو اوسمهال په افغانستان او شاوخوا کې جيوپوليټيکل سيناريو د پام وړ بدلون موندلی او داسې انګېرل کېږي چې بې طرفي نور د افغانستان لپاره د پلي کېدو وړ مفهوم نه دی.

جيوپوليټيکي واقعيتونه او ټيکنالوژيکي پرمختګونه په دې معنا دي چې افغانستان بايد د همکارۍ د مرکز، د انرژۍ د پله او د سوداګرۍ د مرکز په توګه بدل شي، نه دا چې خپل پام د بې طرفۍ ساتلو او راوړلو ته وګرځوي. دوی بې طرفي ته د يوه سست او بې ګټې بهرني سياست په سترګه ګوري چې له امله به يې افغانستان هيڅکله د دې جوګه نشي چې له خپل ستراتيژيک جيوپوليټيک موقعيت څخه د سياسي ثبات او اقتصادي پراختيا لپاره ګټه واخلي. په هر حال، د دې بحث په پای کې ويلای شو چې په تېرو لسيزو کې د پاليسي جوړوونکو غلطو محاسبو په څرګنده توګه افغانستان بې ثباته کړ او په خاوره کې يې د سترو ځواکونو سياليو ته لار هواره کړه چې له امله يې افغانانو ستر قيمت پرې کړ، نو په راتلونکي کې هم د يوه نسبتا کوچني دولت په توګه د افغان پاليسي جوړوونکو له خوا هر ډول غلطه محاسبه په اسانۍ سره هېواد يو ځل بيا د شخړو او نيابتي جګړو پر ميدان بدلولای شي.

## ج. څه ډول بهرنی سياست دې غوره شي؟

دا چې له يوې خوا د افغانستان ګاونډيان روسيه، چين او ايران په بنسټيزه توګه له لوېديځ او امريکا سره په سياليو او شخړو کې راپورته شوي ځواکونه دي او له

اوسنيو پرمختياوو څخه ښکاري چې دوی په ګډه د لوېديځ پر وړاندې د يوه قطب په توګه راپورته کېدونکي دي، له بلې خوا په سيمه ييزه کچه د ګڼو نورو سياليو ترڅنګ د هند او پاکستان ترمنځ د اوږدمهالو او سختو سياليو شاهدان هم يو چې ترمنځ يې د هر ډول وسلوالې نښتې اوږدېدل د افغانستان لپاره پراخې اغېزې لرلای شي، نو په دا ډول شرايطو کې د بهرنۍ پاليسۍ هر ډول پرېکړې بايد پر نړيوالو، سيمه ييزو او هېوادنيو واقعيتونو ولاړې او په غوره توګه د خپلو ملي ګټو ترلاسه کوونکې او خوندي کوونکې وي.

په دغه ډول شرايطو کې که چېرې د دايمي بې طرفۍ د تګلارې په اړه پرېکړه کېږي، نو دا بايد په نړيوال سيستم او سيمه ييز چاپېريال کې د افغانستان د موقف او زيانونو ريښتينې ارزونه له ځان سره ولري او په کلکه د امنيت او بهرني سياست په ډګرونو پورې محدوده وي. په داسې حال کې چې دا کېدای شي د افغانستان د بهرنۍ پاليسۍ لپاره تر يوه حده غوره او رېښتونې غوښتنه وي، خو ستونزه به هغه مهال راپورته کېږي چې د پلي کولو ظرفيت يې روښانه نه شي او د ترسره کولو لپاره يې منل شوي ميکانيزمونه (سيمه ييز او نړيوال تضمينونه) رامنځته نه شي.

پر همدې اساس ويلای شو چې د افغانستان جيوپوليټيکل واقعيتونه او کورنۍ سياست په دې معنا دی چې د افغانستان د يوه دايمي بې طرفه دولت د جوړولو په لور هر ډول ګام بايد د باور وړ حقوقي، سياسي او امنيتي ضمانتونو او د افغانستان په چارو کې د بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې د خونديتوب او د هغو ژمنو په ګډون چې د افغانستان خاوره به د نيابتي جګړو د ډګر په توګه نه کارول کېدو ته په پام سره، واخيستل شي. دا ضمانتونه بايد د سيمه ييز او نړيوال ترون په بڼه وي چې د ملګرو ملتونو له خوا ليکل شوی او د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د پنځو دايمي غړو له خوا په ګډه لاسليک شوي وي.

دا ډول تړون به څارل کېږي او د درېیمې ډلې د تائید لپاره به پرانېستی وي او د سرغړونکو لپاره به د وړاندوینې وړ مجازات پکې شاملې وي، لکه د نړیوالو ادارو (ملګرو ملتونو، نړیوال بانک او IMF) له خوا بندیزونه او په تور لیست کې راوستل. تمیم عاصي په خپله مقاله کې په دې اړه وړاندیز کوي چې:«دا تړون باید درې له یو او بل سره تړلي سندونه یا قانوني چوکاټ ولري: د افغانستان د ګاونډیو له خوا د ښه ګاونډیتوب اعلامیه چې د افغانستان په کورنیو چارو کې به د هر ډول نه لاسوهنې ژمنه وکړي، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یو پریکړه لیک چې پر پنځو دایمي هېوادونو به غږ کوي چې په افغانستان کې د واک او نفوذ له هر ډول سیاست څخه ډډه وکړي او د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ یو پرېکړه لیک چې افغانستان د یو بې طرفه دولت په توګه په رسمیت وپېژني»[۳۲].

پورته شرایطو ته په پام سره په ډاډ سره ویلای شو چې د داسې چوکاټ او قانوني-سیاسي خوندیتوب په نشتوالي کې د افغانستان لپاره د بې طرفه بهرنۍ پالیسۍ تعقیب، هېواد د ګټو پرځای له اوږد مهالو ستونزو او ګواښونو سره مخامخ کولای شي. له بلې خوا، د نړۍ په اوسنیو له تاوتریخوالي ډکو او بدلېدونکو شرایطو کې د پورته مراحلو تېرول او د افغانستان د بې طرفۍ په اړه د سیمه ییزې اجماع او نړیوالې هوکړې ترلاسه کول، اسانه کار نه ښکاري. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دایمي غړي او د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلي به له افغانستان سره د رسمي اړیکو او د باور وړ فضا له جوړولو پرته د بې طرفۍ په اړه د افغانستان غوښتنې ته ډېر پام ونه کړي، د دا ډول فضا او شرایطو له برابرېدو پرته به پر دې هم ونه توانېږو چې د خپلې دایمي بې طرفۍ لپاره یوه سیمه ییزه اجماع یا بل هر ډول حقوقي چوکاټ مطرح او رامنځته کړو.

نو په دا ډول شرايطو کې د افغانستان لپاره اوسمهال يا تر نږدې راتلونکې پورې څه کول په کار دي. زما له نظره غوره لار د اړتيا پرمهال د ځانګړو مسايلو په اړه د موردي او لنډ مهاله بې طرفۍ دريځ دی، افغانستان بايد د دايمي بې طرفۍ په لومه کې ښکېل نه شي، له هر څه وړاندې بايد خپل ډيپلوماتيک چينلونه فعال کړي، نړيوالو ځواکونو او سيمه ييزو هېوادونو ته د ډاډ ورکولو له لارې دا ثابته کړي چې د دوستۍ پرمهال ښه دوستان او د ملاتړ پرمهال غوره ملاتړی کېدلای شي، خو په دې شرط چې افغانستان له نظامي او اقتصادي پلوه په پښو ودرېږي، پياوړی هوايي ځواک ولري، هوايي دفاعي سيستمونه ترلاسه کړي او نظامي ځواک يې د ځمکنيو او هوايي ګواښونو په مخنيوي کې اغېزمن شي، دا په پراخه کچه بهرنۍ همکاري او ملاتړ ته اړتيا لري چې د دايمي يا بشپړې بې طرفۍ په صورت کې به يې تعقيبول ستونزمن وي.

له بلې خوا د سيمې ناوړه امنيتي واقعيتونه د افغانستان لپاره د دايمي بې طرفۍ د پاليسۍ تعقيب ناشونی کوي او په پوره ډاډ سره ويلای شو چې د هېواد لپاره بشپړه بې طرفي په يوه داسې له بې باوريو او شخړو ډکه سيمه کې چې په راتلونکي کې هر مهال ستر ګواښونه ترې پېښېدلای شي د ډاډ وړ پاليسي نه ښکاري، په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې نږدې او لرې ګاونډيان(پاکستان، چين، هند او روسيه) يې اتومي وسلې لري او په لوېديځ لوري کې به يې نږدې ګاونډی (ايران) نن وي که سبا دا ډول خطرناکې وسلې ترلاسه کړي، د داسې نظامي او اټومي ځواکونو ترمنځ اوسېدل او هغه هم پرته له دې چې پياوړی نظامي ملاتړ ولري، هر مهال مو ګټې او ځمکنۍ بشپړتيا له ګواښ سره مخ کولای شي او په دا ډول شرايطو کې د دايمي او بشپړې بې طرفۍ له لارې د اوږدمهال لپاره د ثبات او پرمختګ ډاډ نشي ترلاسه کېدلای.

واقعيت دا دی چې افغانستان به د ډېرو کلونو لپاره د مسلکي امنيتي ځواکونو جوړولو او پياوړتيا لپاره تخنيکي- پوځي ملاتړ ته اړتيا ولري چې د ځان

دفاع وکړي او په خپله خاوره کې امنیت ټینګ کړي. دا ډول پوځي مرستي د بې طرفي په صورت کې نشي تر لاسه کېدلای. د افغانستان په ګاونډ کې ګڼ شمېر لوبغاړي او ځواکونه پر یو بل باندي په ژوره توګه بې باوره دي، په دې ډول یو چاپېریال کې د قوي نړیوالو او سیمه ییزو خوندیتوبونو او تضمینونو په نشتوالي کې د افغانستان د بې طرفۍ ډاډمنول ستونزمن کار بربښي، نو دا ډول حالت موږ د ریالیستانو دې باور ته ورګرځوي چې له هر څه ډېر خپلو ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړو او خپلې بهرنۍ پالیسۍ د بشپړې بې طرفۍ پرځای، د هېواد د نظامي او اقتصادي پیاوړتیا او پراختیا لوري ته متمرکزې کړو، خپل قدرت ډېر کړو، دولت متمرکز کړو او په بین المللي سیاسي ډګر کې د اخلاقو، نورمونو او نورو لاملونو په پرتله خپلې ملي ګټې د بهرني سیاست په لومړیتوبونو کې راولو.

**پایله**

په دې مقاله کې د ریالیزم نظریې پر اساس د بې طرفۍ تیوریکي څېړنه او د افغانستان اسلامي امارت د بهرني سیاست په اړه ځانګړې مطالعه ترسره شوه. په دې څېړنه کې دا په ډاګه شوه چې ریالیزم بې طرفۍ ته ورته نورو بین المللي نورمونو، اخلاقو او نهادونو ته پام نه کوي او په بهرني سیاست کې د دولتو ځواکمنتیا، بشپړ حاکمیت، ملي ګټو او د دغو موخو د لاسته راوړلو او ساتلو لپاره له هرې وسیلې څخه کار اخیستلو ته لومړیتوب ورکوي او بې طرفي ته چې د بهرني سیاست د پرېکړه نیونکو پر وړاندې محدودیتونه رامنځته کوي، په ښه سترګه نه ګوري. د ریالیستي فکر پرخلاف، لیبرالیزم په بین المللي اړیکو او بهرني سیاست کې د اخلاقو، نورمونو او بین المللي اصولو په پام کې نیولو سره بې طرفي د هېوادونو او نړیوالې سولې لپاره تائیدوي او ګټوره یې بولي. له بلې خوا دا چې ریالیزم او لیبرالیزم د بې طرفۍ په اړه متضاد نظرونه لري او یوه نظریه هم په یواځې توګه د بې طرفۍ او یا د بې طرفه بهرني سیاست په اړه د ډاډ وړ توضیح نه شي

وړاندې کولای، ځکه چې ليبرالان په بهرني سياست او بين المللي اړيکو کې ارماني او خيالي نظريې وړاندې کوي، دوی اخلاقو، نورمونو او بين المللي اصولو او بنسټونو ته په ډېر پام کولو سره د يوه هېواد ملي ګټې، ځواکمنتيا او حاکميت سم نه شي واضح کولای او تر سيوري لاندې يې راولي او له بلې خوا رياليستان بيا ډېری مهال بې طرفي ته هيڅ پام نه کوي او په ټوله کې بين المللي اخلاق، نورمونه ناديده نيسي، نو په خپل ذات کې دا دواړه نظريې د بهرني سياست د ټاکلو او توضيح په برخه کې په ځانګړې توګه د بې طرفي په اړه له ستونزو سره مخامخ دي، خو په مناسب وخت کې د دواړو په ګډ کارولو سره، دواړه نظريې د يوه او بل بشپړونکې کېدلای شي او کولای شو له دې لارې د بين المللي اړيکو او بهرني سياست څخه غوره تحليل او انځور وړاندې کړو.

همدارنګه د دې څېړنې پرمهال دې پايلې ته ورسېدو چې د بريالي بې طرفه بهرني سياست لپاره پر جيوستراتيژيک موقعيت سربېره، د بې طرفه هېواد کورنی يووالی، د سيمه ييزو او نړيوالو ځواکونو له خوا د بې طرفۍ منل او د بې طرفه دولت په توګه د خپل ځان د دفاع لپاره د پام وړ نظامي وړتياوې ترلاسه کول، په لومړيتوب کې راځي. تېرو تجربو ته په کتلو سره، افغانستان اوس هم د بې طرفۍ په اړه د سيمه ييزې او نړيوالې اجماع د نه شتون، د نظامي وړتياو د ضعف، سيمه ييز جيوپوليټيکل تاوتريخوالي، د سيمه ييزو اړخونو ترمنځ د ژورې بې باورې او د سيمه ييزو همکاريو د نه شتون له امله بريالۍ بې طرفي نه شي تعقيبولی او په اوسني شخړه ييز او له بې باورې ډک سيمه ييز او نړيوال چاپېريال کې د ملي ګټو د لاسته راوړلو او بهرنيو ګوابښونو په مخنيوي کې د بشپړ او دايمي بې طرفه بهرني سياست تعقيب ګټور نه شي ثابتېدلای، بلکې د دا ډول ګوابښونو د مخنيوي په موخه د لږ ايډياليست(ارماني) او ډېر رياليست(واقعبينه) فکر کول اړين دي او د بين المللي اصولو، اخلاقو او نورمونو په پام کې نيولو سره د نظامي او اقتصادي ځواکمنتيا لپاره

د پیاوړو ملګرو او شریکانو پیدا کولو ترڅنګ، د دایمي او بشپړې بې طرفۍ پرځای، په ځانګړو مواردو کې لنډ مهاله بې طرفي غوره پالیسي بلل کېدای شي.

## وړاندیزونه

۱ـ لکه څرنګه چې واضح شوه، تر هغه مهاله چې هېواد په نظامي، سیاسي او اقتصادي توګه نه وي ځواکمن شوی، دایمي بې طرفي ګټوره نه شي ثابتېدلای او د ګوابښونو په مخنیوي کې د اوږدې مودې حل نه شي کېدلای، نو وړاندیز کېږي چې د دایمي او بشپړې بې طرفۍ پرځای دې د ځانګړو مسایلو په اړه د اړتیا پرمهال لنډمهاله بېطرفي غوره شي.

۲ـ وړاندیز کېږي چې په بین المللي اړیکو کې دې د بین المللي نورمونو، اخلاقو او اصولو په پام کې نیولو سره، د بهرني سیاست ټول امکانات او ظرفیتونه د هېواد نظامي پیاوړتیا، اقتصادي ودې، د سیاسي دیپلوماتیک وزن ډېرېدلو او د ملي ګټو تعقیب ته ځانګړي شي.

## مأخذونه


1. Lottaz, Pascal, The Politics and Diplomacy of Neutrality, 12 January 2022, Available at: https://www.oxfordbibliographies.com/display/document/obo-9780199743292/obo-9780199743292-0307.xml [Access: 2023/10/11]
2. Greminger, Thomas and Jean-Marc Rickli, Neutrality After the Russian Invasion of Ukraine The Example of Switzerland and Some Lessons for Ukraine, National Defense University, Washington, PRISM 10, NO. 3. [Access: 2023/10/11]
3. Archie W. Simpson, Realism, Small States and Neutrality, Feb 5 2018, E-International Relations, international relations website, UK registered non-profit org – E-IR Publications Ltd, Available at:

https://www.e-ir.info/2018/02/05/realism-small-states-and-neutrality/ [Access: 2023/10/11]

4. Ugwukah C. Alexander, Neutrality as a Foreign Policy Principle: A Historical Evaluation of the Swedish Posture, Historical Research Letter, IISTE International Knowledge Sharing Platform, ISSN 2224-3178 (Paper) ISSN 2225-0964 (Online) Vol.17, 2015[Access: 2023/10/11]
5. 5 Ibid.
6. Osai, O. Jason, Neutrality as Realism in the New Global Order: A Treatise, AFRREV IJAH An International Journal of Arts and Humanities Bahir Dar, Ethiopia AFRREV IJAH, Vol. 1 (4), November, 2012:176-182. [Access: 2023/10/11]
7. Ugwukah C. Alexander, Ph.D, Neutrality as a Foreign Policy Principle: A Historical Evaluation of the Swedish Posture, Historical Research Letter, IISTE International Knowledge Sharing Platform, ISSN 2224-3178 (Paper) ISSN 2225-0964 (Online) Vol.17, 2015[Access: 2023/10/11]
8. Ibid.
9. Osai, O. Jason, Neutrality as Realism in the New Global Order: A Treatise, AFRREV IJAH An International Journal of Arts and Humanities Bahir Dar, Ethiopia AFRREV IJAH, Vol. 1 (4), November, 2012:176-182. [Access: 2023/10/11]
10. Daniel A. Austin, Realism, Institutions, and Neutrality: Constraining Conflict Through the Force of Norms, Commonwealth: A Journal of Political Science, Vol. 9, pp. 37-56, 1998, Wenzhou-Kean University. [Access: 2023/10/11]
11. Ibid.

12. JOSEPH S. NYE, JR, Realism About Foreign-Policy, Feb 2, 2022, Available at: https://www.project-syndicate.org/commentary/ukraine-and-limits-of-foreign-policy-realism-by-joseph-s-nye-2022-02. [Access: 2023/10/11]

13. Ibid.

14. Ibid.

15. Osai, O. Jason, Neutrality as Realism in the New Global Order: A Treatise, AFRREV IJAH An International Journal of Arts and Humanities Bahir Dar, Ethiopia AFRREV IJAH, Vol. 1 (4), November, 2012:176-182. [Access: 2023/10/11]

16. Neal G. Jesse, Choosing to Go It Alone: Irish Neutrality in Theoretical and Comparative Perspective, Available at: https://journals.sagepub.com/doi/abs/10.1177/0192512106058624?journalCode=ipsa. [Access: 2023/10/11]

17. Osai, O. Jason, Neutrality as Realism in the New Global Order: A Treatise, AFRREV IJAH An International Journal of Arts and Humanities Bahir Dar, Ethiopia AFRREV IJAH, Vol. 1 (4), November, 2012:176-182. [Access: 2023/10/11]

18. Archie W. Simpson, Realism, Small States and Neutrality, Feb 5 2018, E-International Relations, international relations website, UK registered non-profit org – E-IR Publications Ltd, Available at: https://www.e-ir.info/2018/02/05/realism-small-states-and-neutrality/ [Access: 2023/10/11]

19. Neal G. Jesse, Choosing to Go It Alone: Irish Neutrality in Theoretical and Comparative Perspective, Available at: https://journals.sagepub.com/doi/abs/10.1177/0192512106058624?journalCode=ipsa [Access: 2023/10/11]

۲۰. انسټيټيوشنليزم Institutionalism: دا په بين المللي اړيکو يوه نوې نظريه ده چې د ليبرال انسټيټيوشنليزم په نوم هم يادېږي، دوی باور لري چې بين المللي ادارې او سازمانونه لکه ملګري ملتونه، ناټو او اروپايي اتحاديه کولای شي د دولتونو ترمنځ د همکاريو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. دا نظريه له ايډياليزم نه الهام اخلي چې له لومړۍ نړيوالې جګړې او د ملتونو د ټولنې له جوړېدو وروسته راڅرګنده شوه.

21. Austin, Daniel A., Realism, Institutions, and Neutrality: Constraining Conflict Through the Force of Norms, Commonwealth: A Journal of Political Science, Vol. 9, pp. 37-56, 1998, Wenzhou-Kean University. [Access: 2023/10/11]

22. Andisha, Nasir A., Neutrality in Afghanistan's Foreign Policy, US Institute of Peace. (2015) [Access: 2023/10/11]

23. Ibid.

24. Ibid.

25. Andisha, Nasir A., Neutrality in Afghanistan's Foreign Policy, US Institute of Peace. (2015) [Access: 2023/10/11]

۲٦. د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز(CSRS) ، د جمهوريت او امارت بهرنی سياست؛ پرتلنه او وړانديزونه، لاسرسی:
2023/10/11 https://csrskabul.com/?p=7634 [مراجعه ۲۰۲۳/۱۰/۱۱]

۲۷. شمشاد نیوز، دو سال حاکمیت ا.ا بر افغانستان؛ هنوز تغییر قابل محسوس در تعامل با جهان ایجاد نشده است، دسترسي:
2023/08/16،https://shamshadnews.com/fa/2023/08/16/ [Access: 2023/10/11]
۲۸. محمدی، کاکه تاجیک، سیاست خارجی متوازن و دیپلماسی دوجانبه افغانستان (دوره دومِ امارت اسلامی افغانستان، فصلنامه علمی پژوهشیِ علوم اجتماعی پوهنتون غالب، سال دوازدهم نشراتی. پیاپی چهلم. شماره اول. بهار ۱۴۰۲
۲۹. باختر نیوز، سرپرست وزارت امور خارجه: تعامل مثبت با جهانیان راهبرد سیاست خارجی امارت اسلامی است،1402-05-07، دسترسی:
https://bakhtarnews.af/dr/AA [Access: 2023/10/11]
۳۰. کاکه تاجیک محمدی، سیاست خارجی متوازن و دیپلماسی دوجانبه افغانستان )دوره دومِ امارت اسلامی افغانستان، فصلنامه علمی پژوهشیِ علوم اجتماعی پوهنتون غالب، سال دوازدهم نشراتی. پیاپی چهلم. شماره اول. بهار ۱۴۰۲
31. Andisha, Nasir A., Neutrality in Afghanistan's Foreign Policy, US Institute of Peace (2015).
32. Asey, Tamim, Rebooting neutrality in Afghan foreign policy – A framework for global and regional engagement on Afghanistan post-US and NATO withdrawal, April 29, 2021, Available at: https://www.atlanticcouncil.org/blogs/southasiasource/rebooting-neutrality-in-afghan-foreign-policy/ [Access: 2023/10/11]

څېړندوی جلال الدین نجیم

# د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بېطرفه بهرني سياست څرنګوالی او پايلې

## لنډيز

د شلمې ز.پېړۍ په پيل او منځ کې نړۍ له دوو سترو جګړو سره مخامخ شوه، د دغو جګړو ډېرې برخې په اروپا کې رامنځته شوې؛ نو هماغه وو چې د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله يې اروپايي هېوادونه ډېر زيانمن کړل، دا جګړې د اسيېديځو او سوېلي برخو ته هم پراخې شوې چې د ګڼو نورو هېوادونو ترڅنګ يې افغانستان هم اغېزمن کړ چې د لومړۍ نړيوالې جګړې پر مهال يې بهرنی سياست د بريتانيا تر اشغال لاندې و؛ خو په دويمه نړيواله جګړه کې خپلواک او له سترو ځواکونو سره د اړيکو د توازن په لټه کې و.

دا چې پر امير حبيب الله خان له يوه لوري د انګرېزانو فشار و او له بلې خوا د آلمان او عثماني امپراتورۍ مشرانو ترې د انګرېزانو پر خلاف د جهاد غوښتنې کولې؛ نو نوموړی اړ شو چې په لومړۍ نړيواله جګړه کې بېطرفه سياست غوره کړي، د امير دا سياست د شاهي کورنۍ د ځينو غړو له مخالفت سره مخ شو او هماغه و چې حکومتي چارواکي يې په دوه ډلو ووېشل شول، له بلې خوا د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال افغانستان د رغونې پړاو ته داخل شوی و او د دې جګړې د دوه متحدينو په منځ کې پروت و چې د بېطرفه سياست له غوره کولو پرته يې بله لار نه درلوده.

د دغه سياست د غوره کولو په پايله کې دا هېواد نه يوازې دا چې د دغو جګړو له زيانونو په امن کې پاتې شو؛ بلکې په سياسي، ټولنيزو، اقتصادي او فرهنګي برخو کې يې ستر بدلونونه رامنځته شول چې تر ټولو مهم يې د امير حبيب الله خان وژل کېدل، د امان الله خان په مشرۍ د مشروطه غوښتونکو واک ته رسېدل، د افغانستان د خپلواکۍ ترلاسه کېدل او د سردار محمدداودخان له لوري د شاهي رژيم پر ځای د جمهوريت رامنځته کېدل و.

## سریزه

که افغانستان د هند د نیولو لپاره د سکندر مقدوني او مغولو ته د تېرېدو لار وه، په ۱۹مه ز.پېړۍ کې بې د تزاري روسیې او بریتانوي هند امپراتورۍ هم سره جلا کړې وې. دا هېواد په شلمه ز.پېړۍ کې د شوروي اتحاد او امریکا ترمنځ د اندېښنو او مناقشو یوه سرچینه هم وه. دا دواړه ځواکونه په منځنۍ او سویلي اسیا کې د خپل نفوذ د پراختیا په لټه کې وې. د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پر مهال افغانستان د ستراتیژیک موقعیت له امله د سترو ځواکونو پام ځانته اړولی و. دې هېواد د تاریخ په اوږدو کې د دې موقعیت له امله لوړې بیې پرې کړي او نه جبرانېدونکي زیانونه یې ګاللي دي. دغه راز استعماري او امپریالیستي ځواکونو د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره پر دې هېواد بریدونه او دلته د نفوذ د پراخولو هڅې کړي دي.

هند د نولسمې ز.پېړۍ تر نیمایي پورې د بریتانیا مستعمره او د دې امپراتورۍ لپاره له اقتصادي اړخه ډېر مهم و، نو د مستعمرې په توګه د دې هېواد ساتل د بریتانیا لپاره اړین و. د دې لپاره چې بریتانیا هند په ښه توګه کنترول کړی وای، نو د افغانستان د نیولو او تصرف هڅې یې هم کولې، چې وکولای شي له دې لارې خپله اصلي مستعمره (هند) ښه کنټرول کړي. له بلې خوا روسیې او فرانسې هم غوښتل چې په هند کې پانګونې وکړي او د افغانستان له لارې دې هېواد ته لاسرسی او هلته نفوذ پیدا کړي، نو له همدې امله په نولسمه ز.پېړۍ کې افغانستان د روسیې او بریتانیا ترمنځ د سیالیو پر میدان بدل شوی و. انګرېزانو غوښتل چې پر افغانستان د خپل نفوذ او واکمنۍ له لارې دا هېواد د تزاري روسیې او خپلې مستعمرې (هند) ترمنځ واقع کړي.

د شلمې میلادي پېړۍ په دوهمه او څلورمه لسیزه کې په نړۍ کې د سترو ځواکونو ترمنځ دوه جګړې رامنځته شوې چې وروسته یې بېلابېلو سیمو لکه اروپا، اسیا او افریقا ته هم پراختیا پیداکړه. په دې جګړو کې هېوادونو دوه لارې خپلې کړې، یوه ډله یې له سترو ځواکونو سره یوځای او بله ډله یې بېطرفه شول او بهرنی سیاست یې د بېطرفۍ د اصل پر اساس عیار کړ.

دا چې په دواړو نړيوالو جګړو کې افغانستان څه ډول بېطرفي سياست غوره او د پلي کېدو څرنګوالی يې څه ډول و؟ هغه پوښتنې دي چې د دې مقالې په متن کې به ځواب شي.

### د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه کې د افغانستان د بېطرفه بهرني سياست د څرنګوالي څېړل او د دې سياست د پايلو روښانه کول دي.

### د څېړنې فرضيه

داسې فرض کولای شو چې افغانستان د خپلواکه بهرني سياست د نه لرلو او د تزارې روسيې، شوروي اتحاد او بريتانوي هند ترمنځ د واقع کېدلو له امله په لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه کې بېطرفه سياست غوره کړ، چې له يوې خوا دا هېواد د دې جګړو له زيانونو څخه په امان کې پاتې شو او له بلې خوا د حکومت دننه مخالفتونو د رامنځته کېدو له امله د دې هېواد په حکومتي سيستم کې ځينې بدلونه رامنځته شول.

### د څېړنې مبرميت

د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د افغانستان وضعيت، د واکمنو سياست او د افغانستان د حکومت بېطرفۍ د اوسنيو او پخوانيو سياستپوهانو، ليکوالانو او روڼد اندو لپاره له مهم ځای ځايګي څخه برخمنه موضوع ده چې روښانه کول او په راتلونکې کې يې له درسونو او تجربو ګټه اخيستل له مهمو او مبرميت لرونکو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي.

د دې لپاره چې د هېواد اوسني او راتلونکي نسلونه د دوو نړيوالو جګړو پر مهال د امير حبيب الله او محمد ظاهر په مشرۍ د افغان حکومتونو له سياستونو خبر شي او په راتلونکې کې ترې ګټه واخلي او د دوی په سياسي پوهه کې ډېروالی راشي، نو د دا ډول څېړنو ترسره کول اړينه موضوع بلل کېږي.

### د څېړنې مېتود

په يادې څېړنې کې له توصيفي او تحليلي مېتوده کار اخيستل شوی دی.

**د لومړۍ نړیوالې جګړې پرمهال د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست څرنګوالی**

د نولسمې ز.پېړۍ په پیل کې د دوه سترو اروپایي ځواکونو (بریتانیا او تزاري روسیې) ترمنځ سیالي تر لرې ختیځ او هند نیمه وچې پورې پراخه شوه. په دې سره پر دې سیمه باندې د ولکې لپاره افغانستان د دې دواړو ترمنځ د سیالیو پر نیابتي میدان بدل شو. د بریتانیا له لوري پر افغانستان باندې د دوه ماتو شویو لښکرکشیو او د روسیې له لوري پر دې هېواد باندې د نفوذ د ناکامو هڅو په پایله کې دواړو ځواکونو افغانستان په خپل منځ کې د حائل* (Buffer State) دولت په توګه و مانه.۱ دې حالت د روسیې او بریتانیا به ګډون افغان واکمنو ته هم ګټه وکړه او کله کله به یې له بریتانیې څخه نغدې پیسې او امتیازات تر لاسه کول. دا په داسې حال کې و چې د افغانستان ډېری مذهبي او قومي مشرانو هم له دې سیاست څخه ملاتړ کاوه.

د لومړۍ نړیوالې جګړې اصلي لامل د استعماري اروپایي هېوادونو له لوري د ډېرو هېوادونو د استعمار حرص وو، خو په سربیا کې د اتریشي شهزاده او د هغه د مېرمنې قتل د دې جګړې ظاهري پلمه وګڼل شوه. د ۱۹۱۴ز.کال د جولای پر ۲۸مه نېټه اترېش له سربیا سره د جګړې اعلان وکړ. له دې سره آلمان له اترېش او روسیې د همدې کال په اګست کې له سربیا څخه ملاتړ وکړ چې په دې سره عملا لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه.

په دې جګړه کې یوه لوري ته آلمان، هنګري، ترکیه، اترېش او بلغاریا او بل لوري ته بریتانیا، فرانسه، روسیه، ایتالیا، امریکا، جاپان، رومانیا، سربیا، بلجیم، یونان او پرتګال سره ملګري وو. د دې جګړې په لومړیو کې انګرېزانو څکه پر عثماني امپراتورۍ برید وکړ چې د مسلمانانو د خلافت مرکز یې ګاڼه. دې کار د نړۍ پر مسلمانانو په ځانګړې توګه پر هندې مسلمانانو ناوړه اغېزه وکړه. دا چې

* حائل په لغت کې جلاکوونکي او مانع ته وایي. د حائل دولت اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۳ز.کال کې د بریتانوي هند د چارواکو له لوري د افغانستان په اړه وکارول شوه او په نړیوالو اړیکو کې ډېره کارېږي.

بريتانيا په اروپا کې له سختې جګړې سره مخامخ وه، ناراحته وه چې په هند کې يې پر وړاندې پاڅون ونه شي.

هغه مهال پر افغانستان باندې امير حبيب الله خان واکمن و. انګرېزانو د دې هېواد د بېطرفه ساتلو لپاره له ډول ډول سياستونو کار اخيست او د افغانستان امير يې هم پر اندېښنو پوه و، خو کله چې د المان او عثماني امپراتورۍ پلاوي کابل ته راغلل دا چاره د امير لپاره درنه تمامه شوه، ځکه چې له هغه څخه يې د انګرېزانو پر وړاندې د جهاد غوښتنه وکړه، خو امير په ډېر مهارت سره دا پلاوي، قومي مشران او علما ناهيلې نکړل او د وخت په تېرېدو سره يې بېطرفه سياست خپل کړ.[۲]

د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيل کې بريتانيې او روسيې له امير حبيب الله خان څخه د بېطرفۍ غوښتنه وکړه، ورپسې د ۱۹۱۴ز.کال په سپتمبر کې د بريتانيا پادشاه پنځم جورج امير ته په يوه ليک کې يادونه وکړه چې بېطرفه بهرنۍ سياست د افغانستان په ګټه دی او ترې ويې غوښتل چې بېطرفه پاتې شي. که څه هم چې امير حبيب الله خان په لومړيو کې بېطرفه سياست اعلان کړ، خو له لږ ځنډ وروسته يې ځينو بدلونونو دا سياست له ازمايښت سره مخ کړ.[۳]

سره له دې چې افغانستان د لومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال نه خپلواک او نه هم په جګړه کې ښکېل و، خو د څو مياشتو له تېرېدو وروسته د بريتانيې، روسيې، آلمان او عثمانيانو په څېر د سترو ځواکونو په پام کې و او د هغوی د پاملرنې وړ و. د افغانستان د وخت واکمن اميرحبيب الله خان له بريتانيا سره د ۱۹۰۵ز.کال په هوکړه کې د خپل هېواد پر بهرنيو اړيکو د بريتانيا تسلط منلی و، خو د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيل سره د آلمان، عثماني امپراتورۍ، اترېش او د ځينو هندي انقلابيونو په ګډون د غير انګليسو او سترو ځواکونو ډېپلماتيک پلاوی لومړی ځل کابل ته راغی چې مخکې يې ساری نه و ليدل شوی.[٤]

د ۱۹۱۵ز.کال د اکتوبر په مياشت کې د عثماني امپراتورۍ د جګړې د وزير انور پاشا په وړانديز او د آلمان او اترېش د دولتونو په هوکړه د بريتانيا او روسيې پر وړاندې په جګړه کې د ملاتړ لپاره د افغانستان د هڅولو په موخه د نيدر ماير او هينتيګ په مشرۍ پلاوی کابل ته راغی او له امير څخه يې د انګرېزانو پر وړاندې د

جګړې غوښتنه وکړه. له دې پلاوي سره په وروستیو شېبو کې د عثماني خلیفه پنځم سلطان محمد استازی کاظم بېګ او د هندي انقلابیونو استازي راجا مهندراپراتاب او مولوي برکت الله هم ملګري شول.[٥]

دا پلاوی هیله من و چې د عثماني امپراتورۍ د (پان اسلامیزم) او د آلمان دولت ( د اسلامي سیمو د انقلابي کولو) د نظریو پر اساس به افغانستان د روسانو او انګرېزانو پر وړاندې له جهاد سره یوځای کېدو ته وبلي. عثمانیانو او آلمانیانو باور درلوده چې په اسلامي هېوادونو په ځانګړې توګه هند او افغانستان کې به جهادي پاڅون په اروپا کې د جګړې برخلیک بدل کړي.

هندي ازادي غوښتونکو په ځانګړې توګه مسلمانانو ټینګار کاوه چې نه یواځې دا چې افغانستان دې له دوی هر اړخیز ملاتړ وکړي، بلکې له دوی سره دې یوځای جګړې ته را ودانګي. هغه مهال افغانستان د هند دروازه وه. له بلې خوا آلمان ګڼلې وه چې د افغانستان د امیر له لوري به د بریتانیا پر وړاندې د جګړې اعلان په ټوله منځنۍ اسیا او د هند په نیمه وچه کې د پاڅون لامل شي.

د پلاوي له راتګ سمدستي وروسته انګرېزانو له افغان حکومت څخه وغوښتل چې د بېطرفه هېواد په توګه د دې پلاوي غړي لومړی ونیسي او بیا یې خلع سلاح (وسلې ترې واخلي) کړي، خو د افغانستان امیر د انګرېزانو په ځواب کې د دې پلاوي سفر د بېطرفۍ نقض ونه ګاڼه او نژدې دوه کاله یې په خپل هېواد کې وساتل، خو امیر دې پلاوي ته پرېکنده ځواب ورنه کړ. له بلې خوا امیر د بریتانیا د پاچا لیک ته شپاړس میاشتې وروسته (د ۱۹۱٦ز.کال په جنورۍ میاشت کې) ځواب ورکړ.[٦]

امیر د دوه زبرځواکونو ترمنځ په جګړه کې ښکېلېدل د ځان وژنې په معنا بلل او په لومړیو کې د ۱۹۱۵ز.کال په اګست کې په یوه عامه غونډه کې چې د انګرېزانو استازی هم پکې و پر بېطرفۍ و غږېد او دا هغه څه و چې انګرېزانو ترې غوښتل، خو نوموړي دا خبرې د المان او عثماني امپراتورۍ پلاوي ته په څرګنده توګه نه کولې او له هغوی سره یې د ۱۹۱۵ز.کال له اکتوبر څخه د ۱۹۱٦ز.کال تر مې میاشتې پورې خبرې روانې ساتلې وې. په دې موده کې امیر له دې پلاوي سره په خبرو کې بېلابېلې خبرې کولې. که څه هم چې هغوی یې مېلمانه بلل، خو کله

کله يې د بنديانو (ګروګان) په څېر چلند ورسره کاوه. له همدې امله امير د مېلمستون د پلاوي مشر ته د (باعزته بندخونې) زندان ابرومند نوم کاراوه. په لومړيو کې ياد پلاوي ته د امير ځواب داو چې «جهاد ښه دی، خو وسايل يې نه لرو». د ۱۹۱۵ز.کال په اکتوبر کې اميرحبيب الله خان د ملت د مشرانو او دولتي چارواکو جرګه راوغوښته چې ۵۴۰ نفره ګډونوال يې درلودل.[۷]

نوموړي په دې جرګه کې د المان او عثماني امپراتورۍ د پلاوو د پيغام په اړه مشوره ورسره وکړه. په دې سره د جرګې ګډونوالو د افغانستان د بېطرفه سياست د خپلولو رايه ورکړه او افغانستان رسما بېطرفه سياست غوره کړ. د انګرېزانو پاچا د دې کار له امله له امير څخه رسمي مننه وکړه او د ۲،۴ دوه اعشاريه څلورميليونه کلدارو کلنۍ مرستې ژمنه يې ورکړه، پر دې سربېره يې له افغانستان سره د ٦۰ميليونه روپيو نوره مرسته هم وکړه.

د دې ترڅنګ امير له پلاوي سره هم خبرې روانې ساتلې وې. نوموړي د ۱۹۱٦ز.کال د جنورۍ په ۲۴مه د خبرو په يوه مهمه جلسه کې د جنګ د اعلانولو لپاره د لاندې شرطونو منل وړاندې کړل:[۸]

۱ـ د افغانستان د خپلواکۍ تائيدول.

۲ـ له افغانستان سره د لس ميليونه پوندو، سل زره وسلو او درې سوه توپونواو مهماتو مرستو کول.

۳ـ له المان څخه افغانستان ته د مرستو د رسولو لپاره د ايران د لارې پرانېستل.

له دې يوه ورځ وروسته اميرحبيب الله خان د انګرېزانو استازي حافظ سيف الله خان ته وويل «له پلاوي سره د معاهدې له لاسليک سره سره په جګړه کې بېطرفه او ستاسې دوستان يو». په همدې حال کې نوموړي نه غوښتل چې پلاوي ته د ښکاره ځواب په ورکولو سره د دربار دننه جنګ غوښتونکي خفه کړي، ځکه چې هغوی هم ډېر ځواک درلود.

د امير حبيب الله د دربار د تاريخ ليکونکي فيض محمد کاتب په يوه ليکنه کې راغلي «د المان او عثماني امپراتورۍ له پلاوو سره امير د رسمي خبرو ترڅنګ له هغوی سره پټې خبرې هم کولې. د نوموړي په وينا چې يوه ورځ دواړو لوريو د

دلگشا په ماڼۍ کې لیدنه او بیا یې لیکلې خبرې وکړې. امیر له هغوی سره دومره جدي خبرې وکړې چې یاد پلاوي په خپله تائید کړه چې افغانستان له خپلو دواړو ځواکمنو گاونډیانو سره د یوې میاشتې جگړې وسه هم نه لري او په بېطرفۍ کې یې گټه ده».(۹)

د دې لیدنې په سبا نصرالله خان په دې گومان چې گواکې امیر د جهاد د پیل لپاره د دولتي شورا وړاندیز لاسلیک کړی، د خپل ورور دفتر ته ورغی، خو امیر د دې برعکس له پلاوي سره د خبرو متن هغه ته ورکړ او هغه یې حیران کړ.

د افغانستان امیر غوښتل چې په دې لوبه کې له بریتانیا څخه د ډېرو پیسو او په بهرنیو اړیکو کې د ډېرې ازادۍ په څېر اصلي امتیازات ترلاسه کړي، خو د امیر دا غوښتنې بریتانیا پوره نه کړې او د المان او ترکیې پلاوی له افغانستان څخه ولاړ.

د لومړۍ نړیوالې جگړې په پای ته رسېدو، د افغان انگلیس په درېیمه جگړه کې د افغانستان د بریا او په ۱۹۱۹ز.کال کې د دې هېواد د خپلواکۍ په اعلانولو سره افغان چارواکو د اقتصادي او ټولنیزې بیا رغونې پراخ پروگرامونه پیل کړل. د دې ترڅنگ افغان چارواکو د سترو ځواکونو په اتحادونو کې نه یوځای کېدل او د بېطرفه سیاست خپلول د خپل هېواد د کورني ټیکاو د مهم شرط په توگه مراعت کول.۱۰

په داسې حال کې چې افغانستان د بریتانیا تر کنټرول لاندې او د خپل سیاست له تدوین څخه منعه شوی و، خو د لومړي ځل لپاره یې په لومړۍ نړیواله جگړه کې د خپلواکۍ په بڼه د بېطرفۍ سیاست خپل کړ. کله چې د ۱۹۱۴ز.کال په اکتوبر میاشت کې عثماني امپراتورۍ په دې جگړه کې د بریتانیا پر وړاندې له المان او نورو هېوادونو سره ودرېده، نو افغانستان ته یې په کور دننه ستونزې راپورته کړې.

## په لومړۍ نړیواله جگړه کې د بېطرفه بهرني سیاست مخالفین او موافقین

د لومړۍ نړیوالې جگړې پرمهال د افغانستان بېطرفه بهرني سیاست موافقین او مخالفین درلودل، چې د امیر د دربار د نژدې خلکو په گډون عادي افغانان هم پکې وو.

امان الله خان او د جگړې پلوي کسان د آلمان په بریا باورمند وو؛ خو دا چې د المان او ترکیې پلاوی له کومو واقعیتونو سره مخامخ شو د نیدرمایر له نظره هم په زړه پورې او هم متضاد وو، څکه چې د فیض محمد کاتب (د امیر حبیب الله د دربار تاریخ

لیکونکی) په خبره له جهاد سره د خلکو لېوالتیا په دې کچه وه چې که چېرې امیر هغه رد کړې وای، نو ډارېده چې د خلکو له نظره د خدای ج او د رسول ص امر یې پرېښی او تکفیر به یې کړي، نو په دې سره به په هېواد کې ستره ګډوډي رامنځته شوې وه. له دې ور اخوا ډېرو عادي خلکو، د سلطنتي کورنۍ ځینو غړو، له نفوذه ډکو سیاسي او پوځي کورنیو له روسانو او انګرېزانو سره د جهاد ملاتړ کاوه، هغوی د عثماني خلیفه د جهاد غږ ته د مثبت ځواب غوښتونکي وو او دا یې د افغانستان ملي او اسلامي دنده ګڼله، خو امیر او شاوخوا خلک یې له دې کار سره مخالف وو.[11]

دا وضعیت عثمانیانو او المانیانو محاسبه کړی وو. په دې سره که چېرې افغانستان جګړې ته داخل شوی وای، نو هندي انقلابیونو به هم پاڅون کړی وو او دې احتمال ډېر و چې په منځنۍ اسیا او منځني ختیځ کې به د وضعیت د بدلېدو لامل شوی و چې په دې سره به بریتانیا د نړۍ په ډېرو برخو کې ښکېل شوې چې په پایله کې به یې په اروپا کې پر المان باندې فشار کم شوی و. پر همدې دلیل د بریتانوي هند چارواکو په ځانګړې توګه د بریتانوي هند ستر قوماندان لرد چارلز هاردینګ د افغانستان پر امیر باندې د خپل نفوذ پر اساس له هغه څخه مکررا غوښتنه کوله چې د سترو ځواکونو استازي ونیسي، خو د افغانستان امیر په ډېر دقت سره احتیاط کاوه، چې نه هم د عمومي افکارو په ځانګړې توګه د دولت د ننه د جګړې پلوو کسانو له نفرت او نه هم د انګلیس د دولت له بدګمانۍ سره مخامخ شي.

امیر حبیب الله امر وکړ چې د نورو هېوادونو (غیرانګلیس) د پلاوو هرکلی دې د مېلمه په څېر وشي. هماغه و چې هغوي هم په کابل او هم په هرات کې وپالل شول، نیدر مایر په خپلو خاطراتو کې لیکلي«په کابل کې په داسې ښه زمونږ هرکلی وشو چې په دې ښار کې غریب او بیګانه نه یو». د هرکلي په دې کسانو کې د افغانستان د پوځ ترکي روزونکو هم ګډون درلود، حالاتو ته په کتو امیر څو اوونۍ له هغوی سره له لیدنې ډډه وکړه. دا پلاوی د سپتمبر په وروستیو کې کابل ته راغلی و او د اکتوبر په نیمایي کې یې د افغانستان له امیر سره په پغمان کې وکتل. دې پلاوو د آلمان د قیصر او عثماني خلیفه لیکونه امیر ته وسپارل، خو امیر د څرګند ځواب له ورکولو ډډه وکړه او خپله پرېکړه یې یوې ځانګړې دولتي شورا ته راجع کړه.

د نیدرمایر په وینا امیر هرې خبرې ته د دسیسې او معاملې په توگه کتل او تر ډېره د انگرېزانو تر اغېز لاندې و، خو یو ورور اودوه زامن یې د نظر مخالف وو. د افغانستان په حکومت کې درې کورنیو ډېر نفوذ درلود: د مصاحبانو، چرخي او طرزي کورنۍ. دا درې واړه کورنۍ د انگرېزانو پر وړاندې د جگړې پلویانې وې. د طرزي کورنۍ ځکه د جگړې پلوې وه چې ډېر کلونه یې د عثماني امپراتورۍ تر واک لاندې په ترکیه کې ژوند کړی و او له ترکي ملتپالنې څخه په الهام اخیستنه د ملتپالنې په فکر هېواد ته راستانه شوي وو. محمود طرزي چې د امیر په کورنۍ کې ډېر نفوذ درلود د انگرېزانو کلک مخالف و.[۱۲]

چرخیان په دودیزه توگه د انگرېزانو کلک مخالف و، د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پرمهال د پوځ ستر قومندان غلام حیدرخان چرخي د دوی پېژندل شوې څېره وه. د مصاحبانو کورنۍ په ځانگړې توگه محمد نادرخان او د هغه ورونو د ملتپالنې د حس په درلودو سره د انگرېزانو پر وړاندې د جگړې پلوي کوله. د دې کورنۍ مشران د امیر د پخوانیو مصاحبو له نسلونو څخه وو او له همدې امله یې هغوی ته مصاحبان ویل.

دغه راز ځینې مهم دولتي چارواکي لکه د هېواد مستوفي محمد حسین خان او د دولت د ځانگړې شورا ځینې غړي په دې ډله کې وو. د دې ترځنگ وارتان گریگوریان د سلطنت په دربار کې دننه د درې ډلو نومونه ذکر کړي، چې لومړۍ یې د سردار عنایت الله په مشرۍ د انگلیس ضد محافظه کاران، د محمود طرزي په مشرۍ د ترکیې منځلاري پلویان او د امان الله خان په مشرۍ نور ځوانان وو. دغه رازد امان الله خان او محمود طرزي په دربار کې ځینې رونډ اندي د امیر له لوري د بېطرفۍ د سیاست له خپلولو سره موافق نه وو، ځکه چې د بېطرفۍ سیاست یې تر ډېره د انگلیس په گټه باله. د دې اختلاف ستره نښه په سراج الاخبار ورځپاڼه کې د (حی علی الفلاح) تر عنوان لاندې د مقالې خپرېدل و.[۱۳]

له بلې خوا د سلطنتي کورنۍ ځینې غړي هم له پورته ډلو سره همغږي وو، چې تر ټولو مهم یې د امیر ورور نایب السلطنه نصرالله خان، د امیر زامن هر یو عین الدوله امان الله خان او معین السلطنه عنایت الله خان وو. د سیاسي فکر له اړخه د

جګړې پلويان ټول ملي پال وو. د دې ټولو موخه خپلواکي او له بريتانوي هند څخه د قبايلي سيمو بېرته نيول وو. هغوی ټينګار کاوه چې د المان او عثماني امپراتورۍ پلاوو ته دې مثبت ځواب ورکړل شي.

د فيض محمد خان کاتب په ليکنه کې راغلي چې نصرالله خان او عنايت الله خان به په اونۍ کې يو ځل په باغ بابر کې د راغلي پلاوي هستوګنځي ته ورتلل او د شپې به يې له دوی سره خبرې کولې. تر دې چې د سراج الاخبار خپرونې د انګرېزانو پر ضد د تبليغ د مهمې سرچينې په توګه راپورته شوې وه. نيدر ماير ليکي چې محمود طرزي په يوه مقاله کې امير ته ليکلي و چې «ښاغليه! مخکې له دې چې تا هغوی وخوري، ته يې وخوره!».[١٤]

د جګړې پلويانو تصوردا و چې المان به بريالی کېږي او که چېرې افغانستان په لومړيو کې له ماتې سره هم مخامخ شي، نو په اروپا کې به د المان له بريالیتوب سره افغانستان هم بريالی شي. له بلې خوا په هند کې د ملي پالو هندوانو او د جهاد پلوه مسلمانونو ترمنځ پراخو تبليغاتو هم پر افغانستان باندې سيوری غوړولی وو.

د بېطرفه بهرني سياست په پلويانو کې پخپله امير او هغه ته ځينې نورې نژدې ډلې وې، چې په سر کې يې د لومړي وزير اعتمادالدوله عبدالقدوس او محمد يوسف مصاحب و. ډېری څېړونکي په دې اند دي چې د دې ډلو ډېريو غړيو له انګرېزانو سره نژدې اړيکې درلودې. که څه هم چې دې ډلو په ځينو کليدي مسائلو کې له يوبل سره د نظر اختلاف درلود، خو په دې برخه کې له يوبل سره همغږي وو. د جګړې په مخالفانو کې د امير عبدالرحمن خان ښځه بي بي حليمه او د امير حبيب الله خان ميره هم شامله وه. ويل کېږي چې نومړې په دربار کې د ستر نفوذ څښتنه وه او لېواله وه چې يوه ورځ به يې سکنی زوی محمد عمر د انګرېزانو تر ملاتړ لاندې واک ته ورسېږي.

## په لومړۍ نړيواله جګړه کې د افغانستان د بېطرفه بهرني سياست پايلې

### ۱ـ مثبتې پايلې

په لومړۍ نړيواله جګړه کې ښکېلو هېوادونو ته ډېر مالي او ځاني زيانونه ورسېدل، په دې جګړه کې د عادي وسلو ترڅنګ کېمياوي هغه هم وکارېدې او په پايله کې يې تر نهو ميليونه ښکېل پوځيان او اووه ميليونه ملکي کسان ووژل شول.[١٥]

افغانستان د گوتو په شمېر هېوادونو له ډلې و چې په لومړۍ نړیواله جگړه کې یې بېطرفه سیاست غوره کړ او د دې جگړې له ورانیو په امان کې پاتې شو.

لکه څرنگه مو چې په وړاندې بحثونو کې یادونه وکړه چې د افغان حکومت له لوري د بېطرفه سیاست په خپلولو سره د سلطنت دستگاه او د امیر کورنۍ په دوه برخو ووېشل شوه، چې یو لوری د دې ډول سیاست موافق او بل لوری یې مخالف و. د امیر له سیاست سره د ده د کورنۍ، دولتي چارواکو او حتی ساده دولتی کارکونکو اختلاف د هغه دربار دوه ټوټې کړی و. مخالفانو په کراره کراره د امیر پر وړاندې پلانونه جوړ کړل او نوموړی یې په ۱۹۱۹ز.کال کې ترور کړ. په دې سره د امیر حبیب الله خان واکمني پای ته ورسېده او پر ځای یې امان الله خان واک ته ورسېد، نوموړي په لومړي سر کې له انگرېزانو څخه د افغانستان خپلواکي واخیسته او بیا یې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو برخو کې ژور بدلونونه راوستل. د افغانستان بهرنی سیاست یې پراخ کړ او نوی حکومت یې رامنځته کړ.

له بلې خوا د امیر له لوري د جهاد د فتوا نه منلو په خلکو کې د هغه شأن (محبوبیت) کم کړ او هغه ته یې د خپلواکۍ په اړه د بې تفاوته پاچا په سترگه کتل. د ځینو شنونکو په اند دا کار د امیر په وژنه کې هم بې اغېزې نه و. د امیرحبیب الله د دریځ په پایله کې په هېواد کې د انگلیس ضد او خپلواکۍ غوښتنې روحیه پیاوړې شوې وه او هماغه و چې پر ځای یې امان الله خان واکمن شو.

دغه راز د تاریخ په اوږدو کې افغانستان د استعمار له ناوړه پدېدې سره مخامخ و چې له دې لارې یې نه جبرانیدونکي زیانونه گاللي وو، بریتانیا پر افغانستان د پوځي او سیاسي یرغلونو له لارې غوښتل دا هېواد د تل لپاره تر ولکې لاندې وساتي؛ خو د امیر حبیب الله له مرگ او د امان الله خان په واک ته رسېدو سره د دوی دا هیلې له خاورو سره خاورې شوې.

**۲ـ منفي پایلې**

کله چې امیر حبیب الله خان په لومړۍ نړیوالې جگړه کې بېطرفه سیاست غوره کړ، نو د بریتانوي هند د واکمنو ملاتړ یې ترلاسه کړ. په دې سره نوموړي د خپل حکومت بنسټونه ټینگ کړل او د خلکو پر وړاندې یې بې اعتنایي پیل کړه.

دې حالت خلک د هغه پر وړاندې را پورته کړل، په هېواد کې ګډوډې پيل شوه او د حکومت سقوط ته يې زمينه برابره کړه.[١٦]

د لومړۍ نړيوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته څرګنده شوه چې انګرېزانو نه افغانستان ته خپلواکي ورکړه او نه يې هم له امير سره ژمنه شوې مرستې وکړې، په دې سره د امير پر وړاندې کورنۍ ناخوښي ډېره شوه او د امير هغه تصميم يې جبران نه کړ چې د انګرېزانو پر وړاندې له جګړې څخه د قبايلو په مخنيوي کې يې زغملی و.

په ۱۹۱۵ز.کال کې د محور دولتونو (المان، اترېش، ترکيې او هندي انقلابيونو) پلاوي افغانستان ته په خپل سفر کې افغان چارواکو ته له دې دولتونو سره د انګرېزانو پر وړاندې د جګړې لپاره د مالي، پوځي او سياسي (د افغانستان د خپلواکۍ په رسميت پېژندل او افغانستان ته د ډيورنډ پورې غاړې ځمکو سپارل) مرستو ژمنې ورکړې. کله چې انګليسان د پلاوي له ژمنو خبر شول، نو دوی هم د بېطرفه سياست په بدل کې امير حبيب الله خان ته د مالي مرستو او د افغانستان د خپلواکۍ د په رسميت پېژندلو ژمنې ورکړې، خو انګرېزانو د جګړې له پای ته رسېدو وروسته نه هم افغانستان ته د مرستو ژمنې سرته ورسولې او نه يې هم د دې هېواد خپلواکي په رسميت وپېژندله.[١٧]

د دې ترڅنګ امير هيله درلوده چې د لومړۍ نړيوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته به د سولې کنفرانس ته وبلل شي، خو بريتانوي چارواکو يې په ځواب کې وويل چې په دې کنفرانس کې هغه هېوادونه ګډون کوي چې په جګړه کې يې برخه اخيستې وي. په دې سره امير ناهيلی شو او په هېواد کې يې پر وړاندې غبرګونونه راپورته شول.[١٨]

دغه راز په لومړۍ نړيواله جګړه کې د افغانستان بېطرفي پر متحدينو باندې د متفقينو د بريالیتوب د يوه مهم لامل په توګه يادولی شو، معاصر افغانستان پېژندونکي جولزاستوارت په خپل کتاب (کابل ته د قيصر لېږل شوی پلاوی) ليکلي «د افغانستان بېطرفي پر المان او متحدينو يې د انګليس او متفقينو د برلاسۍ او بريا د مهمو لاملونو له ډلې وه، ځکه که چېرې افغانانو او قبايلي سيمو د انګرېزانو پر وړاندې پاڅون کړی وای، نو بريتانيا اړ وه چې هغه پوځيان چې له هند څخه يې بين النهرين ته لېږلي وو، بيا به يې هند ته غوښتل او له دې وراخوا يې بايد

نور پوځيان هم له اروپا څخه د قبايلو او افغانانو جګړې ته را غوښتي واى. دې چارې پر جګړه برخليک ټاکونکی اغېز درلودلای شواى، خو کله چې افغانستان بېطرفه سیاست اعلان کړ، انګرېزانو د ارامۍ ساه واخیسته او د اروپا او منځني ختيځ جبهې يې پياوړې کړې چې په پايله کې يې المان او د هغه متحدينو ته ماته ورکړه».[۱۹]

په دواړو نړيوالو جګړو کې د افغانستان د بېطرفۍ سياست تر ډېره د انګرېزانو په ګټه هم و، ځکه چې له دې هېواد څخه د هند په لوري د الماني ځواکونو تګ او په قبايلو کې يې د انګليس پر وړاندې د پاڅونونو د رامنځته کېدو مخينوی کاوه. که څه هم چې المان مرزاعلي خان (مشهور په فقير ايپي) او سعيدالګيلاني (مشهور په شامي پير) په قبايلي سيمو کې د پاڅونونو د رامنځته کولو لپاره تمويل او هڅول، خو دا چې دا پاڅونونه د افغانستان له ملاتړ څخه برخمن نه وو، نو هماغه و چې مطلوبه پايله يې نه ورکوله.

## د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بېطرفه بهرني سياست څرنګوالی

د افغانستان له خپلواکۍ وروسته د دې هېواد په نړيوالو اړيکو کې نوي خوځښتونه رامنځته شول چې امان الله خان يې په سر کې و. افغانستان د يوه خپلواک هېواد په توګه له اروپايي او اسيايي هېوادونو سره ډيپلماتيکې اړيکې ټينګې کړې. له شوروي اتحاد سره د اړيکو ټينګېدل د بريتانوي هند د سترې اندېښنې لامل و، د هند وايسرا لارد چيمفورد د افغانستان د خپلواکۍ له منلو ډېر کوله او د امير (حبيب الله خان) پر مړينه يې خواشيني ښودلې وه. همدا ډول نظر د امريکا ولسمشر هارډينګ هم د امان الله خان له لوري دې هېواد ته د لېږل شوي پلاوي (چې د افغانستان د رسميت پېژندلو لپاره ورلېږل شوی و) په ځواب کې څرګند کړی و. که څه هم چې امان الله خان د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د ښو اړيکو، د هغوی د مرستو د جلبولو او د افغانستان د ودانولو لپاره د هغوی د همکاريو غوښتونکی و، خو له شوروي اتحاد سره د افغانستان اړيکې پر انګرېزانو ښې نه لګېدې.

انګليسان په هيڅ صورت نه و حاضر چې افغانستان يې د بهرني سياست د نفوذ له ساحې بهر وي. اروپايي هېوادونو ته د امان الله خان سفر، له شوروي اتحاد سره نژدې اړيکې، د امير په دربار کې د ترکي صاحب منصبانو شتون او له شوروي اتحاد سره په ۱۹۲٦ او ۱۹۲۷ز.کلونو کې تړونونه هغه لاملونه و چې انګرېزانو په افغانستان کې پاڅونونو او شخړو ته لمن وهله.[۲۰]

له امان الله خان وروسته نادرخان او سردار محمد هاشم خان په خپله واکمنۍ کې په خپل بهرني سیاست کې د سترو ځواکونو ترمنځ د توازن ساتلو هڅې کولې. د بېلګې په توګه نادرخان له انګرېزانو سره د ښو اړیکو ترڅنګ شوروي اتحاد ته هم پام کاوه او په خپل بهرني سیاست کې یې د هغوی ترمنځ د ښو اړیکو په ټېنګېدو کې توازن ساتلی و، خپل ورو سردار محمد عزیزخان یې د مختار وزیر په توګه په مسکو او بل ورور یې مارشال شاولي خان په لندن کې د سفارت مشرۍ ته لېږلی و. سره له دې چې افغان حکومت له شوروي اتحاد سره په سوداګریزو-اقتصادي او پوځي - فني برخو کې خپل تعامل پراخ کړی و، خو په ۱۹۲۸ز.کال کې یې د شوروي اتحاد، ایران، ترکیې او افغانستان ترمنځ د پوځي اتحاد د جوړېدو لپاره د مسکو وړاندیز ونه مانه.[۲۱]

د محمد ظاهر د واکمنۍ پر مهال د افغانستان بهرنی سیاست له انګلیس او شوروي سره د ښه نیت پر اصولو ولاړ و. د انګلیس پر وړاندې د ډیورند د پورې غاړې قبایلو د پاڅون د مخنیوي په اړه د سردار محمد هاشم خان هڅې د بریتانوي هند د قناعت وړ وې. له دې هڅو سره سره افغان حکومت په خپلو بهرنیو اړیکو کې د توازن د ساتلو په موخه په ۱۹۳۵ او ۱۹۳۶ز.کلونو کې له شوروي اتحاد سره دوه نوې هوکړې هم لاسلیک کړې. له خپلواکۍ وروسته افغان حکومتونو له امریکا سره د ښو اړیکو د ټینګولو هڅې کولې، چې له دې لارې ځان د انګلیس او شوروي اتحاد له اړتیا خلاص کړي؛ خو امریکایانو د انګرېزانو په مشوره دې کار ته زړه نه ښه کاوه. په ۱۹۳۹ز.کال کې د دویمې نړیوالې جګړې په پیل سره افغانستان بیا د المان د پام وړ وګرځېد. دې هېواد غوښتل چې په سرحدي سیمو کې د بریتانوي هند پر وړاندې د قبایلو په پاڅون کې د سلطنت له نفوذ څخه ګټه واخلي.[۲۲]

له بلې خوا د جګړې پرمهال انګرېزانو د افغانستان په اړه نرمي کوله، د بېلګې په توګه کله چې په ۱۹۴۰ز.کال کې افغانستان له شوروي اتحاد سره سوداګریزه معاهده لاسلیک کړه، نو انګرېزانو د کراچۍ بندر له لارې د افغانستان د اړتیا وړ توکو د لېږد مخنیوی نه کاوه.

د ۱۹۴۱ز.کال د اکتوبر پر ۲۱مه شوروي اتحاد او انگرېزانو په لیکلې توگه له افغان حکومت څخه و غوښتل چې له ډیپلوماتیکو کارکوونکو پرته له افغانستان څخه الماني او ایتالوي وگړي وباسي، په دې سره افغان حکومت لویه جرگه را وبلله. د جرگې گډونوالو حکومت ته واک ورکړ چې دا غوښتنه تر غور لاندې ونیسي. دغه راز په دې جرگه کې د افغانستان بېطرفي بیا ځلې تائید شوه او په دې سره افغان حکومت الماني او ایتالوي وگړي بېرته خپلو هېوادونو ته ستانه کړل.

د دویمې نړیوالې جگړې له پیل وړاندې افغانستان یو ځل بیا د خپل ځواکمن گاونډي د راپورته کېدو له وېرې په دې جگړه کې له گډون څخه ډډه وکړه. محمد ظاهر د خپل لومړي وزیر او تره سردار محمدهاشم خان په سپارښتنه د ۱۹۳۹ز.کال د سپتمبر پر ٦ مه رسما د افغانستان سیاست بېطرفه اعلان کړ او څرگنده یې کړه چې دا هېواد به د جگړې له متخاصمو (لورو) اتحادونو سره یوځای نه شي. د سردار محمد هاشم خان حکومت هم په لومړۍ نړیواله جگړه کې د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په څېر د بېطرفه بهرني سیاست له امله د حکومت دننه او نورو خلکو له فشار سره مخامخ شو. لومړۍ ډله د سردار محمد داود خان او سردار محمد نعیم خان په مشرۍ هغه کسان و چې تر یوې کچې د المان پلویان او د حکومت په لوړو څوکیو یې کار کاوه. دویم دا چې تر ۲۰۰دوه سوه پورې الماني او ایټالوي تخنیکي کار کوونکو په افغانستان کې کار کاوه، چې ځینې یې د انگرېزانو د گټو پر وړاندې د قبایلو د پاڅولو پر فعالیتونو تورن وو. درېیم دا چې المان په افغانستان کې په اقتصادي او مالي برخو کې سخاوتمندانه پانگونې کړې وې او خلکو تر ډېره د دې هېواد په اړه ښه نظر درلود. په داسې حال کې چې د شوروي او بریتانیې فعالیتونو ته یې د شک په سترگه کتل.[۲۳]

له پورته ټولو مسائلو سره سره د پاچا محمد ظاهر د بېطرفه سیاست اعلامیه د هغه د پیاوړي لومړي وزیر له ملاتړ څخه برخمنه وه. د دې ترڅنگ نوموړي د خپل دریځ د پیاوړتیا لپاره په ۱۹۴۱ز.کال لویه جرگه راوبلله چې د بېطرفه سیاست او د متفقینو د غوښتنې (له هېواد څخه د مشکوکو الماني او ایټالوي وگړو وېستل) په اړه مشوره ورکړي. د جرگې گډونوالو په غوخ اکثریت د بېطرفۍ له سیاست څخه ملاتړ

وکړ او اعلان یې وکړ چې د افغانستان خاوره به د هېچا پر ضد ونه کارول شي او دا هېواد چمتو دی چې پر خپله خاوره د بهرنیو یرغلونو مخه ونیسي. دغه راز جرګې له ډېپلوماتیکو کارکوونکو پرته خپلو هېوادونو ته د الماني او ایتالوي وګړو د باعزته ستنېدو سپارښتنه هم وکړه.

که څه هم چې د شامحمود خان د صدارت پر مهال (۱۹۴٦-۱۹۵۳ز.کال) د نړۍ له هېوادونو په ځانګړې توګه امریکا سره د افغانستان اړیکې ښې شوې، خو کله چې سردار محمد داودخان لومړی وزیر شو د افغانستان دودیزې بېطرفۍ ته یې د پای ټکی کېښود.

## د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست پایلې

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته نړیوال نظم دوه قطبي شو چې یو یې د امریکا په مشرۍ لوېدیځ او بل یې د شوروي اتحاد په مشرۍ ختیځ بلاک و، پاچا محمدظاهر په ۴۰ کلنه واکمنۍ کې د دغو بلاکونو ترمنځ په ډېر مهارت بېطرفي مراعت کړې وه او ویې کولای شول چې د دواړو له همکاریو څخه د افغانستان په رغونه کې ګټه پورته کړي، د بېلګې په توګه د بلخ د هوایي ډګر د رغولو چارې روسانو، د کندهار د هوایي ډګر او کجکي د برېښنا بند د جوړولو کار امریکایانو پر مخ بېوه، که څه هم چې په ځینو برخو کې کارونه ورو پر مخ تلل؛ خو د زېربناو او د افغانانو اړتیاو ته په کتو ډېر اغېزناک وو، دغه راز د نومورې د واکمنۍ پر مهال افغانستان ته د دې هېوادونو مشران هم راتلل؛ خو امریکا د بریتانیې د پخواني سیاست په څېر له افغانستان سره په پوځي برخو کې د همکارۍ لېوالتیا نه درلوده او نه یې غوښتل چې دا هېواد د پاکستان په څېر پیاوړی او سمبال پوځ ولري.

دغه راز د دې جګړې له پای ته رسېدو وروسته په نړۍ کې ستر بدلونونه راغلل، د بېلګې په توګه د بریتانیا امپراتوري له منځه ولاړه او پر ځای یې شوروي اتحاد او امریکا د نړۍ د دوه سترو ځواکونو په توګه راپورته شول. تر ټولو مهمه دا چې پاکستان له هند څخه جلا او پښتون مېشته قبایلي سیمې یې د خپلې خاورې

برخه اعلان کړي، نو په دې سره افغانستان اړ شو چې په خپل بهرني او کورني سیاست بیا کتنه وکړي. که څه هم چې د سردار محد هاشم خان په څېر مخکینیو سیاسونو فکر کاوه چې افغانستان دې د بریتانیا پر ځای د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ د حائل په توګه واقع شي، خو د سردار محمد داود، سردار محمد نعیم خان او مجید زابلي په څېر ځوانانو په کورني او بهرني سیاست کې د اساسي اصلاحاتو غوښتنه پیل کړه، نو دا چې مخکنیو سیاسونو تر ډېره د پخواني سیاست پر پلي کېدو ټینګار کاوه او د سردار محمد داودخان په مشرۍ د شاهي کورنۍ نورو غړو له حالاتو سره د برابر سیاست د پلي کېدو غوښتنه کوله، نو هماغه و چې د شاهي کورنۍ ترمنځ درز رامنځته شو او په پای کې سردار محمدداود د سپینې کودتا له لارې واک ترلاسه او شاهي رژیم یې پر جمهوري بدل کړ.

د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال د ښکېلو هېوادونو ۱۵میلونه پوځیان مړه، ۲۵میلیونه پوځیان ټپیان او ۴۵ملکي کسان ووژل شول،۲٤ د دې ترڅنګ د دې جګړې پرمهال ښکېل هېوادونه له سترو ورانیو سره مخامخ شول، د عادي وسلو ترڅنګ کیمیاوي او هستوي وسلې هم پکې وکارېدې چې تر ټولو مهمه بېلګه یې پر جاپان د امریکا اټومي بریدونه وو، نو افغانستان د بېطرفه بهرنی سیاست په خپلولو سره د دې جګړې له ورانیو او وژنو په امان کې پاتې شو او له بلې خوا په دې موده کې دا هېواد ارام و، امنیتي پاڅونونه او ستونزې کمې او داسې کورنی پاڅون نه و چې له بهر څخه دې تمویل شوی وای.

کله چې سردار محمد داودخان د افغانستان سیاسي رژیم له شاهي څخه پر جمهوریت بدل کړ، نو د دې هېواد په بهرني سیاست کې ځینې بدلونونه راغلل. نوموړي تر یوې مودې د تېر په څېر بېطرفه بهرني سیاست ته دوام ورکړ، خو دا چې امریکا د افغانستان د غوښتنو منلو ته لېوالتیا نه درلوده، نو افغان حکومت اړ شو

چې له شوروي اتحاد سره اړیکې پراخې کړي. له داود خان وروسته کمونست پلوه مشران پر افغانستان واکمن شول، دا چې هغوی د اړیکو ټوله تله د شوروي پر لوري کږه کړې وه، نو د امریکا په ګډون د لوېدیځ له مخالفت سره مخامخ وو. په ۱۹۷۹ز.کال کې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل نه یواځې دا چې د دې هېواد بېطرفه بهرنی سیاست عملا له منځه یووړ، بلکې د دې هېواد ناپېلتوب یې هم بې معنا کړ، ځکه چې د دې غورځنګ د منشور پر اساس غړو هېوادونو په خپلو خاورو کې بهرنۍ پوځي اډې نشوای جوړولای او هلته یې بهرني پوځیان نشوای ځای پر ځای کولای.

## پایله

له تاریخي اړخه بېطرفي د افغانستان د بهرني سیاست له مهمو ځانګړتیاوو څخه وه، چې په بېلابېلو وختونو کې د مختلفو مشرانو له لوري ډول ډول مطرح شوې ده. ځینو افغان واکمنو د نړۍ د سترو ځواکونو ترمنځ د توازن د رامنځته کولو په موخه غوره کړې وه. د بېطرفه بهرني سیاست اصلي کار دا و چې افغانستان د خپلو ګاونډیو ځواکونو، په لومړي سر کې د شوروي اتحاد او بریتانیا د امپراتورۍ او وروسته د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ ځانګړې انډول وساتي.

د دواړو نړیوالو جګړو پر مهال د افغان چارواکو با ثباته اعلامیو ته په کتو افغانستان په ریښتینې توګه په دې جګړو کې بېطرفه سیاست پر مخ بېوه. که څه هم چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته افغان حکومتونو پر بېطرفه سیاست ټینګار کاوه، خو د وخت په تېرېدو سره دا سیاست پر ناپیلتوب بدل شو. په تېر کې د افغانستان په کورنیو چارو کې د سترو ځواکونو لاسوهنو او تېریو ته په کتو سره ویلای شو چې لوړ پوړي حکومتي چارواکي د بېطرفه بهرني سیاست له خپلولو هم اندېښمن و چې ښه بېلګه یې په ۱۹۱۵ز.کال د لومړۍ نړیوالې جګړې پرمهال د

امیر حبیب الله خان او په دویمه نړیواله جګړه کې په ۱۹۴۱ز.کال کې د پاچا محمد ظاهر له لوري د لویو جرګو رابلل او له ځان څخه د مسؤلیت رفع کول و.

د افغانستان د بېطرفۍ سیاست له پیل څخه څرګندېږي چې دې هېواد د خپل جغرافیاوي موقعیت پر بنسټ چې د تزارې روسیې او بریتانوي هند ترمنځ پروت و، خپل سیاست برابر کړی و. بیا د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته له نویو نوښتونو سره دوامداره پاتې شوه، خو د سترو ځواکونو ترمنځ د موازنې د نه رعایت له مخې په دې هېواد کې د دې ځواکونو پوځې لاسوهنې رامنځته شوې چې تر ټولو ستره بېلګه یې په ۱۹۷۹ز.کال کې د شوروي اتحاد یرغل و.

له بلې خوا افغانستان د دواړ نړیوالو جګړو پر مهال له بېطرفۍ پرته بله لار نه درلوده، ځکه چې له یوې خوا المان او ترکیې ورسره له لازمو مرستو ډډه کوله او وس یې نه درلوده او له بلې خوا افغانستان هم کمزوری و او دا چې د تزارې روسیې، شوروي اتحاد او بریتانوي هند په منځ کې پروت و، نو په دغو جګړو کې یې د ښکېلېدو ورتیا نه درلوده. د دې ترځنګ په دواړو نړیوالو جګړو کې د افغانستان بېطرفه سیاست له ځان سره مثبتې او ځینې منفي پایلې درلودې چې په مثبتو هغو کې یې د جګړې له ورانیو په امان کې پاتې کېدل او په منفي هغو کې یې د خپلو غوښتنو او وړاندیزونو نه ترلاسه کېدل شامل وو.

**وړاندیزونه**

۱ـ د دې لیکنې لومړی وړاندیز د افغانستان ځوان او لوستي نسل او سیاسیونو ته دی. په دې معنا چې ځوان لوستی نسل دې له تېر تاریخ څخه عبرت او سیاسیون دې په بهرني سیاست کې ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي.

۲- په لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه کې دې د افغانستان له بېطرفه بهرني سیاست څخه د هېواد په سترو معاملو کې د تجربو په بڼه درس واخیستل شي، ځکه چې دا ډول سیاست نه هم د تل لپاره ګټور او نه هم د تل لپاره زیانمن وي، نو پر دې بنسټ دې په دې اړه دقیق ګامونه واخستل شي او وروسته دې وړ پرېکړې وشي.

۳ـ اسلامي امارت دې خپل بېطرفه سیاست د هېواد له پوه او تجربه لرونکو کسانو سره په مشوره تدوین او بیا دې د لوړو چارواکو له لوري تائید کړي.

۴ـ د افغانستان د علومو اکاډمۍ ته وړاندیز کېږي چې د بهرني سیاست له پلې کوونکي دستګاه سره خپلې همکارۍ پراخې او د دا ډول څېړنو موندنې دې له هغوی سره شریکې کړي.

## مأخذونه

[۱]. ظاهر طنین، افغانستان در قرن بیستم (۱۹۰۰ـ۱۹۹۶م)، کابل، ناشر: انستیتوت دپلوماسی وزارت امور خارجه ج.ا.ا، چاپ سوم، ص ۱۹.

[2]. Mohammad Ebrahimi. (2021). A Review of Afghanistan's Neutrality Policy in World War I.
Retrieved
http://ijariie.com/AdminUploadPdf/A_Review_of_Afghanistan%E2%80%99s_Neutrality_Policy_in_World_War_I_ijariie13685.pdf.

[3] Nasir A. Andisha. (March 2015). Neutrality in Afghanistan's Foreign Policy. Retrieved https://www.usip.org/publications/2015/03/neutrality-afghanistans-foreign-policy.

[٤] ایوب آروین، شرکت در جنگ جهانی اول؛ درخواستی که سلطنت افغانستان را دوپارچه کرد، بی بی سی، عقرب ۱۳۹۳هـ ش، دسترسی:

https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/06/140628_k02_ww1_afghanistan_world_war_1[مراجعه ۱۴۰۲/۷/۲۱].

[5] ظاهر طنین، افغانستان در قرن بیستم (۱۹۰۰-۱۹۹۶م)، کابل، ناشر: انستیتوت دپلوماسی وزارت امور خارجه ج.ا.ا، چاپ سوم، ص ۳۰.

[6] Nasir A. Andisha. (March 2015). Neutrality in Afghanistan's Foreign Policy. Retrieved https://www.usip.org/publications/2015/03/neutrality-afghanistans-foreign-policy.

[7] میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، بنگاه انتشارات میوند، کابل، ۱۳۸۷هـش، چاپ پنجم، ص ۷۳۹.

[8] ایوب آروین، شرکت در جنگ جهانی اول؛ درخواستی که سلطنت افغانستان را دوپارچه کرد، بی بی سی، عقرب ۱۳۹۳هـ ش، دسترسی https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/06/140628_k02_ww1_afghanistan_world_war_1[مراجعه ۱۴۰۲/۷/۲۱].

[9] هماغه لیکنه.

[10] و. اوسیپف، گزارنده به دری: عزیز آریانفر، پیرامون بی طرفی افغانستان، ۳۱ اگست ۲۰۱۰م. دسترسی از http://archive.mashal.org/content.php?t[مراجعه ۲۰۲۳/۱۰/۱۷].

[11] ایوب آروین، شرکت در جنگ جهانی اول؛ درخواستی که سلطنت افغانستان را دوپارچه کرد، بی بی سی، عقرب ۱۳۹۳هـ ش، دسترسی https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/06/140628_k02_ww1_afghanistan_world_war_1[مراجعه ۱۴۰۲/۷/۲۱].

[12] هماغه لیکنه

[13] محمد ولی، نظر مختصر بر سیاست بیطرفی افغانستان، هوډ سیاسي، ټولنیزه او کلتوري خپرونه، لاسرسی http://howd.org/likene/3152-mokhtasare-bar-fd-tarafi-afg.html[مراجعه ۱۴۰۲/۷/۱۴].

[۱۴] ایوب آروین، شرکت در جنگ جهانی اول؛ درخواستی که سلطنت افغانستان را دوپارچه کرد، بی بی سی، عقرب ۱۳۹۳هـ ش، دسترسی: https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/06/140628_k02_ww1_afghanistan_world_war_1.[مراجعه ۱۴۰۲/۷/۲۱]

[15] *First World War*, 1914. [place of publication not identified: German Peace Society, to 1918] [Photograph] Retrieved from the Library of Congress, accessed from: https://www.loc.gov/item/2021670566/.2023/10/20.

[16] Nasir A. Andisha. (March 2015). Neutrality in Afghanistan's Foreign Policy. Retrieved https://www.usip.org/publications/2015/03/neutrality-afghanistans-foreign-policy.

[۱۷] میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، بنگاه انتشاارات میوند، کابل، ۱۳۸۷هـش، چاپ پنجم، ص ۷۴۰.

[18] Mohammad Ebrahimi. (2021). A Review of Afghanistan's Neutrality Policy in World War I.
Retrieved
http://ijariie.com/AdminUploadPdf/A_Review_of_Afghanistan%E2%80%99s_Neutrality_Policy_in_World_War_I_ijariie13685.pdf.

[۱۹] مرادی، محمد، افغانستان چگونه در جنگ جهانی اول بی‌طرف ماند؟،ماندگار ورځپاڼه، د خپرېدو نېټه ۱۳۹۷ل کال د لړم ۲۲مه، لاسرسی https://mandegardaily.com/?p=75714[ مراجعه ۱۲/۷/۱۴۰۲].

[۲۰] محمد ولی، نظر مختصر بر سیاست بیطرفی افغانستان، هوډ سیاسي، ټولنیزه او کلتوري خپرونه، لاسرسی http://howd.org/likene/3152-mokhtasare-bar-fd-tarafi-afg.html[مراجعه **۱۴۰۲/۷/۱۴**].

[۲۱] و. اوسیپف، گزارنده به دری: عزیز آریانفر، پیرامون بی طرفی افغانستان، ۳۱ اگست ۲۰۱۰م. دسترسی از http://archive.mashal.org/content.php?t[مراجعه ۲۰۲۳/۱۰/۱۷].

[۲۲] محمد ولی، نظر مختصر بر سیاست بیطرفی افغانستان، هوډ سیاسي، ټولنیزه او کلتوري خپرونه، لاسرسی:
[مراجعه http://howd.org/likene/3152-mokhtasare-bar-fd-tarafi-afg.html ۱۴۰۲/۷/۱۴].

[23] Nasir A. Andisha. (March 2015). Neutrality in Afghanistan's Foreign Policy. Retrieved https://www.usip.org/publications/2015/03/neutrality-afghanistans-foreign-policy.

[24] Research Starters: Worldwide Deaths in World War II, published by: The National WW2 Museum,
accessed from https://www.nationalww2museum.org 2023/10/19.

څېړندوی احسان الله احسان

# په سیمه ییزو شخړو کې د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست څېړنه

## لنډیز

افغانستان په سیمه کې له ځانګړي جغرافیایي موقعیت څخه برخمن دی چې د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او منځنیو ختیځو سیمو ترمنځ پروت دی او له ډېرې مودې راهیسې په دغو سیمو کې د شته شخړو او جګړو له امله اغېزمن شوی دی. په داسې حال کې چې په سیمه ییزو شخړو کې د افغانستان بهرنۍ پالیسۍ د خپلواکۍ او بې پرېتوب په ساتلو، له بېلابېلو لوبغاړو سره په ډیپلوماسۍ کې ګډون، د سیمه ییزې همکارۍ لپاره هڅې او د امنیتي ننګونو پر حل متمرکزې دي. په دې علمي-څېړنیزه مقاله کې چې د څېړنې له تشریحي- تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی، هڅه شوې تر څو دې پوښتنې ته چې افغانستان د سویلي اسیا، مرکزي اسیا او منځني ختیځ په شخړو کې له کوم ډول بهرني سیاست څخه کار اخیستی، ځواب ومونده شي. د دې څېړنې موندنې ښیي چې افغانستان د خپل بهرني سیاست په سیمه ییز اړخ کې د سیمې له هېوادونو سره د دوستانه اړیکو رامنځ ته کولو او د سیمه ییزو قدرتونو ترمنځ د انډول په لټه کې پاتې شوی.

## سریزه

په نړۍ کې د هر هېواد جغرافیایي موقعیت د هغه هېواد په برخلیک او په نړیوال نظام کې یې پر دریځ د پام وړ اغېز لري. د هېوادونو بهرنۍ پالیسۍ تل د جیوپولیټیک وضعیت له امله اغېزمن کېږي. له تاریخي پلوه افغانستان هم د خپل جیوپولیټیک وضعیت له کبله تل د سترو قدرتونو تر منځ په شخړو کې پاتې شوی دی. پخوا به برتانویانو ویل چې د هند دروازې په افغانستان کې دي او په افغانستان کې هر ډول وضعیت د هند پر وضعیت حاکم ده، نو د دې لپاره چې هند په خپل واک کې وساتو، له هغه وړاندې باید افغانستان په واک کې ولرو او یا لږ تر لږه د افغانستان له لوري ډاډمن واوسو. د افغانستان همدغه جغرافیایي موقعیت له امله و چې د بریتانیې او شوروي اتحاد سترو قدرتونو تر برید لاندې راغی. دواړو لوریو هڅه وکړه چې دا هیواد په نړیوالو شخړو کې ښکېل کړي، خو افغانستان د

دوو نړیوالو جګړو پر مهال او له هغه وروسته د سیمې په شخړه ییزو مسایلو کې بېطرفه بهرنۍ پالیسي- تعقیب کړه او ویې کولای شول چې له خپل دغه ډول سیاست څخه ښه ګټه پورته کړي. د افغانستان په بهرني سیاست کې د بېطرفۍ د پیل او پای له مطالعې څخه څرګندېږي چې د افغانستان بېطرفۍ د یاد هېواد د جغرافیایي موقعیت له امله وه. یعنې کله چې د تزاري روسیې او برتانوي هند د امپراتوریو ترمنځ د حایل دولت (Buffer State) په توګه رامنځ ته شو، نو له هماغه وخت څخه وروسته د افغانستان بهرني سیاست ته د بېطرفۍ مفهوم لاره وکړه چې د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته یې له نویو پرمختګونو سره دوام وکړ. د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال، کله چې په ۱۹۱۴ز. کال کې لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه، افغانستان په دغه جګړه کې بېطرفي اعلان کړه چې په ۱۹۱۵ز. کال کې یاده پرېکړه د لویې جرګې له خوا هم تایید شوه. په ۱۹۱۵ز. کال کې د جرمني، اتریش، ترکیې او هندي انقلابیانو څخه د نیدرمایر او هنټینګ (Niedermyer and Von Hinting) په مشرۍ یو پلاوی افغانستان ته راغی، تر څو د امیر حبیب الله خان دریځ د برتانیې له لوري یادو هېوادونو ته واړوي. د یاد سفر موخه دا وه چې امیر حبیب الله خان د محور هېوادونو ملاتړ ته وهڅوي او په هند کې سرحدي قومونه د انګرېزانو پر ضد راوپاروي. په دې سره به د محور دولتونه له افغانستان سره مالي، پوځي او سیاسي مرستې وکړي، د افغانستان خپلواکي به په رسمیت وپېژني او د ډیورنډ کرښې اخوا سیمې به بېرته افغانستان ته وسپاري. په کور دننه شاهي مجلس په جګړه کې د افغانستان د بېطرفۍ ساتلو لپاره رایه ورکړه او انګرېزانو د افغانستان د بېطرفۍ ساتلو په بدل کې له امیر حبیب الله خان څخه رسمي منته وکړه او د مالي مرستو او خپلواکۍ پېژندلو ژمنه یې هم ورکړه.

کله چې په ۱۹۳۹ز. کال کې دویمه نړیواله جګړه پیل شوه، افغانستان ته یو ځل بیا د جرمني پام واوښت. جرمني غوښتل چې د افغانستان د سلطنت له نفوذ څخه کار واخلي او په هند کې د انګرېزانو پر ضد د سرحد قبایل راوپاروي. افغان دولت په جګړه کې د برتانیه او شوروي اتحاد دواړو خطر منلو ته چمتو نه و او نه یې شو کولای چې د خپلو ګاونډیانو په ضد د جرمني په خوا کې ودرېږي. له همدې

امله یې په همدې کال کې مخکې له جګړې د لویې جرګې په تایید سره خپله بېطرفي اعلان کړه. د ۱۹۴۱ز.کال د اکتوبر پر ۲۱ مه روسانو او انګرېزانو له افغان حکومت څخه په لیکلي ډول غوښتنه وکړه چې له ډیپلوماټیکو غړو پرته د جرمنۍ او ایټالیې ټول اتباع له هېواده وشړي. په دې اړه محمد ظاهر شاه لویه جرګه راوبلله او یادې جرګې د افغانستان د بېطرفۍ پالیسۍ یو ځل بیا تایید کړه او حکومت د جرمني او ایټالیا اتباع د افغانانو د مېلمه پالنې رسم او د بېطرفۍ اصولو په نظر کې نیولو سره بېرته خپلو هېوادونو ته واستول.

کله چې دویمه نړیواله جګړه پای ته ورسېده، نړیوال نظم دوه قطبي شو. محمد ظاهر شاه چې پاچاهۍ یې څلوېښت کاله دوام وکړ، وکولای شول د سړې جګړې پر مهال د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د افغانستان بېطرفي وساتي او له دواړو لوریو څخه د افغانستان په آبادۍ او زیربنایي برخو کې همکارۍ ترلاسه کړي. د سړې جګړې پر مهال ناپېیلو هېوادونو نه یوازې دا چې د سترو قدرتونو ترمنځ له سیالۍ څخه یې ځانونه لرې وساتل، بلکې په نړیواله کچه یې د یو بېطرفه او سوله غوښتونکي غورځنګ د رامنځ ته کولو په موخه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړ. د ناپېیلو هېوادونو د مشرانو د هلو ځلو په پایله کې پر ۱۹۶۱ز.کال د ناپېلتوب غورځنګ د بیلګراد د کنفرانس په پایله کې، چې موخه یې د درېیمې نړۍ د هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د اړیکو او همکاریو پراختیا او په نړیواله کچه د سولې او ثبات ټینګښت و، رامنځ ته شو. د بېلګراد په کنفرانس کې د ناپېیلو هېوادونو استازو د هېوادونو ملي خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ته په درناوي، له نژادي توپیر او اپارتاید سره په مبارزې، په څو اړخیزو دفاعي تړونونو کې په نه ګډون او د سترو ځواکونو له سیالۍ څخه د ناپېیلو هېوادونو په لرې ساتلو، د امپریالیزم، استعمار، نوي استعمار، نژاد پرستي او د بهرني تېري پر ضد په مبارزې او په بې وسلې کولو، د هېوادونو په کورنیو چارو کې په نه لاسوهنې او په سوله ییزه توګه د شخړو په حل، په نړیوالو اړیکو کې د زور او قوې په نه کارولو، د ملګرو ملتونو د رول په پراختیا، د نړیوال اقتصادي سیستم په بیارغونې او د نړیوالې همکارۍ په پراختیا ټینګار وکړ.[1] کله چې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره شاهي رژیم په جمهوریت بدل شو، د

افغانستان په بهرني سیاست کې یو څه ناانډولي رامنځته شوه. ولسمشر محمد داود خان د پخوا په شان د بې پرېتوب سیاست ته دوام ورکاوه، خو له شوروي اتحاد سره یې د اړیکو نیولو او هغه خواته د ډېرې لېوالتیا له امله، چې هغه هم د افغانستان له غوښتنو سره سم د امریکا د لېوالتیا نه ښودلو له امله رامنځته شوې وه، امریکا له دغه پرمختګ او بدلون څخه بې تفاوته پاتې نه شوه او پاکستان یې و هڅاوه، تر څو د ځینو رهبرانو په لاس نوی رژیم بې ثباته کړي. د ۱۹۷۸ز.کال په اپرېل کې د محمد داود خان د جمهوریت پر ضد د خلق ډموکراټیک ګوند کودتا او د ۱۹۷۹ز.کال په ډېسمبر کې د شوروي اتحاد له لوري پر افغانستان پوځي تېری، د افغانستان د ناپېیلتوب پالیسي ته سخت زیان واړوه، چې له امله یې افغانستان د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد ترمنځ د سړې جګړې پر میدان بدل شو.

کله چې په ۲۰۰۱ز.کال کې د امریکا په مشرۍ بهرنیو ځواکونو پر افغانستان پوځي یرغل وکړ، د افغانستان د بهرنۍ تګلارې لویه برخه په نړیواله کچه امنیتي هڅې وګرځېدې.یعنې د ۲۱ مې پېړۍ له پیل څخه وروسته افغانستان د نړیوالې ټولنې یو مهم غړی وګرځېد او په سیمه ییزو نوښتونو لکه د اسیا زړه – استانبول پروسې، چې موخه یې په افغانستان او ګاونډیو هېوادونو کې د سولې، ثبات او پرمختګ هڅونه وه، ګډون وکړ. د یادولو وړ ده چې د افغانستان بهرنۍ پالیسي- د کورنیو شخړو، ضعیفې حکومتدارۍ او د بهرنیو لوبغاړو د جیوپولیټیکي ګټو له امله له ګڼو ننګونو سره مخ وه. همدغو فکټورونو ډېرې وختونه د خپلواک بهرني سیاست اجنډا تعقیبولو لپاره د افغانستان وړتیا اغېزمنه کړې. په داسې حال کې چې افغانستان د پرمختګ، ملي ګټو د ترلاسه کولو، د امنیت ټینګښت او اقتصادي پراختیا د پیاوړتیا لپاره له سیمه ییزو او نړیوالو لوبغاړو سره ملګرتیا او همکارۍ ته دوام ورکړی. د افغانستان د بهرنۍ تګلارې یو مهم اړخ له سیمه ییزو هېوادونو سره اړیکې دي. افغانستان له ایران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان سره ګډه پوله لري. د دې اړیکو اداره کول د افغانستان د ثبات، امنیت او اقتصادي پرمختګ لپاره خورا مهم دي. په تاریخي لحاظ، افغانستان له خپلو ګاونډیانو سره د متوازنو اړیکو د ساتلو او د سوداګرۍ، امنیت او د تروریزم ضد هڅو په برخو کې د

هغوی د همکارۍ په لټه کې پاتې شوی دی. سربیره پردې، افغانستان د خپلو ګټو په ترلاسه کولو او په مهمو مسایلو کې د سیمه ییز ملاتړ په لټه کې سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو سره ښکیل پاتې شوی دی. دغه هېواد د ملګرو ملتونو (UN)، د جنوبي اسیا د سیمه ییزو همکاریو ټولنه (SAARC) او د اقتصادي همکاریو سازمان (ECO) په څیر سازمانونو غړیتوب لري. په دې فورمونو کې فعاله ګډون افغانستان ته اجازه ورکوي چې سیمه ییزې مسلې لکه ترهګري، اقتصادي همکارۍ او له پولې هاخوا ننګونې حل کړي. دا چې افغانستان په کومو سیمه ییزو شخړو کې له بېطرفه بهرني سیاست څخه کار اخیستی، د دې څېړنې اصلي پوښتنه جوړوي. د دې څېړنې فرضیه دا ده چې افغانستان د ناګورنو قره باغ شخړې، د فلسطین شخړې او د یمن کورنۍ جګړې په اړه د نړیوالو حقوقو د اصولو په رڼا کې خپل روښانه دریځونه اعلان کړي؛ یعنې له نړیوالو حقوقي اصولو سره سم یې د ناګورنو قره باغ په شخړه کې د اذربایجان د دریځ ملاتړ کړی، د فلسطین د شخړې په اړه یې د نړیوالو حقوقو او اسلامي عقیدې له مقتضیاتو سره سم د فلسطین د خلکو د دریځ ملاتړ کړی او د یمن په کورنۍ جګړه کې یې له حرمین شریفین څخه د دفاع په موخه د سعودي عربستان د دریځ ملاتړ کړی دی، خو د سیمې په نورو شخړو کې چې وروسته به یې په تفصیل سره تر څېړنې لاندې ونیسو، خپله عنعنوي مثبته بېطرفي ساتلې او د هیڅ لوري ملاتړ او مرسته یې نه ده کړې.

## د څېړنې اهمیت

دا چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د سیمې ځینو شخړو په یو ډول نه یو ډول افغانستان هم اغېزمن کړی او له ډېرې مودې راهیسې یې د سیمه ییزو قدرتونو د سیالۍ او نیابتي جګړو ډګر ګرځولی؛ نو په سیمه ییزو شخړو کې د افغانستان د بهرني سیاست د ډول او څرنګوالي روښانولو ته اړتیا لیدل کېږي چې په دې اړه علمي څېړنه له شک پرته ځانګړی اهمیت لري.

## د څېړنې موخه

د یادې څېړنې موخه په سیمه ییزو شخړو کې د افغانستان د بهرني سیاست د ډول او څرنګوالي روښانول دي.

**د څېړنې مېتود او ډول**

په دغې علمي څېړنه کې د څېړنې له تشريحي- تحليلي مېتود او د څېړنې له کتابتوني ډول څخه کار اخېستل شوی دی.

د دې لپاره چې په سيمه ييزو شخړو کې د افغانستان بېطرفه بهرنی سیاست مو ښه څېړلي وي؛ نو د سوېلي آسيا، مرکزي آسيا او همدارنګه د منځني ختيځ په شخړو کې د افغانستان بېطرفه بهرنی سیاست په جلا ډول تر څېړنې لاندې نيسو.

**۱- د سوېلي اسيا په شخړو کې د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست ارزونه**

په سوېلي اسيا کې ګڼې شخړې شته چې ځينې مهمې يې په لاندې ډول دي:

**آ. د هند او پاکستان ترمنځ د کشمير شخړه**: د هند او پاکستان ترمنځ د کشمير د سيمې پر سر شخړه په ۱۹۴۷ ز.کال کې د هند نيمې وچې له وېش سره یوځای رامنځته شوه. په دې معنا کله چې په ۱۹۴۷ز.کال کې د هند له نيمې وچې څخه هند او پاکستان رامنځته شول؛ نو په دې وخت کې د دواړو نويو خپلواکه هېوادونو ترمنځ د کشمير سيمې د مالکيت پر سر شخړه رامنځته شوه. د کشمير شخړې د پيدا کېدو تخم د هند نيمې وچې د وېش پر مهال وشيندل شو او عملاً هغه مهال چې قبايلي جنګياليو پر کشمير يرغل وکړ او مهاراجه هري سينګهـ کشمير په هند پورې تړلی اعلان کړ؛ رامنځته شوه. د هند او پاکستان ترمنځ د کشمير د شخړې د ريښو په هکله هندي ليکوالان د ۱۹۴۷ز.کال د اکتوبر په ۲۲ مه پر کشمير د قبايلي قومونو يرغل په ګوته کوي. پاکستان بيا د کشمير شخړې ريښې د هند نيمې وچې د وېش د اصل خلاف هند پورې د کشمير د تړلو څخې او په کشمير کې د ټولپوښتنې نه تر سره کېدل په ګوته کوي؛ خو د کشمير د مسئلې اصلي ستونزه هغه مهال رامنځته شوه؛ کله چې هند نيمې وچې د وېش پر مهال د ټولو هندو مېشتو سيمو پر سر د مالکيت مدعي شو؛ ځکه چې د هند نيمې وچې وېش د مذهبي تفاوت د اصل پر بنسټ شوی و؛ خو په ورته مهال د کشمير د مسلمان مېشتو سيمو پر سر د دې سيمې د خلکو د برخليک ټاکلو پر حق منکر شو. د هند نيمې وچې د وېش پر مهال د کشمير په هکله اصلي خبره دا وه چې هند هېڅکله هم پر کشمير د مالکيت غوښتنه نه شوای کولای؛ ځکه چې کشمير له يوه مسلمان مېشتي اکثريت څخه

برخمن و او په دې وخت کې هند د جوناګړ، حيدرآباد او جودپور ايالتونو په نيولو چې له يوه هندو مېشتي اکثريت څخه برخمن و؛ ټينګار درلود.

افغانستان د کشمير د سيمې ګاونډی هېواد دی، چې له ډېرو کلونو راهيسې د يادې سيمې پر سر د هند او پاکستان ترمنځ له شخړې څخه تر ننه پورې په سياسي، امنيتي او اقتصادي برخو کې اغېزمن شوی دی. افغانستان له يوې خوا يو مسلمان هېواد دی او د کشمير سيمې له مسلمانانو سره د اسلامي اصولو پر بنسټ همغږي او غمرازي لري او له بلې خوا د کشمير سيمه د افغانانو د واکمنۍ يوه برخه پاتې شوې ده. يعنې د کشمير په سيمه کې د هند د مغولانو له واکمنۍ څخه وروسته افغانانو په ياده سيمه ٦٧ کاله واکمني کړې او د دې سيمې ګوټ ګوټ ته يې اسلام رسولی دی. د کشمير پر سيمه د افغانانو د همدې واکمنۍ پر مهال ډېری افغانان دې سيمې ته کډوال شوي او اوس هم په دې سيمه کې شتون لري. د کشمير سيمې افغانان چې د کشميري پټانانو په نامه هم يادېږي، اوس هم په پښتو ژبه خبرې کوي او په خپلو کې سره جرګې کوي. همدارنګه دوی هم په کشمير کې له ډېرې مودې راهيسې د هند او پاکستان ترمنځ د کشمير د شخړې د قربانيانو يوه برخه جوړوي.[۲] پاکستاني چارواکي ډېری وخت په افغانستان کې د اوږدې جګړې حل او د تلپاتې سولې ټينګښت د کشمير له مسئلې سره تړلی بولي. په امريکا کې د پاکستان سفير او همداراز د کشمير په اړه د پاکستان ځانګړي استازي مشاهد حسين په دې اړه داسې څرګندونې کړې وې چې د افغانانو او افغان چارواکو غبرګون يې را پارولای و. د کشمير په چارو کې د پاکستان ځانګړي استازي مشاهد حسين ويلي و: "کابل ته د سولې لاره له کشمير څخه تېرېږي، په دې معنا چې کله هم د سولې خبرې کېږي، نه شي کېدای چې کشمير له کابل څخه بېل شي او دا نشي کېدای چې کابل کې دې سوله وي او کشمير دې په خپل حال پاتې وي، دا ډول سوله نشي راتلای."[۳] افغانانو او افغان چارواکو د پاکستاني چارواکو د دې څرګندونو پر وړاندې سخت غبرګون وښود. د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د غبرګون سربېره، د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي هم توند

غبرگون وښود او ویې ویل چې موږ د پاکستان له حکومته غواړو چې د افغانستان او کشمیر مسئلې چې دوه بېلې مسئلې دي، یو بل سره ونه تړي."[٤]

په دې کې هېڅ شک نشته، چې افغانستان د هند او پاکستان ترمنځ د کشمیر د سیمې پر سر د شخړې له پیداینښت څخه تر ننه پورې اغېزمن شوی دی. په داسې حال کې چې افغانستان نه یوازې دا چې د کشمیر په شخړه کې ښکېل نه دی، بلکې تر اوسه پورې یې په دغه شخړه کې د کوم لوري په ګټه رسمي دریځ هم نه دی اعلان کړی. له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره چې یو ځل بیا اسلامي امارت په افغانستان کې واک ته ورسېد، د پخوا په څېر یې د کشمیر مسئله دوه اړخیزه او د هند کورنۍ مسئله وبلله او له دواړو لوریو څخه یې غوښتنه وکړه چې له سوله ییزو لارو چارو څخه په ګټه اخیستنې سره یې حل کړي.[٥] هند او پاکستان د همدغې شخړې او ځینو نورو مسایلو له امله په افغانستان کې سره سیاسي سیالۍ ته وتلي او دواړه لوري د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې سربېره هڅه کوي، چې په افغانستان کې یو د بل نفوذ کمزوری کړي.[٦] همدارنګه دواړه هېوادونه هڅه کوي، ترڅو په افغانستان کې خپل ستراتیژیک عمق ته د پراختیا ورکولو سره د بل لوري د ستراتیژیک عمق مخه ونیسي. د هند او پاکستان ترمنځ یاده سیالۍ د دې لامل شوې، چې دافغانستان سیاسي ثبات کمزوری او ملي امنیت او اقتصاد یې له سختو ننګونو او ستونزو سره مخ شي.

## ب. د هند او چین ترمنځ سرحدي شخړه

دا د اکسای چین او ارونچل پرادیش سیمو پر سر د هند او چین ترمنځ ځمکنۍ شخړه ده. هند او چین په خپلو کې ۳۴۸۸ کیلومتره ګډه پوله لري چې د قراقرم پاس له شمال لویدیز څخه پیلیږي او په ارونچل پرادیش کې پای ته رسیږي. دغه پوله تر اوسه په نقشه کې نه ده په نښه شوې. په نړیواله کچه د منل شوي سرحد نشتوالی او همدارنګه د "حقیقي کنټرول کرښې" ( Line of Actual Control) په اړه د یوې موافقې نشتوالی د دې لامل شوی چې دغه مسئله د هند او چین ترمنځ په "ځمکنۍ شخړې" بدله شي.[٧] د چین تر کنټرول لاندې د اکسای چین په نامه سیمه، چې د چین د سینکیانګ ایالت په سوېل لوېدیځه برخه کې

موقعیت لري، د هند او چین هېوادونو تر منځ یوه سرحدي شخړه ییزه سیمه گڼل کېږي. یاده سیمه ۳۷۲۴۴ کیلو متر مربع مساحت لري، چې د هند نیمې وچې له وېش څخه پخوا د مهاراجه مېشتي کشمیر ایالت یوه برخه وه، خو اوس مهال د چین د خلق جمهوریت له خوا د چین د تبت د یوې برخې په توگه اداره کېږي. په داسې حال کې، چې هند دغه سیمه تر خپل کنټرول لاندې د لداخ سیمې یوه برخه بولي. د یادې سیمې پر سر د هند او چین ترمنځ په ۱۹٦۲ ز.کال کې د اکسای چین او ارونچال پرادیش په نامه یوه لویه جگړه رامنځ ته شوه چې په کې دواړو لوریو ته په کې درانه تلفات واوښتل. دغه شخړه د دواړو لوریو ترمنځ د پوځ په کچه د خبرو اترو او نورو ډیپلوماټیکو هڅو سره سره، لا هم په خپل حال پاتې ده. د همدې شخړې له امله د هند او چین اړیکې تر ننه پورې ترینگلې پاتې دي. افغانستان په خپل بهرني سیاست کې د عنعنوي بېطرفۍ په نظر کې نیولو سره په یاده شخړه کې د هېڅ لوري پلوي نه ده کړې او په دې برخه کې یې خپله مثبته بېطرفي ساتلې. د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست چې د بېطرفۍ او متقابل درناوي اصولو پر بنسټ ولاړ دی، په دغه شخړه کې خپله بېطرفي ساتلې او هڅه کوي چې د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو سره خپلې سوداگریزې او سیاسي اړیکې پراخې کړي. افغانستان د همدغه بېطرفه بهرني سیاست له امله په دې توانېدلی چې له دواړو لوریو سره خپلې تاریخي اړیکې وساتي او له دواړو لوریو څخه همکارۍ ترلاسه کړي.

## ج. د سریلانکا کورنۍ جگړه

د غه جگړه چې د سریلانکا شخړې په نامه هم یادېږي، د تامیل پړانگانو ( The Liberation Tigers of Tamil Eelam) د خپلواکۍ یوه اوږده جگړه وه. د سریلانکا حکومت لخوا د تامیلانو په وړاندې دوامداره تبعیض او تاوتریخوالی د دې لامل شو چې تامیلیان ځان ته د یو خپلواک تامیلي دولت رامنځ ته کېدو لپاره جگړه وکړي. د سریلانکا۷۴.۹ سلنه سنهالیان او۱۱.۲ سلنه یې تامیلیان دي.[۸] سنهالیان بودایان او تامیلیان هندوان دي، چې په خپلو کې د پام وړ ژبنې او مذهبي توپیرونه لري. دغه جگړه چې په ۱۹۸۳ ز.کال کې پیل شوې وه، تر ۲۰۰۹ز.کال پورې یې دوام

وکړ. په دغه جګړه کې چې ۲۵ کاله یې دوام وکړ، نږدې ۷۰۰۰۰ کسان ووژل شول.[۹] د ۲۰۰۹ز.کال په مې کې د سریلانکا پوځ تامیل پړانګانو ته ماتې ورکړه او کورنۍ جګړه یې پای ته ورسوله.

افغانستان له سریلانکا سره ګډې تاریخي او کلتوري اړیکې لري چې ریښې یې د بودیزم، اسلام او هندویزم په عقیدو پورې تړلې دي. په بامیانو کې د بودا سترې مجسمې د دواړو هېوادونو د ګډ کلتوري میراث ښکارندویې کوي. د افغانستان او سریلانکا ترمنځ دیپلوماتیکې اړیکې د ۱۹۵۸ ز. کال د نومبر په لومړۍ نېټه جوړې شوې دي. افغانستان د خپل عنعنوي بېطرفه بهرنۍ پالیسۍ ته په کتو سره د سریلانکا شخړه یوه کورنۍ مسئله بللې او په دې اړه یې خپله مثبته بېطرفي ساتلې ده. ځکه چې افغانستان د ناپېیلي غورځنګ فعال غړی پاتې شوی او د دغه غورځنګ یو له اصولو څخه دا دي چې غړي هېوادونه به یې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي. د افغانستان همدغه بېطرفه بهرنۍ سیاست او د سریلانکا په کورنۍ جګړه کې نه مداخلې سیاست له امله و چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې پراخې شوې. د دواړو هېوادونو د لوړ پوړو چارواکو له کتنو او ناستو وروسته په ۲۰۱۳ ز.کال کې په کولمبو کې د افغانستان سفارت او ورپسې په ۲۰۱۴ ز.کال کې په کابل کې د سریلانکا سیاسي دفتر د اړیکو او همکاریو د ټینګښت، پیاوړتیا او پراختیا په موخه رامنځ ته شو.

## ۲- د مرکزي آسیا او جنوبي قفقاز په شخړو کې د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست ارزونه

د مرکزي اسیا هېوادونه د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د خپلو پولو په ټاکلو کې له پراخو ستونزو سره مخامخ دي. د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته روسیې، چین، ازبکستان، قرغزستان، تاجکستان، قزاقستان او ترکمنستان ټولو د پخواني شوروي اتحاد د تاریخي ارضي دعوو د پرانېستلو پر ځای د پخواني شوروي اداري پولې د خپلو دولتي سرحدونو په توګه ومنلې، خو دا سرحدونه مشخص شوي نه وو او ډېری یې یوازې عمومي نقشې وې. کله چې د مرکزي اسیا هېوادونو په وروستیو کلونو کې وغوښتل تر څو خپلې پولې وټاکي او په همدې موخه یې دوه اړخیزې

خبرې اترې پيل کړې، نو د پولو ټاکلو په اړه دغو خبرو اترو جنجالونه راوپارول چې وروسته د دې سيمې د هېوادونو ترمنځ د شخړو د رامنځ ته کېدو لامل شول. په مرکزي اسيا کې همدغو سرحدي مسئلو د دې سيمې د هېوادونو ترمنځ تاوتريخوالی زيات کړی او د دې سيمې هېوادونو ترمنځ د اقتصاد، امنيت او توکميزو اړيکو په برخه کې د سيمه ييزې همکارۍ د رامنځ ته کېدو لپاره بنسټيز خنډ گرځېدلی دی.

د مرکزي اسيا او جنوبي ققفاز په سيمو کې گڼې شخړې شته چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

## أ. د قرغيزستان او تاجکستان ترمنځ ځمکنۍ شخړه

کله چې په ۱۹۲۲ز.کال کې شوروي اتحاد رامنځ ته شو، نو دغه اتحاد په مرکزي اسيا کې د هغو سيمو او خلکو د وېشلو پاليسي- پلي کړه چې پخوا يې په گډه جغرافيه کې ژوند کاوه. يعنې شوروي اتحاد د ۱۹۲۴-۱۹۳۶ز.کلونو په اوږدو کې پرته له دې چې په سيمه کې اقتصادي، جغرافيوي او توکميز واقعيتونه په پام کې ونيسي، د مرکزي اسيا هېوادونو ترمنځ يې پولې وکښلې چې له امله يې د شوروي اتحاد په له منځه تلو سره د دغو هېوادونو ترمنځ پېچلي او له ستونزو ډک سرحدونه په ميراث پاتې شول. ازبکستان، تاجکستان او قرغزستان چې په سيمه کې تر ټولو پېچلې پولې لري، له ډېرې مودې راهيسې نه دي توانېدلي چې خپلې ځمکنۍ شخړې هوارې کړي. د فرغانې دره، چېرته چې د يادو درېواړو هيوادونو پولې سره يوځای کېږي، د سرحدي شخړو اصلي لامل گڼل کېږي. د فرغانې دره د مرکزي اسيا تر ټولو زياته نفوس لرونکې سيمه ده چې د ازبکستان، تاجکستان او قرغزستان د پولو ترمنځ موقعيت لري. د شوروي اتحاد په دوره کې پرته له دې چې د فرغانې د اوسېدونکو توکميز جوړښت او کلتور په پام کې ونيول شي، د يادو هېوادونو ترمنځ ووېشل شوه او له همدغه وخت څخه وروسته د فرغانې دره د يادو هېوادونو ترمنځ د شخړې د مرکز په توگه رامنځ ته شوه. د فرغانې درې پر سر يوازې په تېرو ۱۱ کلونو کې د تاجکستان او قرغزستان تر منځ تر ۱۵۰ ډېرې شخړې رامنځ

ته شوې دي. له کلونو راهیسې یاد لوري پر دې نه دي توانېدلي چې دغه شخړه په خپلو کې حل کړي.[۱۰]

د تاجکستان او قرغزستان تر منځ د پولې ډېره برخه نه ده په نښه شوې او ډېرې وخت د دواړو لوریو ترمنځ د اوبو او ځمکې پر سر سختې شخړې رامنځ ته کېږي. همدغه شان په مرکزي آسیا کې د اوبو پر سر شخړې هم اوږده مخینه لري او ډېر کله د دې سیمې هېوادونو د سرحدي ساتونکو ترمنځ وسله والې نښتې رامنځته کېږي. په داسې حال کې چې د مرکزي اسیا هېوادونه چې په ۱۹۹۱ ز.کال کې یې خپلواکي ترلاسه کړه، د ۳۲ کلونو په تېرېدو سره لا هم د خپلو سرحدونو او د اوبو د سرچینو پر سر د شخړو د حل په تمه دي. په هرصورت، افغانستان د خپل عنعنوي بېطرفه بهرني سیاست په لرلو سره او وروسته د ناپیلي غورځنګ د فعال غړي په توګه په یاده شخړه کې د هېڅ لوري ملاتړ نه دی کړی او په دې اړه یې خپله بېطرفي ساتلې ده، همداراز اسلامي امارت د یادو دواړو هېوادونو ترمنځ شخړو او جګړو په اړه خپله بېطرفي اعلان کړې او له دواړو لوریو څخه یې غوښتي چې خپلې شخړې د خبرو اترو له لارې حل او فصل کړي.[۱۱]

## ب. د جنوبي قفقاز په سیمه کې د ناګورنو قره باغ شخړه

دغه شخړه د ارمنستان او اذربایجان جمهوریتونو ترمنځ د ناګورنو قره باغ سیمې د ملکیت پر سر رامنځ ته شوې وه. قره باغ د اذربایجان جمهوریت په لویدیځ کې د ارمنستان پولو ته نږدې د ارمنستان تر کنټرول لاندې یوه خپلواکه سیمه وه چې په نړیواله کچه د اذربایجان د یوې برخې په توګه پېژندل کېده. د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته په قره باغ کې مېشتو ارمنیانو د ارمنستان په ملاتړ له باکو څخه خپلواکي اعلان کړه چې وروسته د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۴ز.کلونو ترمنځ د دواړو لوریو ترمنځ جګړې زور واخیست چې د ارمنستان پوځ او اذربایجان جمهوریت ترمنځ د پوځي شخړې د رامنځ ته کېدو لامل شوه. یوازې د قره باغ په لومړۍ شخړه کې تر ۳۰ زرو پورې کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او تر یو میلیون کسانو پورې خلک اړ شول چې خپل کورونه پرېږدي. له همدې لومړۍ جګړې څخه وروسته ارمنیان وتوانېدل چې پر دې سیمې کنټرول ترلاسه کړي.[۱۲]

د دې سیمې ارمنیانو په ۱۹۹۲ز.کال کې له خپلواکۍ وروسته د ناګورنو-قره باغ جمهوریت (Nagorno-Karabakh Republic) په نامه خپل سری حکومت اعلان کړ، چې هېڅ هېواد هم په رسمیت نه و پېژندلی. له خپلواکۍ وروسته یاد جمهوریت څو خپلواکې ټاکنې ترسره کړې او همدارنګه په ۲۰۰٦ ز.کال کې یې ټولپوښتنه ترسره او نوی اساسي قانون یې تصویب کړ چې اذربایجان دغه کړنې د نړیوالو قوانینو له مخې غیر قانوني وبللې. دغه جمهوریت د ۲۰۲۳ ز.کال په سپټمبر کې د آذربایجان د عملیاتو په پایله کې منحل شو او یاده سیمه د آذربایجان تر کنټرول لاندې راغله.[۱۳]

افغانستان د دغې شخړې په اړه روښانه دریځ درلود او د نړیوالو قوانینو له مخې یې دا سیمه د اذربایجان جمهوریت برخه ګڼله. همداراز د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامي ځینې مجاهدین د قره باغ په لومړۍ جګړه کې د اذربایجان جمهوریت په ملاتړ د ارمنستان د پوځ پر وړاندې وجنګېدل. د محمد اشرف غني د واکمنۍ پر مهال هم افغانستان په یاده شخړه کې د اذربایجان ملاتړ اعلان کړی و. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي و چې ناګورنو قره باغ سیمه د نړۍ په کچه د اذربایجان د یوې برخې په توګه په رسمیت پېژندل شوې او افغانستان غواړي چې د دې اشغال پای ته ورسېږي او افغان حکومت په دې برخه کې د اذربایجان د خلکو او حکومت له هڅو ملاتړ کوي.[۱٤]

په افغانستان کې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره هم افغانستان له اذربایجان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړ. د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د اذربایجان له یوه دولتي تلویزیون سره په مرکه کې ویلي چې د افغانستان اسلامي امارت د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ د قره باغ په جګړه کې له اذربایجان څخه ملاتړ کوي.[۱۵]

دا چې ولې اسلامي امارت د اذربایجان ملاتړ وکړ؛ له څو اړخونو یې څېړو:

**لومړی. له دیني اړخه**: اذربایجان او افغانستان دواړه اسلامي هېوادونه دي.

**دویم. له تاریخي اړخه**: افغانستان د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ په لومړۍ جګړه کې د اذربایجان ملاتړې هېواد پاتې شوی دی.

**درېیم. له اقتصادي اړخه**: افغانستان اړتیا لري چې د پاکستان د بدیل په توګه داسې یوه لاره ولري چې نړیوالو مارکیټونو ته لاسرسی پیدا کړي، افغانستان د اذربایجان په مرسته کولای شي چې د ترکمنستان او ګرجستان له لارې ترکیې او له هغه ځایه اروپا سره ونښلي.

**څلورم. له سیاسي اړخه**: اذربایجان د ترکیې نږدې ملګری هېواد ګڼل کېږي او ترکیه له اسلامي امارت سره د دیني او تاریخي مشترکاتو پر اساس ښې اړیکې لري؛ نو دغه مثلث ښکېل لوري دې ته هڅوي چې په یو شمېر مسایلو کې د یو او بل له دریځونو څخه ملاتړ وکړي.

## ۳- د منځني ختیځ په شخړو کې د افغانستان د بېطرفه بهرني سیاست ارزونه

په منځني ختیځ کې ډېرې شخړې شتون لري چې ځینې مهمې یې په لاندې ډول سره دي:

### أ. د اسراییلو-فلسطین شخړه

د اسراییلو- فلسطین شخړه په نړۍ کې یو له پخوانیو او همېشنیو شخړو څخه ګڼل کېږي. دغه شخړه د اسراییل او فلسطین ترمنځ د دې سیمې د مالکیت پر سر روانه ده او تر څو چې دا شخړه حل نه شي، په منځني ختیځ کې به هېڅکله سوله او ثبات ټینګ نه شي؛ ځکه د منځني ختیځ هره مسئله په یو ډول نه یو ډول د فلسطین له مسئلې سره تړاو لري. د اسراییلو او فلسطین ترمنځ د جګړو تاریخ د نولسمې پېړۍ وروستیو کلونو ته رسېږي چې صهیونیستانو د عثماني امپراطورۍ تر کنټرول لاندې فلسطین کې د یهودانو لپاره د جلا هېواد جوړولو هڅه پیل کړه. په ۱۹۱۷ز.کال کې د برتانوي حکومت لخوا د بالفور اعلامیه خپره شوه چې په فلسطین کې یې د یهودانو د هېواد جوړولو مفکوره تایید کړه، کوم چې وروسته دې سیمې ته د یهودي مهاجرینو د راتګ لامل شوه. کله چې د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې، ډېری یهودیان اروپا کې د نازیانو له خوا ووژل شول، نو یو شمېر نور

یهودیان د ځینو یهودي سازمانونو لخوا په غیرقانوني توګه فلسطین ته کډوال شول. هلته د فلسطینیانو او یهودیانو ترمنځ تاوتریخوالی رامنځ ته شو او انګریزانو دا ستونزه د ملګرو ملتونو سازمان ته وسپارله. په ۱۹۴۷ز.کال کې ملګرو ملتونو د فلسطین پر وېشلو او د فلسطین او یهودي دولت د جوړولو لپاره رایه ورکړه. دا پرېکړه د عربي هېوادونو له خوا و نه منل شوه.[۱۶]

په هر صورت، د ۱۹۴۸ز.کال د مې پر ۱۵ مه د برتانوي ځواکونو له وتلو سره سم، اسراییلو خپلواکي اعلان کړه او له همدې نېټې وروسته د عرب – اسرائیلو جګړه پیل شوه چې پنځو عربي هېوادونو عراق، سوریه، لبنان، اردن او مصر پر اسرائیلو یرغل وکړ. په ۱۹۴۹ز.کال کې اوربند اعلان شو او د ترون د یوې برخې په توګه، غزه د مصر برخه شوه. په دې جګړه کې د درنې مرګژوبلې سربېره څه باندې ۷۰۰۰۰ فلسطینیان د کورونو پرېښودو ته اړ شول او ګاونډیو عربي هېوادونو ته کډوال شول. په اسراییلو کې دا جګړه د خپلواکۍ د جګړې په نوم یادېږي او په عربي نړۍ کې بیا دې جګړې ته چې په کې ډېر عربان کډوالۍ ته اړ شول د نقبا جګړې (لوی ناورین) په نوم پېژندل کېږي.[۱۷]

د فلسطین شخړه د اسلامي نړۍ له څرګند دریځ او غبرګون سره مخامخ شوې ده. افغانستان هم د اسلامي ورورولۍ او عقیدې پر بنسټ د فلسطین له غوښتنې او د فلسطیني دولت د جوړېدو ملاتړ کړی دی. افغان حکومتونو په بېلابېلو وختونو کې د فلسطین له خلکو سره خواخوږي څرګنده کړې او د اسراییلو کړنې یې غیر قانوني او ظالمانه بللې دي. د افغانستان دریځ تر ډېره حده د اسلامي نړۍ له پراخو احساساتو او د اسلامي همکاریو د سازمان ( Organisation of Islamic Cooperation) له دریځ سره سمون لري. د افغانستان اسلامي امارت هم په دې وروستیو کې پر اسراییل د حماس له بریدونو وروسته یو ځل بیا له فلسطین څخه خپل ملاتړ اعلان کړی. د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد پر غزې د اسراییلو بریدونه په سختو ټکو وغندل او له نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د اسلامي همکاریو له سازمان څخه یې وغوښتل تر څو ژر تر ژره پر غزې د اسراییلو د بریدونو مخه ونیسي.[۱۸]

## ب. د ترکیې، کردانو شخړه

دغه شخړه د ترکیې او د بېلابېلو کردي بېلتونپالو ډلو تر منځ روانه ده، دغې شخړې له اوږدې مودې راهیسې منځنی ختیځ ځپلی او دا سیمه یې تر اغېز لاندې راوستې ده، کردان له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په نړۍ کې تر ټولو لوی بې دولته ملت ګڼل کېږي، کردان د عثماني امپراطورۍ له وخته هڅه کوي چې په منځني ختیځ کې د ځان لپاره خپلواک هېواد رامنځته کړي او یا لږ تر لږه وکولای شي چې د ترکیې جمهوریت په دننه کې د کردانو حقوق خوندي کړي.

کردان په څلورو هېوادونو یعنې ترکیې، ایران، عراق او سوریې باندې وېشل شوي دي. د کردانو تر ټولو لویه انقلابي ډله پي. کې. کې ( Partiya Karkeran Kurdistan) یا د کردانو د کارګرانو ډله (Kurdistan Workers' Party) په ۱۹۷۸ز.کال کې رامنځته شوه. د دې شخړې له پیل نه تر ننه پورې په لسګونه زره کسان وژل شوي او ترکیه د کردانو د نسل وژنې او د بشري حقوقو په سرغړونو تورنه شوې ده. له بلې خوا پی کې کې هم د ترکیې د متحدینو له خوا په ترهګریزو بریدونو، د ملکي خلکو پر وژلو، په ځانمرګي بریدونو او د مخدره توکو په قاچاق محکومه شوې ده.[۱۹]

افغانستان د خپلواکۍ په ساتلو او د سیمه ییزو قدرتونو ترمنځ په اړیکو کې د توازن ساتلو په موخه په یاده شخړه کې هم بېطرفه بهرنی سیاست تعقیب کړی او په دې برخه کې یې خپله بېطرفي ساتلې ده.

## ج. د سوریې کورنۍ جګړه

په سوریه کې روانه کورنۍ جګړه د ۲۰۱۱ز.کال په مارچ کې د عرب پسرلي د لاریونونو د یوې برخې په توګه پیل شوه. په دغو لاریونونو کې له واک څخه د بشارالاسد د ګوښه کېدو او د دموکراتیک نظام د رامنځ ته کېدو غوښتنه کېده. دغه لاریونونه وروسته په تاوتریخوالي واوښتل او په ۲۰۱۲ز.کال کې د بهرنیو لوبغاړو په ښکېلتیا سره دغه کورنۍ جګړه په یوې لویې شخړې واوښته. یعنې په دغه شخړه کې ایران، ترکیه، سوریه او امریکا متحده ایالات هم ښکېل شول چې د سوریې

حکومت او مخالفو ډلو په ګډون ټول لوري د نړیوالو سازمانونو له خوا د بشري حقونو په سختو سرغړونو او قتل عام تورن شوي دي. په دغه شخړه کې یوې خوا ته روسیه، ایران او عراق دي چې د بشار الاسد د حکومت په پوځي او سیاسي ملاتړ سره د سوریې د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو هڅه کوي. بلې خوا ته یې بیا د لوېدیځ هېوادونه دي، چې د سوریې د حکومت د مخالفانو په ملاتړ د بشارالاسد حکومت ړنګول غواړي. په سوریه کې دننه د دغو دوو جریانونو مقابلې دغه هېواد د قدرتونو په نیابتي جګړې بدل کړی دی. د ملګرو ملتونو سازمان د اټکل له مخې په دغه جګړه کې تر ۳۵۰۰۰۰ کسان وژل شوي او ٦.١ میلیون سوریایان په هیواد کې دننه بې ځایه شوي او ٥.٦ میلیونه نور یې له هیواده بهر کډوالۍ ته اړ شوي دي.[۲۰]

په دغه جګړه کې په ایران کې یو شمېر افغان کډوال د ایراني حکومت له لوري په غیر قانوني ډول یادې جګړې ته ولېږل شول چې د ایراني رسنیو د راپورونو له مخې یې شمېر له ۱۲ تر ۱۴ زرو ښودل شوی دی.[۲۱]

افغان دولت له ایراني لوري سره د افغان کډوالو په اړه له خبرو اترو وروسته په نړیوالو سازمانونو غږ وکړ چې ایران جګړې ته د افغان کډوالو له لېږلو څخه را وګرځوي. په دې جګړه کې افغانستان د هېڅ لوري ملاتړ ونه کړ او په دې شخړه کې یې خپله بېطرفي وساتله، په داسې حال کې چې افغانستان د امریکا متحده ایالاتو ستراتیژیک ملګری و او د امریکا متحده ایالاتو مرستو ته یې اړتیا هم درلوده.

## د. د یمن کورنۍ جګړه

دغه جګړه د یمن د حکومت او حوثي یاغیانو جګړه ده چې سعودي عربستان او ځینې نور سیمه ییز لوبغاړي هم په کې ښکېل شوي دي. د یمن خلکو د ۲۰۱۱ ز.کال په مارچ کې علي عبدالله صالح د حکومت پر ضد لاریونونه پیل کړل او له یو کال او ۲۴ ورځو وروسته علي عبدالله صالح په رسمي توګه د "خلیج نوښت" په نوم

غونډه کې د ۳۳ کلن حکومت وروسته د ۲۰۱۲ ز.کال د فبرورۍ په ۲۱ نېټه له واک څخه د استعفا سند لاسلیک کړ. د سعودي حکومت، متحده عربي اماراتو او امریکا متحده ایالاتو د "خلیج نوښت" تړون پر بنسټ یوازې علي عبدالله صالح له واک څخه لرې کړ او پر ځای یې د هغه مرستیال عبد ربه منصور هادي واکمن کړ. د لویو لاریونونو په پایله کې یوازې همدومره لږ بدلون رامنځ ته شو او نور وضعیت په یمن کې د پخوا په څېر دوام پیدا کړ او ډېری پخواني وزیران او چارواکي په خپلو دندو کې پاتې شول او دغه هېواد لا هم د امریکا او سعودي عربستان د سیاستونو تابع پاتې شو. په حکومت کې د فساد دوام، په واک کې د پخوانیو حکومتي چارواکو شتون او د توکو د بیې لوړوالی د دې لامل شو چې د ۲۰۱۳ ز.کال په اګسټ کې یو ځل بیا لاریونونه راوپارېږي. په دې لاریونونو کې د انصارالله ډلې مشر عبدالملک الحوثي په مشرۍ په لسګونه زره کسان د صنعا په شاوخوا کښې راټول شول او د انصار الله غورځنګ د لاریون مشري په غاړه واخیسته چې وروسته اعتراض کوونکو د یمن پلازمېنه او د راډیو او ټلویزیون ودانۍ ونیوله. په دې وخت کې یو ځل بیا د یمن انصارالله او د ملي کانګرس ګوند ترمنځ د ملي ډیالوګ سند مطرح شو چې طرحه یې د یمن د وېش مقدمه وګڼل شوه. وروسته حوثي یاغیان چې د ایران له ملاتړ څخه برخمن وو، وتوانېدل چې د یمن ځواکونه له صنعا څخه وشړي. د ۲۰۱۵ز.کال د مارچ پر ۲۶ مه سعودي عربستان چې د لوېدیځې اسیا او شمالي افریقا د نهو هېوادونو د ایتلاف مشري یې کوله، د یمن د ولسمشر- عبد ربه منصور هادي په غوښتنه یې په یمن کې مداخله وکړه او وروسته دغه جګړه پر یوه بشري ناورین واوښته.[۲۲]

د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې په دې جګړه کې د ۲۰۲۱ز.کال تر پایه ۳۷۷۰۰۰ کسان وژل شوي دي. په وژل شویو کې تر ۱۵۰۰۰۰ یې په مستقیم

ډول په وسله واله جګړه کې وژل شوي او پاتې نور یې د بشري ناورین یعنې د لوږې او شدیدو ناروغیو له امله مړه شوي دي.[۲۳]

په هرصورت، د افغانستان په سوله کې د سعودي عربستان رول او یاد هېواد سره د افغانستان تاریخي اړیکو ته په کتو سره په دغه جګړه کې افغانستان د سعودي عربستان ملاتړ اعلان کړ. په هغه خبرپاڼه کې چې د تېر نظام د جمهوري ریاست مطبوعاتي دفتر له خوا خپره شوې وه، راغلي وو چې افغانستان له سعودي عربستان سره تاریخي اړیکې لري او د هر ډول ستونزې په صورت کې د حرمین شریفین د سپېڅلې خاورې په دفاع کې د سعودي عربستان تر څنګ ولاړ دی.[۲٤]

**پایله**

له دویمې نړیوالې جګړې او په ځانګړي ډول له سړې جګړې وروسته نړۍ په بېلابېلو سیمو کې د بېلابېلو شخړو د رامنځ ته کېدو شاهده وه. له دغو شخړو څخه ځینې یې په اسیا کې وې چې افغانستان یې هم اغېزمن کړی دی. په داسې حال کې چې افغانستان په عنعنوي ډول په خپل بهرني سیاست کې هڅه کړې چې په سیمه ییزو او نړیوالو شخړو کې خپله بېطرفي وساتي، تر څو له یوې خوا خپله خپلواکي وساتي او له بلې خوا د سیمې او نړۍ له هېوادونو څخه مرسته او همکاري ترلاسه کړي. په سیمه ییزو او نړیوالو شخړو کې د افغانستان بېطرفي د دغه هېواد د بهرني سیاست یو مهم ټکی ګڼل کېږي. په سیمه ییزو شخړو کې د افغانستان بهرنۍ پالیسي د خپلواکۍ په ساتلو، له مختلفو لوبغاړو سره په ډیپلوماسۍ کې ښکېلتیا، د سیمه ییزې همکارۍ په لټه کې او د امنیتي ننګونو په حل کولو متمرکزه ده. په سیمه ییزو او نړیوالو ډېرى شخړو کې د افغانستان بېطرفه بهرنۍ سیاست د دې لامل شوی چې د سیمې او نړۍ ډېری هېوادونه افغانستان ته د یوه ډاډمن هېواد په سترګه وګوري. له بلې خوا د همدې بېطرفه بهرنۍ پالیسۍ له امله افغانستان توانېدلی چې د سیمې د سترو قدرتونو او هېوادونو پام ځانته راواړوي او

په سیمه ییزو او نړیوالو شخړو کې له ښکېلېدو پرته خپلې ملي ګټې خوندي کړي. افغانستان د سویلي آسیا په شخړو کې په دوامداره توګه خپلې عنعنوي بېطرفی ته دوام ورکړی او د مرکزي آسیا او جنوبي قفقاز په سیمه ییزو شخړو کې یې هم خپله بېطرفي ساتلې او یوازې د ناګورنو قره باغ په شخړه کې یې د نړیوالو حقوقو په رڼا کې د آذربایجان د دریځ ملاتړ کړی دی. همداراز د منځني ختیځ په شخړو کې یې هم خپل بېطرفه بهرنی سیاست تعقیب کړی او یوازې د فلسطین په مسئله کې چې افغانانو ته له عقیدوي او ایماني پلوه له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده، د اسلامي ورورولی او عقیدې پر بنسټ د اسلامي همکاریو سازمان د دریځ سره سم، چې د فلسطین د خپلواک دولت رامنځ ته کېدل دي، د غوښتنو ملاتړ کړی او د یمن په جګړه کې یې له سعودي عربستان سره خپلو تاریخي اړیکو ته په کتو او د حرمین شریفین څخه د دفاع په خاطر د سعودي عربستان ملاتړ اعلان کړی دی.

## وړاندیزونه

۱ - د دې لپاره چې افغانستان د یوه خپلواک او سوله ییز هېواد په توګه په سیمه او نړۍ کې ځان مطرح کړي او تل پاتې سولې او ثبات ته ورسیږي، نو اسلامي امارت ته په کار ده چې په سیمه ییزو او نړیوالو شخړو کې خپله بېطرفي وساتي.

۲ - اسلامي امارت ته په کار ده چې د نړیوالې ټولنې لخوا د اوسني نظام رسمیت پیژندلو ته ډېر اهمیت ورکړي او د خپلو لومړیتوبونو په سر کې ځای ورکړي. که افغانستان په رسمیت ونه پېژندل شي، د اوسني نظام پر وړاندې ستونزې به ورځ تر بلې زیاتې شي، نو اسلامي امارت دې ټول هغه مسایل ژر تر ژره حل کړي چې په نړیواله صحنه کې د اسلامي امارت دریځ کمزوری کوي.

۳ - افغانستان د خپل غیر متوازن بهرني سیاست له امله تل د نیابتي جګړې په ډګر بدل شوی، نو له اسلامي امارت څخه هیله کېږي چې د روسیې او امریکا، چین

او امریکا، ایران او امریکا، هند او پاکستان، هند او چین او داسې نورو قدرتونو په وړاندې په خپل بهرني سیاست کې توازن وساتي.

۴ - له امریکا، اروپایي هېوادونو او د امریکا له نورو متحدینو سره ښې اړیکې د افغانستان د اقتصادي وضعیت د ښه والي او د داخلي امنیت د ټینګښت لپاره مهمې دي، نو اسلامي امارت ته په کار دي چې له امریکا سره د مقابلې پر ځای باید له تفاهم څخه کار واخلي.

## مأخذونه

[1] Rahul Wankhede, The Non–Alignment Movement and Its Relevance Today, JK policy institute, 7 November 2022, accessed on 2023/10/25, online available at:
https://www.jkpi.org/the-non-alignment-movement-and-its-relevance-today/

[2] Pakhtoons in Kashmir, The Hindu, published date July 20, 1954, date of access 2017/11/23. Online available at:
http://www.thehindu.com/2004/07/20/stories/2004072001220900.htm

[3] Pakistan to US: Road to peace in Kabul lies in Kashmir, Indiatoday, world news, Oct 7, 2016, accessed on 25/10/2023. Online available at:
https://www.indiatoday.in/world/story/peace-in-kabul-only-via-kashmir-pakistan-tells-us-713100-1999-11-29

[٤] رسولی، یاسین، منازعه کشمیر چه تاثیری در مذاکرات صلح افغانستان دارد؟ بی بی سي فارسی، ۱۳۹۷/۵/۱۷، د لاسرسي نېټه ۱۴۰۲/۸/۳ . د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.bbc.com/persian/afghanistan-49267023

[5] Avik Roy, Internal, bilateral: Taliban 'clarify' position on Kashmir, hindustantimes, Aug 17, 2021. Online available at:

https://www.hindustantimes.com/india-news/taliban-kashmir-pakistan-terror-groups-insurgency-afghanistan-security-situation-101629204421516.html

[٦] سراج الحق ببرکزی ځدراڼ، د پاکستان بهرني سیاست ناکامه تګلاره، پښتونخوا انټرنیټي سایټ، د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند، د خپرېدو نېټه ۲۰۱۷/۸/۲۸، د لاسرسي نېټه ۲۰۱۷/۱۱/۹. د لا ډېرو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

http://www.pashtoonkhwa.com/?page=pashtoonkhwa&cnt=2736

[7] Amrita Jash, India–China Boundary Dispute: Progress on Disengagement, but De-escalation Remains Far-fetched, Istituto Affari Internazionali, 25/10/2022, accessed on 10/10/2023. Online available at:

https://www.iai.it/en/pubblicazioni/india-china-boundary-dispute

[8] The Sri Lankan Civil War and Its History, Revisited in 2020, Harvard international review, 31/08/2020, accessed on 15/10/2023. Online available at: https://hir.harvard.edu/sri-lankan-civil-war/

[9] Jayshree Bajoria, The Sri Lankan Conflict, council on foreign relations, May 18, 2009, accessed on 15/10/2023, Online available at: https://www.cfr.org/backgrounder/sri-lankan-conflict

[10] Merve Berker and Bahtiyar Abdulkerimov, Border disputes of Central Asian countries inherited from Soviets, AA news, 23.09.2022, accessed on 20/10/2023.
https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/border-disputes-of-central-asian-countries-inherited-from-soviets/2687809

[١١]. طالبان خواستار مذاکره قرقیزستان و تاجکستان برای حل مشکلات مرزی شد، خبرگزاری فارس، ۲۷/٦/۱۴۰۱، د لاسرسي نېټه ۱۴۰۲/۸/۲، د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

[12] Nagorno-Karabakh profile, bbc news 2 Oct 2023, accessed on 14/10/2023. Online available at:
https://www.bbc.com/news/world-europe-18270325

[13] What the Dissolution of Nagorno-Karabakh Means for the South Caucasus, Carnegie Endowment for International Peace, 29.09.2023, accessed on 14/10/2023. Online available at:
https://carnegieendowment.org/politika/90667

[۱۴] درگیری در قره‌باغ؛ افغانستان از آذربایجان حمایت کرد، بی بی سی فارسی، ۷ /۷/ ۱۳۹۹، د لاسرسي نېټه ۱۴۰۲/۸/۱. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.bbc.com/persian/afghanistan-54325808

[۱۵] طالبان: از تمامیت ارضی آذربایجان حمایت می‌کنیم، فارس نیوز، ۲٦/٦/۱۴۰۲، د لاسرسي نېټه ۱۴۰۲/۸/۲. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.farsnews.ir/af/news/14020626000313/%D8%B7%D8

[16] The Question of Palestine and the General Assembly, United Nations Information System on the Question of Palestine, accessed on 20/19/2023, online available at:
https://www.un.org/unispal/data-collection/general-assembly/#:~:text=The%20question%20of%20Palestine%20was,under%20a%20special%20international%20regime

[17] Israel Palestine Conflict History Explained, IAS Preparation, accessed on 20/19/2023, online available at:
https://byjus.com/free-ias-prep/israel-palestine-conflict/

[۱۸] امارت اسلامی: از مقاومت فلسطین حمایت می‌کنیم، سلام وطندار، ١٦ تلې ۱۴۰۲، د لاسرسي نېټه ۱۴۰۲/۸/۲. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://swn.af/islamic-emirate-we-support-the-palestinian-resistance/

[19] Dong Manyuan, The Kurdish Issue in the Middle East Context, China Institute of International Studies No.3, Beijing ,China, 2017-09-28, accessed on 20/19/2023, online available at:
https://www.ciis.org.cn/english/ESEARCHPROJECTS/Articles/202007/t20200715_3588.html

[۲۰] هفت سال جنگ در سوریه: چرا؟ بی بی سی فارسی، ۲۵ کب ۱۳۹٦، لاسرسی ۱۴۰۲/۸/۱. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.bbc.com/persian/world-43416641

[۲۱] نگرانی‌های وزارت خارجه از حضور شهروندان افغانستان در جنگ سوریه، طلوع نیوز، ۲۸ میزان ۱۳۹۵، لاسرسی ۱۴۰۲/۸/۲۳. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://tolonews.com/fa/afghanistan/

[22] Yemen conflict explained in 400 words, BBC news, 13 June 2018, accessed on 20/10/2023, online available at: https://www.bbc.com/news/world-middle-east-44466574

[23] The war on Yemen’s civilians, campaign against arms trade, 25/8/2023, accessed on 23/10/2023, online available at: https://caat.org.uk/homepage/stop-arming-saudi-arabia/the-war-on-yemens-civilians/

[۲۴] محمدموسی جعفری، سیاست خارجی دولت وحدت ملی؛ در جستجوی ثبات،۴ تله ۱۳۹۴، د لاسرسي نېټه ۱۴۰۲/۸/۲. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2015/09/150922_k02-nug-foreign-policy

څېړندوی عاشق الله اخلاص یار

# د سړې جګړې پرمهال د افغانستان د ناپېيلي بهرني سياست ارزونه

## د سردار محمد داودخان د واکمنۍ ځانګړې مطالعه


**لنډيز**

د سړې جګړې پر مهال د افغان واکمنو بهرني سياستونه د بې طرفۍ پر پاليسيو ولاړ وو، دوی غوښتل چې له يوې خوا افغانستان د يوه خپلواک او بې طرفه هېواد په توګه نړۍ ته ور وپېژني او له بله پلوه په جګړو کې له ښکېلتيا وساتل شي. په همدې اساس د افغانستان لپاره د بې طرفۍ موضوع له دويمې نړيوالې جګړې ور اخوا خبره ده، خو په دويمه نړيواله جګړه کې افغانستان په رسمي توګه بې طرفي اعلان کړې وه چې د اړخونو له لوري منل شوې هم وه.

د سړې جګړې پر مهال له پاچا محمد ظاهر څخه تر سردار محمد داودخان پورې د افغانستان بهرنۍ سياست پر بې طرفۍ ولاړ و او يادو مشرانو د دې هېواد لپاره د ناپېيلي بهرني سياست لار تعقيب کړې او د همدې اصل د ساتنې لپاره يې د نړۍ په هيڅ پوځي سازمان کې ګډون نه و کړی. کله چې محمد داودخان د افغانستان واګې په لاس کې واخيستې نوموړي هم په خپل بهرني سياست کې د افغانستان مثبته بې طرفي ځان ته غوره کړې وه چې بنسټ يې د ملي ګټو او د افغانستان د خلکو پر ازاد قضاوت ولاړ و او دا کار د دې سبب شو چې د نړۍ هېوادونه دې ته حاضر شول چې پرته له قيد او شرطه له افغانستان سره مرستې وکړي. داودخان و کولای شول د خپلواک بهرني سياست له مخې د نړۍ پر هېوادونو را و ګرځي او د افغانستان اړيکې د نړۍ له نورو هېوادونو سره ټينګې کړي او هم د دې هېواد لپاره په بېلا بېلو برخو کې مرستې راجلب کړي.


**سريزه**

کله چې دويمه نړيواله جګړه پای ته ورسيده، نړيوال سياست د خورا سترو بدلونونو شاهد و، ځکه د دې جګړې په پايله کې د اروپا ستر قدرتونه کمزوري شول او هغه اغېز يې له لاسه ورکړ له کوم چې په نړيوال سياست کې برخمن وو. په دې وخت کې نړۍ دوه قطبي او په مخالفو بلاکونو ووېشل شوه چې ختيځ او لويديځ

بلاکونه بلل کېدل، د لوېدیځ بلاک مشري د امریکا متحده ایالاتو او د ختیځ بلاک مشري شوروي اتحاد کوله او له دې سره سم د سړې جګړې تر نوم لاندې یوه جګړه پیل شوه. په دې لړ کې د امریکامتحده ایالتونو او شوروي اتحاد دواړو غوښتل چې له یوه او بل وړاندې شي، د همدې موخې لپاره هر یوه بلاک له اړوندو هېوادونو سره پوځي تړونونه لاسلیک کړل چې هېوادونو د خپلې لیوالتیا له مخې د امنیتي او نورو د لایلو په وړاندې کولو سره ځانونه په دې تړونونو کې دخیل کړل. ځینو هېوادونو نه غوښتل د دې دوو بلاکونو له لوري په رامنځته شویو تړونونو کې ځانونه دخیل کړي، دوی په دې سره غوښتل چې هېوادونه یې د نیابتي جګړو ښکار نه شي او له نړۍ سره د اړیکو پاللو لپاره خپلواکې، ناپېیلې او بې طرفه پالیسۍ ترتیب کړي.[۱]

د سړې جګړې پر مهال هغو هېوادونو چې نه یې غوښتل د بلاکونو په منځ کې سیالۍ وکړي په نړیواله کچه یې د یو بې طرفه او ناپېیلي غورځنګ د رامنځته کولو هڅې پیل کړې چې د ۱۹۶۱ز.کال په ترځ کې یې د ناپېیلتوب غورځنګ رامنځته کړ، له دې دا موخه وه چې د درېیمې نړۍ د هېوادونو ترمنځ په بېلا بېلو اړخونو کې اړیکې و پالي او د مرستو پراختیا ته وده ورکړي.

افغانستان بیا هغه هېواد و چې د دې غورځنګ په رامنځته کولو کې یې فعاله ونډه درلوده او هغه پخوانۍ بهرنۍ پالیسي چې په بې طرفۍ ولاړه وه د لا پراختیا ورکولو لپاره نوره زمینه هم ورته برابره شوه. د افغانستان د بهرني سیاست بې طرفه پالیسي د محمد ظاهر له واکمنۍ څخه پیل وه چې سردار محمد داود خان هم په همدې لاره قدم ایښی و، خو په سردار محمد داود خان د کمونستانو کودتاه دا بې طرفي او ناپېیلتوب له منځه یوړ چې له هغه وروسته واکمنو خپل ځانونه ختیځ بلاک ته نږدې کړل او په دې سره نور د ناپېیلي غورځنګ غړو هېوادونو هغه باور چې پخوا یې پر افغانستان کاوه وروسته نه کاوه. افغانستان په لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه کې بې طرفه پاتې شو.[۲]

او له هغې وروسته له ۱۹۱۹- ۱۹۷۸ز.کلونو پورې دغه هېواد په نورو سیمه ییزو جګړو په ځانګړې توګه د هند او پاکستان ترمنځ په دریو جګړو کې بې طرفه پاتې شوی دی.[۳]

موږ په دې لیکنه کې په لنډه توګه سړه جګړه معرفي کړې او د سړې جګړې پر مهال مو د افغانستان د ناپېیلي بهرني سیاست ارزونه کړې او د سردار محمد داودخان د واکمنۍ ځانګړې مطالعه مو تر څېړنې لاندې نیولې او هم مو د ناپېیلو هېوادونو د غورځنګ موخو او اصولو ته لنډه کتنه کړې چې د لوستو بلنه یې درکوو.

## د څېړنې مبرمیت او اهمیت

په سیمه ییزه او نړیواله کچه د هېوادونو ترمنځ په جګړو او کړکیچونو کې افغانستان خپل بهرنۍ سیاست بې طرفه ساتلی، که څه هم د سترو ځواکونو او یا کوچنیو هېوادونو د خپلمنځي ستونزو په ترڅ کې د افغانستان مرستو ته ډېره اړتیا پیدا شوې، خو د سړې جګړې پر مهال د افغانستان واکمنو په جګړو کې د چا ننګه نه ده کړې او نه یې د دغه هېواد خاوره د داسې چا په واک کې ورکړې چې بل ته ترې زیان واړوي، د دغه هېواد ستراتیژیک موقیعیت ته په کتو څه ډول سیاست لازم و او دی په همدې اساس اړینه معلومه شوه چې د سړې جګړې پر مهال د افغانستان د ناپېیلي بهرني سیاست ارزونه وکړو او د سردار داودخان د واکمنۍ ځانګړې مطالعه تر څېړنې لاندې ونیسو چې دا زموږ لپاره له مبرمیت لرونکو موضوعاتو څخه ده او اهمیت یې په دې کې دی چې تېرو تجربو ته کتنه وکړو او د نن په سیاست کې ترې ګټه واخلو.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه دا ده چې د سړې جګړې پر مهال به د افغانستان بهرنۍ سیاست او د ناپېیلتوب غورځنګ څرنګوالی روښانه شي او هم به د افغانستان بې طرفه بهرنۍ سیاست و څېړل شي.

## د څېړنې پوښتنه

د سړې جګړې او د سردار محمد داودخان د واکمنۍ پر مهال د افغانستان بې طرفه بهرنۍ سیاست څه ډول و ؟

## د څېړنې مېتود

په دې څېړنه کې له تشریحي- تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## سړه جګړه

سړه جګړه هغه مهال رامنځته شوه کله چې دويمه نړیواله جګړه پای ته ورسیده، د دوېمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو سره سم نړۍ په دوو بلاکونو ختیځ او لویدېځ وویشل شوه چې د یوه مشري امریکا او د بل مشري شوروي اتحاد کوله.

دغو دواړو سترو قدرتونو خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له رواني او تبلیغاتي جګړې، اقتصادي سیالۍ، سیاسي مانورو، استخباراتي شبکو، تسلیحاتي مقابلې، نظامي تړونونو، د وسلو خرڅلاو او نورو څخه ګټه پورته کړه. شوروي غوښتل له دې لارې په ګټې اخیستنې په نړۍ کې د خپلې ایډیالوژۍ (کمونیزم) په خپرولو خپل پلویان زیات کړي، خو مقابل کې یې امریکا هم ورته غوښتنه درلوده او هڅه یې کوله چې (کپیټلېزم) ته ډېر پلویان پیدا کړي. دې سړې جګړې بېلا بېل پړاوونه ووهل چې په سیاسي تاریخونو کې پرې مفصل بحثونه شوي، خو د دغې جګړې لومړنۍ او مهم فکتور د امریکا او شوروي د رژیمونو له طبیعت څخه سرچینه اخیستې، یعني طبیعتاً دغه دوه رژیمونه یو له بل سره په ټکر کې و چې له امله یې د هغوی نظریو کپیټلیزم او کمونیزم لپاره هر اړخ د خپل رژیم د نړیوال کیدو په هڅه کې وو. دا هم ویلای شو چې سړه جګړه د دوو لویو قوتونو ترمنځ یوه تبلیغاتې مبارزه وه چې په مختلفو مکانیزمونو سره یې پر مخ وړه او په حقیقت کې دغه تبلیغات هغه مرمۍ وې چې یو د بل په وړاندې یې توغولې.

له دويمې نړیوالې جګړې وروسته دغو دوه ځواکونو ځانونه یو تر بل لوړ ګڼل او یو بل ته یې د اټومي وسلو په اساس ګواښونه متوجه کړي وو. په دې دوره کې دغو دوو ځواکونو خپلې وسلې پر نورو هېوادونو وپلورلې، سیمه ییزې جګړې یې وکړې او یا یې د تبلیغاتي جګړې له لارې په اسیا، افریقا او لاتیني امریکا کې کودتاګانې راولاړې کړې چې ددغو کړنو ګټه ببرته دغو دوو ځواکونو ته وه، چې یوه ستره نمونه یې د شمالي او جنوبي کوریا ترمنځ جګړه وه، چې د کمونیستي چین په مرسته یې له ۱۹۵۰ز.کال څخه تر ۱۹۵۳ز.کال پورې چې نژدې د دوه میلیونو انسانانو د منځه تللو باعث شوه په دوه برخو وویشل شوه. په داسې حال کې چې د

دوی تحریک کوونکو یعنې امریکا او شوروي اتحاد یوازې لوجیستکي مرستې کولې او خپله یو د بل پر وړاندې و نه دریدل.

سړې جګړې له ۱۹۵۰ز.کال وروسته دومره اهمیت پیدا کړ چې والتر لیپمن امریکایي ورځپاڼه لیکوونکي د باروک (یو ډول هنر دی چی رسامۍ کې ترې ګټه اخیستل کیږي او پیښه په انځور کې را کاږي) په مرسته یې په دې اړه یوه مقاله ولیکله او دا یې یوه دښمني پالونکي سوله وګڼله.(۴)

د سیاسي چارو شنونکي په دې اند دي چې دا سړه جګړه بیا هغه وخت پای ته ورسېده چې کله شوروي اتحاد په ۱۹۹۱ز.کال په افغانستان کې ماتې وخوړه، خو زموږ له نظره داسې نه ده اصلا سړه جګړه لا هم دوام لري او همدا سړه جګړه وه چې له امله یې شوروي اتحاد پر افغانستان پوځي تېری کړی و او وروسته امریکایانو ته هم زمینې برابرې شوې چې دوی هم په خپل وار افغانستان په پوځي ډول اشغال کړی و.

## افغانستان د ناپېیلتوب په دورو کې

افغانستان هغه هېواد دی چې له ځانګړي جغرافیایي موقعیت څخه برخمن دی، دې سیمې ته د نړیوالو سترو قدرتونو ډېره اړتیا پیدا کیږي چې یا د ځان د دفاع په توګه ترې ګټه واخلي او یا هم له دې ځای څخه بل و ګوابښي. کله چې لومړۍ نړیواله جګړه په شروع کېدو وه او د سترو قدرتونو په توګه شوروي او بریتانیا په سر کې و هر یو پرخپل وار له دې جغرافیې په تشویش کې و، خو هغه مهال افغان واکمنو په لومړۍ نړیواله جګړه کې داسې سیاست روښانه کړ چې بې طرفي بلل کېده، په دې سره متقابلو اړخونو ډاډ ترلاسه کړ چې افغانستان د هېڅ قدرت په ملاتړ کار نه کوي او په دې سره یې د افغانستان بې طرفي و منله.

ولې کله چې دویمه نړیواله جګړه رامنځته کېده بیا هم همدا ډول تشویشونه موجود و چې یو ځل بیا افغان واکمنو په جګړو کې د بې طرفۍ اصل په پام کې و نیوه چې سترو نړیوالو قدرتونو یې بې طرفي و منله او دوی په بریالیتوب سره د دویم ځل لپاره هم د بې طرفۍ اصلونه مراعات کړل.

وروسته له هغې چې نړۍ دوه قطبي شوه، ختیځ او لویدېځ بلاکونه رامنځته شول، سیمه ییز او نړیوال پوځي سازمانونه جوړ شول هر یو د ځان او هېواد لپاره

پرېکړې کولې چې کوم بلاک ته شامل شي او په کوم پوځي سازمان کې غړيتوب ترلاسه کړي. ولې د ځينو هېوادونو له مشرانو سره دا فکر و چې دربيمه لاره څه ده؟ داسې يوه لار چې نه د شرق نه د بلاک غړی شي او نه د غرب او نه هم د هېڅ يو بلاک په پوځي سازمانونو کې غړيتوب ترلاسه کړي. ربښتيا هم دا د يوه هېواد لپاره يو اساسي فکر و، داسې فکر چې له امله يې يو هېواد خپلواک پاتې کېدای شي او هم يې په وړاندې مخالفتونه نه رامنځته کېږي.

په هر صورت، دربيمه لار د بې طرفه هېوادونو په توګه را څرګندېدل و، له همدې له امله دا نظريه خپره شوه چې د ناپېيلو هېوادونو غورځنګ رامنځته شي، په دې اړه لومړنۍ هڅې په ۱۹۴۷ز.کال کې پيل شوې چې لومړنۍ کنفرانس يې په نوي ډيلي کې جوړ شو چې د ۲۳ هېوادونو استازو پکې ګډون کړی و او د کنفرانس موخه په اسيايي هېوادونو کې د مرستو رامنځته کول ښودل شوي و. په دې کنفرانس کې د کوربه  هندوستان لومړني وزير جواهر لعل نهرو پرانيستونکې وينا اورلې وه او ويلي يې وو: موږ غواړو پر خپلو پښو ودرېږو او د دې لپاره وړانديز کوو چې نور هېوادونه راسره مرستې وکړي. نوموړي دا هم زياته کړې وه چې نور نه غواړي څوک يې په سياستونو لوبې وکړي او اسيايي هېوادونه به له دې وروسته د نړيوالو چارو په اړه خپلې پاليسۍ تعقيب کړي.[۵]

دې کنفرانس په سياسي لحاظ پر فکرونو اغېزه وکړه او نور دا فکر ورځ تر بلې پياوړی کېده چې ناپيلتوب او بې طرفي هم د ژغورنې يوه لاره کېدای شي. په دې کنفرانس کې نظرونه تبادله شول، د بې طرفۍ او ناپيلتوب په اړه خبرې وشوې، دا چې دا لومړنۍ کنفرانس و په موضوع لومړنۍ خبرې وشوې او په دې اړه د هېوادونو تجربې نورو غونډو ته وغوښتل شوې.

په کنفرانس کې ياد شوي موضوعات شاته و نه غورځول شول، د هر هېواد استازي په خپلو برخو کې لازم کار ترسره کړ د يو او بل هېوادونه ته سفرونه هم وشول، خو د ۱۹۵۵ز.کال د اپريل پر ۱۸ د اندونيزيا په باندونګ ښار کې د دې کنفرانس يوه غونډه جوړه شوې وه چې د ۲۹ اسيايي او افريقايي هېوادونو استازو پکې برخه لرله، په دې غونډه کې هم پر مهمو موضوعاتو خبرې اترې شوې وې، بيا هم د هندوستان لومړي وزير جواهر لعل

نهرو دا غونډه تاریخي بللې وه، په دې غونډه کې د ناپیلتوب غورځنګ لپاره لس اصول هم وضع شوي و چې په تاریخ کې د باندونګ په نوم یادیږي او هغه لس اصول وروسته د دغه غورځنګ په اصلي موخو بدل شول او ځینې نور اصول هم ورعلاوه شول چې د دې غورځنګ چوکاټ یې بشپړ کړ.

## د ناپیلتوب غورځنګ اصول

۱- د ملګرو ملتونو په منشور کې ذکر شویو اصولو او حقونو ته درناوی.

۲- د دولتونو ځمکنۍ بشپړتیا او حاکمیت ته درناوی.

۳- ټول نژادونه، مذهبونه، کلتورونه او ملتونه که هغه کوچني وي او یا لوی مساوي او برابر ګڼل.

۴- د وګړو مذهبونو، د هغوی سمبولونو او ارزښتونو ته درناوی. تمدنونو، فرهنګونو او مذهبونو ترمنځ خبرو او پوهاوي ته پراختیا ورکول.

۵- ټولو بشري حقونو او اساسي ازادیو ته درناوی او پراختیا ورکول او د وګړو د سولې او پرمختګ حق په اغېزمنه توګه عملي کول.

٦- په ازاده توګه او د نورو دولتونو له مداخلې پرته د دولتونو له لوري د هغوی د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سیستمونو د ټاکلو حق پېژندلو ترڅنګ د دولتونو مساوي حقونو ته درناوی کول.

۷- د بهرني اشغال پر ضد او تر استعمار لاندې خلکو د خودارادیت په اړه د غورځنګ د اصولو اعتبار بیا ځلې تأئیدول.

۸- د دولتونو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه. هیڅ یو هېواد یا یوه ډله د بل هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه نشي کولای، که هغه مستقیم وي او یا نامستقیم.

۹- په ناقانوني توګه د حکومتونو د بدلېدو ردول.

۱۰- په هېوادونو کې د رژیمونو د بدلیدو لپاره د هڅو ردول.

۱۱- د نورو هېوادونو پر ضد په مستقیم او یا نامستقیم ډول د زور او قوې له کارولو څخه ډډه کول.

۱۲- له نړیوالو حقونو څخه د جدي او خطرناکو سرغړونو ردول چې د تیري کوونکې لپاره به نړیوال مسولیت له ځان سره ولري.

۱۳- د ملګرو ملتونو له منشور سره سم په انفرادي او ډله ییزه توګه له ځان څخه د دفاع حق ته درناوی ورکول.
۱۴- د نسلوژنې، جنګي جرمونو، بشري ضد جرایمو او په سیستماتیک او پراخ ډول له بشري حقونو څخه سرغړونه د ملګرو ملتونو سازمان د منشور او نړیوالو حقوقو له مخې غندل.
۱۵- د ترهګرۍ له هر ډول او شکل سره که د هر چا له لورې، هر چیرې او د هر ډول موخو لپاره وي مخالفت کول او د هغې ردول او ترهګري د نړیوالې سولې او امنیت لپاره جدي ګواښ ګڼل.
۱٦- له ډموکراسۍ څخه دفاع کول او د دې خبرې تأئیدول چې ډموکراسي یو نړیوال ارزښت دی چې له مخې یې خلک سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي سیستم غوره کوي او د ژوند په ټولو برخو کې په بشپړه توګه برخه اخلي.
۱۷- د دوه اړخیزو درناویو او مساوي حقوقو له مخې د دولتونو د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو سیستمونو په پام کې نیولو پرته د مشترکو او ګډو ګټو عدالت او همکارۍ ساتنه او وده ورکول.
۱۸- په هر ډول شرایطو کې یووالی او اتحاد د ملتونو ترمنځ د اړیکو د اصلي برخې او عنصر په توګه ګڼل.
۱۹- د هېوادونو او خلکو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي توپیرونو ته درناوی.[٦]

## د ناپېیلتوب غورځنګ موخې

۱- څو اړخیز توب او د ملګر ملتونو رول ته پراختیا ورکول.
۲- د مخ پر ودو هېوادونو ترمنځ د یو سیاسي همغږي کوونکي بنسټ په توګه رول ترسره کول او د نړیوالو اړیکو په سیستم کې د هغوی له ګډو ګټو څخه دفاع کول.
۳- د ګډو ارزښتونو او لومړیتوبونو له مخې د مخ پر ودو هېوادونو تر منځ د یووالي همغږۍ او نظم پیاوړي کول.
۴- له نړیوالې سولې او امنیت څخه دفاع کول او د ملګرو ملتونو د منشور له اهدافو او نړیوالو حقوقو سره سم او په سوله ییزه توګه د ټولو نړیوالو شخړو حلول.

۵- د نړیوالو حقونو د اصولو له مخې د ټولو ملتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو او همکاریو هڅول، په ځانګړې توګه په هغو برخو کې چې د ملګرو ملتونو له منشور څخه یې الهام اخیستی وي.
٦- د نړیوالې همکارۍ له لارې د دایمي پراختیا هڅول او هغې ته وده ورکول او په ګډه د سیاسي ستراتیژیو عملي کول چې له مخې یې په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې د نړیوالو مساوي شرایطو او فرصتونو او د مختلفو مسولیتونو له مخې د ټولو هېوادونو که غریب وي او یا شتمن بشپړ ګډون تضمین او پیاوړي کول.
۷- د عینیت، بې طرفۍ او نه غوراوي د اصولو له مخې د تولو بشري حقونو او اساسي ازادیو هڅول، درناوی، ساتنه او په بشري حقونو پورې د اړوندو مسلو له سیاسي کولو څخه ډډه کول او د دې تضمینول چې د افرادو او خلکو د پرمختګ د حق په ګډون بشري حقوق باید په یو مساوي حالت کې پیاوړي او وساتل شي.
۸- د ملتونو د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو سیستمونو په پام کې نیولو پرته د هغوی ترمنځ سوله ییز ژوند ته پراختیا ورکول.
۹- د یو اړخیز توب د ټولو شکلونو او په نړیوالو اړیکو کې د تسلط پیدا کولو په موخه د هر ډول هڅو محکومول.
۱۰- د نړیوالې سولې او امنیت پر ضد له ګواښونو لکه له زور او تیري کوونکیو کړنو څخه ګټه اخیستل، بهرنی استعمار او اشغال او د هر هېواد او یا هېوادونو له لوري د سولې تر پښو لاندې کولو پر وړاندې د اقداماتو او ستراتیژیو همغږي کول.
۱۱- په منشور کې له ټاکل شوي ځواک او دندو سره سم عمومي اسمبلۍ ته د رول ورکولو له لارې د ملګرو ملتونو د سازمان پیاوړتیا او دموکراتیک کېدو ته پراختیا ورکول او د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا هر اړخیز سمون ته پراختیا ورکول په داسې ډول چې په شفافو او منصفانه شرایطو کې د منشور له لوري ورکول شوی رول د یو داسې بنسټ په توګه چې د نړیوالې سولې او امنیت د ساتلو دنده پر غاړه لري ترسره کړي.
۱۲- له توپیر پرته او د نړیوالې اټومي بې وسلې کولو د هڅونې او د یو اغېزمن او نړیوال کنټرول لاندې عمومي بې وسلې کولو ته دوام ورکول، په بشپړه توګه د اټومي

وسلو د له منځه وړلو لپاره د یو حو پړاو لرونکي پروګرام رامنځته کول چې له مخې به یې په یو ځانګړي زماني چوکاټ کې د اټومي وسلو د له منځه وړلو او د هغو د پراختیا، تولید، ترلاسه کولو، ساتلو، لېږدولو او ګټې اخیستلو د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره کار صورت ونیسي.

۱۳- په غېر عادلانه توګه په ښو او بدو د هېوادونو له وېش او له هستوي برید سره چې له بین المللي حقوقو سره په ټکر کې وي مخالفت کول او د هغې محکومول او د ناپېیلو هېوادونو د حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ پر وړاندې له یو اړخیزو پوځي اقداماتو زور او ګواښ څخه ګټې اخیستلو سره مخالفت کول او د هغې محکومول.

۱۴- د بې وسلې کولو په اړه د عمومي اسمبلۍ د لومړنۍ ځانګړې غونډې د وروستي سند د مقرراتو او پر ۱۹۹۹ز.کال د ملګرو ملتونو سازمان د بې وسلې کولو کمیسیون له لوري په منځني ختیځ کې له اټومي وسلو څخه د پاکې سیمې د رامنځته کولو په موخه د تصویب شویو اصولو له مخې د هېوادونو ترمنځ له توافقاتو سره د دولتونو د یو ځای کېدو په برخه کې هلې ځلې له اټومي وسلو څخه د پاکو سیمو رامنځته کول او د بې وسلې کولو او اټومي وسلو د نه خپرېدو په برخه کې یو مثبت اقدام ګڼل کېږي.

۱۵- له اټومي انرژۍ څخه د سوله ییزې ګټې اخیستنې په موخه نړیوالو همکاریو ته پراختیا ورکول او د سوله ییزو موخو لپاره چې د مخ پر ودو هېوادونو لپاره اړینې دي د اټومي ټکنالوژۍ وسایلو او توکو ته لاسرسی اسانول.

